# د څلورو امامانو عقیده

﴿ ابو حنیفهؒ، مالکؒ، شافعیؒ او احمدؒ ﴾

مؤلف : ــــــ ډاکټر محمد بن عبد الرحمٰن الخمیس

...... مترجم ......

مولانا حضرت علی حنفی ابن حاجی هادی غفر له الباری

﴿ ناشر ﴾

اعراف پبلشرز

محله جنګی پیښور ښار

موبائل نمبر : 0300_5945568

دا کتاب د عقيدې د کتابخانې سايت
نه داونلود شوی دی.

www.aqeedeh.com/pa

برښنا ليک: book@aqeedeh.com

د موحدينو ګروپ ويب پاڼو

www.mowahedin.com
www.aqeedeh.com
www.videofarsi.com
www.islamtxt.com
www.zekr.tv
www.shabnam.cc
www.mowahed.com
www.sadaislam.com

contact@mowahedin.com

په عقيدې سايت کې ددغه کتاب خپرول،
دهغه د ټولو محتواوو سره دسايت د همغږۍ
په معنا نه ده.

بسم اللہ الرحمن الرحیم

جمله حقوق په حق دَ ناشر محفوظ دی

دَ کتاب نوم .................... دَ ثلورو اِمامانو عقیده

مؤلف ........... ډاکټر محمد بن عبد الرحمٰن الخمیس

مترجم .................... مولانا حضرت علی حنفی

زیرِ اهتمام .................... ایاز اللہ ترکزیٔ

ناشر

اعراف پبلشرز

محله جنګی پیښور ښار

موبائل نمبر : 0300-5945568

# فهرستِ مضامین



| صفحه | مضمون |
|---|---|
| ۱ | مقدمه |
| ۳ | اولني مبحث : ددې خبرې بيان چه دَ ايمان نه علاوه دَ أصولِ دين باقی مسائلو کښې دَ ائمۀ اربعه عقيده يوه ده |
| ۷ | دويم مبحث : دَ امام ابو حنيفه رحمة الله عليه عقيده |
| ۷ | الف : دَ توحيد په باره کښې دَ امام ابو حنيفهؒ اقوال : |
| ۱٦ | ب : دَ تقدير په باره کښې دَ امام اعظم ابو حنيفهؒ اقوال : |
| ۲۱ | ج : دَ ايمان په باره کښې دَ امام اعظمؒ اقوال : |
| ۲۲ | د : دَ صحابۀ کرامو رضي الله عنهم په باره کښې دَ امام اعظمؒ قول : |
| ۲۳ | خ : په دين کښې دَ کلام او خصوماتو په باره کښې دَ امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله اقوال : |
| ۵۳ | دريم مبحث : دَ امام مالك بن انسؒ عقيده |
| ۵۳ | الف : دَ توحيد په باره کښې دَ دوی اقوال : |
| ۵۸ | ب : دَ تقدير په باره کښې دَ هغویؒ قول : |

| | |
|---|---|
| ج : دَ ایمان په باره کښې دَ هغوی ؒ اقوال : | ٦١ |
| د : دَ صحابهٔ کرامو په باره کښې دَ امام مالك رحمه الله اقوال : | ٦٢ |
| خ : په دین کښې دَ کلام او خصوماتو نه دَ هغوی ؒ ممانعت : | ٦٥ |
| څلورم مبحث : دَ امام شافعي رحمه الله عقیده | ۷۰ |
| الف : دَ توحید په باره کښې دَ امام شافعي ؒ قول | ۷۰ |
| ب : دَ تقدیر په باره کښې دَ هغوی قول : | ۸۱ |
| ج : دَ ایمان په باره کښې دَ هغوی ؒ قول : | ۸۳ |
| دَ :صحابهٔ کرامو په باره کښې دَ امام شافعي ؒ اقوال : | ۹۵ |
| خ : په دین کښې دَ خبرو او جنګ جګړو نه دَ امام شافعي ؒ ممانعت : | ۹۷ |
| پنځم مبحث : دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله عقیده | ۱۰۰ |
| الف : دَ توحید په باره کښې دَ هغوی ؒ اقوال : | ۱۰۰ |
| ب : دَ تقدیر په باره کښې دَ امام احمد ؒ قول : | ۱۰۴ |
| ج : دَ ایمان په باره کښې دَ امام احمد ؒ قول : | ۱۰٦ |
| د : دَ صحابهٔ کرامو ؓ په باره کښې دَ امام احمد ؒ قول : | ۱۰۸ |
| خ : په دین کښې دَ خصومات او کلام نه دَ هغوی ؒ ممانعت : | ۱۱۰ |

# مُقدّمة

" ان الحمد لله رب العالمين ، نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سيأت اعمالنا ، من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادى له واشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريك له واشهد ان محمدا عبده ورسوله . "

﴿ يٰـاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوْا اللّٰهَ حَقَّ تُقَاتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُسْلِمُوْنَ () ﴾" ۱ـ

يٰـاَيُّهَاالنَّاسُ اتَّقُوْارَبَّكُمُ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَازَوْجَهَاوَبَثَّ مِنْهُمَارِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَآءً وَاتَّقُوااللّٰهَ الَّذِىْ تَسَآءَ لُوْنَ بِهٖ وَالْاَرْحَامَ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا () ﴾ ۲ـ

﴿ يٰـاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوْا اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا () يُصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْلَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَمَنْ يُّطِعَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴾ ۳ـ

.........................................

۱ـ سورة آل عمران : آيت ۱۰۲ .

۲ـ سورة النسآء : آيت ۱ .

۳ـ سورة الاحزاب : آيت ۷۰، ۷۱ .

اما بعد ! ما دَ امام اعظم ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد باندې دَ اصولِ دين په موضوع باندې دَ ډاکټريټ دَ ډګرۍ حاصلولو دپاره يو مفصل بحث تيار کړې وو ، او په مقدمه کښې مې دَ باقی ائمه ثلاثه مالك ، شافعی او دَ احمد دَ عقيدې تلخيص هم شامل کړې وو ، په دې باندې بعضِ فضلاؤ زما نه طلب اوکړو چه ددې دريو واړو ائمه ؤ عقيده جُدا ذکر کړم ، ليکن ما دَ ائمهٔ اربعه دَ عقيدې دَ تکميل پيشِ نظر دا خبره مناسب اوګڼړله چه دَ کتاب په مقدمه کښې ما څۀ ذکر کړې وو چې ـه دَ هغې سره ددې بحث هم تلخيص شامل کړم چه په هغې کښې ما دَ توحيد وتقدير او دَ ايمان وصحابهٔ کرامو په باره کښې دَ امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله عقيدې او دَ علم کلام په باره کښې مې دَ هغوی موقف په بسط سره بيان کړې دې .

خاص دَ الله تعالیٰ نه سوال دې چه هغۀ دا عمل دَ خپل ذات دپاره خالص اوګرځوی او مونږ ټولو ته په خپل کتاب او دَ خپل رسول ﷺ په سنتو باندې دَ تللو توفيق رانصيب کړی ، او الله تعالیٰ زمونږ دپاره کافی دې او بهترين کار ساز دې .

محمد بن عبد الرحمٰن الخميس

★ ..... ★ ..... ★ ..... ★ ..... ★ ..... ★ ..... ★ ..... ★

★ ..... ★ ..... ★ ..... ★ ..... ★ ..... ★

★ ..... ★ ..... ★

# ﴿ اولنۍ مبحث ﴾

## ددې خبرې بيان چه دَ ايمان نه علاوه دَ اصولِ دين باقي مسائلو کښې دَ ائمۀ اربعه عقيده يوه ده

## څلور اِمامان :

دَ ابو حنيفه ، مالك ، شافعي او احمد رحمهم الله عقيده هم هغه ده کومه چه قرآن او سنت بيان کړې ده ، او په کومه عقيده باندې چه صحابۀ کرام رضوان الله تعالیٰ عليهم اجمعين او تابعينِ کرام وو ، الحمد لِله ددې ائمه ؤ په درميان کښې په اصولِ دين کښې هيڅ نزاع نشته ، بلکه دا حضرات دَ الله تعالیٰ په صفاتو باندِ ايمان راؤړلو کښې متفق دی ، او په دې باندې هم چه قرآن مجيد دَ الله جل شانه کلام دې ، مخلوق نۀ دې ، او په دې باندې هم چه په ايمان کښې دَ زړۀ او دَ ژبې تصديق ضروری دې ، او دې حضراتو به په اهلِ کلام جهميه وغيره باندې نکير کولو کوم چه دَ يونانی فلسفې او کلامی مذاهبو نه متاثره وو ، شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله فرمائی :

" ليکن په بندګانو باندې دا دَ الله تعالیٰ رحمت دې چه دَ کومو ائمه ؤ دپاره په امت کښې دننه ژبه صدق دې ، لکه ائمۀ اربعه وغيره ........ دا ائمه په اهلِ کلام جهميه باندې دَ قرآن او ايمان او دَ صفاتِ رب په باره کښې دَ هغوی په اعتقاداتو باندې تنقيد کوی ، او دَ

سلفو په دې خبره باندې متفق وو چه الله تعالیٰ به په آخرت کښې ليدلې شی او قرآن مجيد دَ الله تعالیٰ کلام دې ، مخلوق نۀ دې او په ايمان کښې دَ زړۀ او دَ ژبې تصديق ضروری دې . ١ـ

او دا هم وائی :

" مشهور ائمه ټول په دې باندې دَ الله جل شانه صفات ثابت منی ، او وائی چه قرآن مجيد دَ الله جل شانه کلام دې ، مخلوق نۀ دې ، او وائی چه الله تعالیٰ به په قيامت کښې ليدلې شی ، هم دا دَ صحابۀ کرامو رضوان الله تعالیٰ عليهم اجمعين مذهب دې ، او هم دا دَ هغوی دَ تابعينِ کرامو يعنی اهلِ بيت وغيره مذهب دې ، او هم دا دَ ائمۀ متبوعين مثلًا مالك بن انس ، ثوری ، ليث بن سعد ، اوزاعی ، ابو حنيفه ، شافعی او دَ احمد رحمهم الله مذهب دې . ٢ـ

او دَ شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله نه دَ امام شافعی رحمه الله دَ عقيدې په باره کښې سوال اوکړې شو نو هغوی ورته دا جواب ورکړو :

" دَ امام شافعی رحمه الله عقيده او دَ سلفِ امت لکه مالك ، ثوری ، اوزاعی ، ابن مبارك ، احمد بن حنبل او دَ اسحاق بن راهويه رحمهم الله عقيده هم هغه ده کومه چه دَ هغه خلقو عقيده ده چه دَ

..................................................

١ـ کتاب الايمان ص : ٣٥٠ ، ٣٥١ ، دار الطباعة المحمديه ، تعليق : محمد الهراس .

٢ـ منهاج السنة ٢ / ١٠٦ .

هغوی اقتداء کولې شی ، مثلًا فضیل بن عیاض ، ابو سلیمان دارانی ، او سهل بن عبد الله تستری وغیره . ځکه چه په دې ائمهٔ کرامو او دَ دوی په شان اهلِ علم کښې په اصولِ دین کښې څهٔ نزاع نشته دې . او هم دا معامله دَ امام ابو حنیفه رحمه الله هم ده ، ځکه چه په توحید او تقدیر وغیره کښې دَ هغوی نه کومه عقیده ثابته ده هغه ددې خلقو دَ عقیدې سره موافق ده ، او ددې حضراتو عقیده هم هغه ده په کومه عقیده باندِ چه صحابهٔ کرامو او تابعین باحسان وو ، او دا هم هغه عقیده ده کومه چه قرآن او سنت بیان کړې ده . ۱ـ

هم دا خبره علامه صدیق حسن خان هم اختیار کړې ده ، هغهٔ وائی :

" زمونږ او دَ سلفو مذهب دادې چه اثبات بلا تشبیه او تنزیه بلا تعطیل . " او هم دا دَ ائمهٔ اسلام مثلًا مالك ، ثوری ، شافعی ابن مبارك امام احمد وغیره مذهب دې ، ددې ائمهٔ اسلام په درمیان کښې دَ اصولِ دین په باره کښې هیڅ نزاع نشته ، او هم دارنګه امام ابو حنیفه رحمه الله دې ، ځکه چه دَ دوی نه کومه عقیده ثابته ده هغه ددې حضراتو دَ عقیدې مطابق ده ، او دا هم هغه عقیده ده کومه چه کتاب او سنت بیان کړې ده . ۲ـ

..............................

۱ـ مجموع الفتاوی ۵ / ۲۵٦ .

۲ـ قطف الثمر ص ۴۷ ، ۴۸ .

پو هه شئ ! چه ائمهٔ متبوعین ، ابو حنیفه ، مالك ، شافعی او احمد رحمهم الله تعالیٰ چه په اصولِ دین کښې کومه عقیده لری ، اودَ علم کلام په باره کښې چه دَ هغوی کوم موقف دي دَ هغې په تعلق سره دَ هغوی دَ اقوالو یو مجموعه اولولئ . !

★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★

★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★ ...... ★

★ ...... ★ ...... ★ ...... ★

★ ...... ★ ...... ★

★ ...... ★

★

# ﴿ دويم مبحث ﴾

## دَ امام ابو حنيفه رحمة الله عليه عقيده

### الف : دَ توحيد په باره کښې دَ امام ابو حنيفهؒ اقوال :

### اولاً : دَ الله تعالىٰ توحيد ، دَ شرعى توسل بيان او دَ بدعى توسل دَ ابطال په باره کښې دَ هغوىؒ عقيده :

﴿۱﴾ ...... امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائيلى دى : " دَ هيچا دپاره درست نۀ دى چه هغۀ دَ الله تعالىٰ نه دُعا غوارى مګر هم دَ هغۀ په واسطه سره ، او چه دَ کومې دُعا اجازت دې او دَ کومې دُعا چه حکم دې دا هم هغه ده کوم چه دَ الله تعالىٰ ددې قول مبارك نه مستفاد ده :

" ولله الاسمآء الحسنىٰ فادعوه بها وذروا الذين يلحدون في اسمآئه سيجزون ما كانوا يعملون " ۱ـ

( او دَ الله تعالىٰ دپاره خائسته نومونه دى ، پس په هغې سره ئې رابلئ او هغه خلق پريږدئ کوم خلق چه دَ هغۀ په نومونو کښې الحاد کوى ، هغوى چه څۀ کوى دَ هغې بدله به ورته زر تر زره ملاؤ شى . " ) ۲ـ

..............................................

۱ـ سورة الاعراف : آيت ۱۸۰ . ۲ـ الدر المختار مع حاشيه رد المختار

﴿۲﴾ ...... امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائی : " مکروهه دی چه دُعا کوُنکی داسې اووائی چه زهٔ په حق دَ فلانکی ، یا په حق دَ انبیاء ورسل ، یا په حق دَ بیت الحرام او مشعر الحرام ستا نه سوال کوم ." ۱ـ

﴿۳﴾ ...... او امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائیلی دی : دَ هیچا دپاره درست نهٔ دی چه هغهٔ دَ الله جل شانه نه دُعا اوغواړی مګر هم دَ هغهٔ په واسطه سره ، او زهٔ دا هم مکروه ګنړم چه دُعا کوُنکی داسې اووائی چه ستا دَ عرش دَ عزت دَ بندش ګاه په واسطه ، ۲ـ

..........................................

۱ـ شرح العقیده الطحاویه ص : ۲۳۴ ، اتحاف السادة المتقین ۲ / ۲۵۸ ، شرح الفقه الاکبر ملا علی قاری ؒ ص ۱۹۸ .

۲ـ امام ابو حینفه رحمه الله او محمد بن حسن دا خبره مکروه ګرځولې ده چه بنده په خپله دُعا کښې داسې اووائی چه " یا الله ! زهٔ ستا نه ستا دَ عرش دَ عزت دَ بندش ګاه په واسطه سره سوال کوم ، ځکه چه ددې دَ اجازت په باره کښې هیڅ نص ثابت نهٔ دیٓ . البته ابو یوسف دې ته جائز وئیلی دی ځکه چه هغویٓ ته په سنت کښې ددې نص ملاؤ شوې وو ، چه په هغې کښې دادی چه رسول الله ﷺ دا دُعا فرمائیلی وه چه " اې الله ! زهٔ ستا نه ستا دَ عرش دَ عزت دَ بندش ګاهونو ، او ستا دَ کتاب دَ منتهائے رحمت په واسطه سره سوال کوم . "

دا حدیث بیهقی په کتاب الدعوات الکبیر کښې روایت کړې دې لکه څنګه چه بنایه ۹/ ۳۸۲ ، او نصب الرایه ۴/ ۲۷۲ کښې دی ، مګر ددې په سند کښې درې خامئ دی : (۱) داؤد بن عاصم دَ ابن مسعود نه سماع نهٔ ده کړې . (۲) عبد الملك بن جریج مدلس دې او هغهٔ ارسال کوی . (۳) عمر بن هارون په .......

یا په حق ستا دَ مخلوق ( ستا نه دُعا غوارم ) ١ـ

## ثـانیًـا : دَ صفـاتو اثبـات او دَ جهمیـه پـه رَد کښې دَ هغوی قول :

﴿۴﴾ ...... او هغـوی فـرمـائیـلـی دی : چـه الـلـه تعالیٰ لره به دَ مخلوق په صفاتو سره نهٔ شی متصف کولې ، دَ الله تعالیٰ غضب او دَ هغـهٔ رضـاء بـلا کیف دَ هغـهٔ دوه صـفـتـه دی ، او هم دا دَ اهلِ سنت والجماعت قول دې . الله تعالیٰ غضبناك او راضی کیږی ، لیکن دا به نـهٔ شـی وئیـلـی کیدې چه دَ هغهٔ غضب دَ هغهٔ عقوبت دې ، او دَ هغهٔ رضـاء دَ هـغـهٔ ثـواب دې . او مـونږ به الله تعالیٰ هم هغه شان متصف کوو لکه څنګه چه ئې خپله خپل ځان متصف کړې دې . هغهٔ یو دې ، بې نیـاز دې ، نـهٔ دَ هـغـهٔ اولاد شتـه او نـهٔ خپله دَ چا اولاد دې ، او نهٔ دَ هـغـهٔ څوك همسر شتـه ، هغهٔ ژوندې دې ، قادر دې ، اوریدونکی دې ، لیـدونـکـی دې ، عـالم دې ، دَ الله تعالیٰ لاس دَ هغوی دَ لاسونو دپاسه دې ، او دَ الـلـه تـعالیٰ لاس دَ مخلوق دَ لاس په شان نهٔ دې ، او دَ الله مخ

......................................................

...... دروغـو سره متهم دې ، ددې وجې نه ابن جوزی رحمه الله لیکلی دی ، لکه څـنګه چه په بنایه ۹ / ۳۷۲ ، کښې دی ، چه دا حدیث بیشکه موضوع دې ، او ددې سند ضعیف دې ، لکه څنګه چه تاسو اوکتل .

اوګـورئ تهـذیـب التهـذیـب ۳ / ۱۸۹ ، ٦/ ۲۰۵ ، ۷/ ۵۰۱ ، تـقـریـب التهذیب ۱ / ۵۲۰ .

١ـ التوسل والوسیلة ص ۸۲ ، او اوګورئ شرح الفقه الاکبر ص ۱۹۸ .

مبارك دَ مخلوق دَ مخ په شان نهٔ دې .۱ـ

﴿۵﴾ ...... او امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائی : " دَ هغهٔ دپاره لاس ، مخ او نفس دې ، لکه څنګه چه الله تعالیٰ په قرآن مجید کښې دا بیان کړې دی ، او کوم څیز چه الله تعالیٰ په قرآن مجید کښې بیان کړې دې یعنی دَ مخ ، لاس او دَ نفس ذِکر نو دا بِلا کیف دَ الله صفات دی . او دا بـه نـهٔ شی وئیلی کیدې چه دَ هغهٔ لاس دَ هغهٔ قدرت یا نعمت دې ، ځکه چه په دې کښې دَ صفت ابطال دې ، او دا دَ منکرینِ تقدیر او دَ معتزله قول دې . " ۲ـ

﴿٦﴾ ...... او امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائیلی دی " دَ چا دپاره هم درست نهٔ دی چه دَ الله تعالیٰ دَ ذات په باره کښې څهٔ هم اووائی ، بلکه هغهٔ دې هم په هغه صفت سره متصف کړی ، په کوم سره چه ئې خپله خپل ځان متصف کړې دې ، او دَ هغې په باره کښې دې خپلې رائې سره هیڅ نهٔ وائی ، الله رب العٰلمین بابرکت او بلند تر دې . " ۳ـ

﴿۷﴾ ...... او کله چه دَ نزولِ الٰهی په باره کښې دَ امام ابو حنیفه رحمه الله نه تپوس اوکړې شو نو هغوی ورته په جواب کښې اووئیل

..........................................

۱ـ الفقه الابسط ص ۵٦ .

۲ـ الفقه الاکبر ص ۳۰۲ .

۳ـ شرح العقیدة الطحاویه ۲/ ۴۲۷ . تحقیق : ډاکټر عبد الله ترکی ، جلاء العینین ص ۳٦۸ .

" هغهٔ بلا کيف نازليږي . " ۱ـ

﴿۸﴾...... او امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائيلي دی " الله تعالیٰ ته به بره طرف ته ( توجه کولو سره ) آواز کولې شي ، دَ لاندې طرف نه نهٔ ، ځکه چه لاندې کيدل دَ ربوبيت او الوهيت دَ وصف سره هيڅ تعلق نهٔ لری . " ۲ـ

﴿۹﴾ ...... او فرمائيلي ئې دی : " الله تعالیٰ غصه او راضی کيږی ، مګر دا به نهٔ شی وئيلی کيدې چه غصه دَ هغهٔ عقوبت دې او رضاء ئې ثواب دې . " ۳ـ

﴿۱۰﴾ ...... او امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائيلي دی " الله تعالیٰ دَ خپل مخلوق په څيزونو کښې دَ هيڅ يو څيز سره مشابه نهٔ دې ، او دَ خپل مخلوق هم مشابه نهٔ دې . هغهٔ دَ خپلو نومونو او صفاتو سره هميشه دپاره وو او هميشه به موجود وی . " ۴ـ

﴿۱۱﴾ ...... او امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائيلي دی : " دَ الله

..................................................................

۱ـ عقيدة السلف اصحاب الحديث ص ۴۲ ، طبع : دار السلفيه ، الاسمآء والصفات بيهقی ص ۴۵۶ ، کوثری په دې بانډِ سکوت اختيار کړې دې ، او شرح العقيدة الطحاويه ۲۴۵ ، تخريج البانی ، شرح الفقه الاکبر للقاری ص ۶۰ .

۲ـ الفقه الابسط ص ۵۱ .

۳ـ الفقه الابسط ص ۵۶ ، دَ کتاب محقق کوثری په دې باندې سکوت اختيار کړې دې .

۴ـ الفقه الاکبر ص ۳۰۱ .

تعالیٰ صفات دَ مخلوق دَ صفاتو نه خلاف دی ، الله تعالیٰ پو هیږی مګر زمونږ دَ پو هې په شان نهٔ ، او هغهٔ قدرت لری مګر زمونږ دَ قدرت په شان نهٔ ، هغهٔ لیدل کوی مګر زمونږ دَ لیدلو په شان نهٔ ، هغهٔ آوری مګر زمونږ دَ آوریدو په شان نهٔ ، هغهٔ کلام کوی مګر زمونږ دَ خبرو په شان نهٔ . " ۱ـ (یعنی دا تمام صفات دَ الله تعالیٰ دَ هغهٔ دَ شان مطابق دی . )

﴿۱۲﴾...... او امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائی : " الله تعالیٰ به دَ مخلوق په صفاتو سره متصف کولې نهٔ شی . " ۲ـ

﴿۱۳﴾...... او امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائی :" چا چه الله تعالیٰ لره دَ بشر دَ معنو نه په یوې معنیٰ سره متصف کړو نو هغهٔ کفر اوکړو . " ۳ـ

﴿۱۴﴾...... او فرمائی چه " دَ الله تعالیٰ ذاتی او فعلی صفات دی . ذاتی صفات ئې حیات ، قدرت ، علم ، کلام ، سمع ، بصر او اراده دی . او فعلی صفات ئې دادی : پیدا کول ، روزی ورکول ، موجود کول ، بغیر دَ څهٔ سابقه ماده او نمونې نه یو څیز په وجود کښې راوستل ، او ددې نه علاوه نور صفاتِ فعل . او الله تعالیٰ همیشه ګپاره دَ خپلو

..........................................

۱ـ الفقه الاکبر ص ۳۰۲ .

۲ـ الفقه الابسط ص ۵٦ .

۳ـ العقیدة الطحاویه بتعلیق البانی ص ۲۵ .

صفاتو او آسماؤ سره دي او هميشه به وی ." ۱ـ

﴿۱۵﴾ ...... او امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائيلی دی : " الله تعالیٰ دَ خپل فعل سره همشيه دپاره کؤنکی دې ، او فعل ازلی صفت دې ، او فاعل الله تعالیٰ دې . او فعل ازلی صفت دې او مفعول مخلوق دې ، او دَ الله تعالیٰ فعل مخلوق نۀ دې ." ۲ـ

﴿۱٦﴾ ...... او امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائيلی دی : " کوم يو کس چه داسې اووائی چه زۀ دَ خپل رب په باره کښې نۀ پوهيږم چه هغۀ په آسمان کښې دې يا په مزکه کښې ؟ نو هغۀ کفر اوکړو ، او دارنګه هغۀ کس هم چه هغۀ دا اووائی چه الله په عرش باندې دې ليکن ماته پته نشته دې چه آيا عرش په آسمان کښې دې يا په مزکه کښې ." ۳ـ

﴿۱۷﴾ ...... او يوې ښځې دَ امام اعظم رحمه الله نه پوښتنه اوکړه چه دَ کوم رب تاسو عبادت کوئ هغۀ چرته دې ؟ نو ددې په جواب کښې ورته امام اعظم رحمه الله اوفرمائيل : " الله سبحانه

..........................................

۱ـ الفقه الاکبر ص ۳۰۱ .

۲ـ الفقه الاکبر ص ۳۰۱ .

۳ـ الفقه الابسط ص ۴٦ ، او ددې په مثل په مجموع الفتاوٰی کښې شيخ الاسلام ابن تيميه ( ۵ / ۴۸ ) . ابن القيم په اجتماع الجيوش الاسلاميه ص ۱۳۹ کښې . او امام ذهبی په العلوص ، ص ۱۰۱ ، ۱۰۲ کښې . ابن قدامه په العلوص ۱۱٦ کښې ، او ابن ابی العز په الطحاويه ص ۳۰۱ کښې نقل کړې دی .

وتـعـالیٰ پـه آسمان کښې دې . په دې باندې یو کس اووئیل چه دَ الله تعالیٰ خو دا قول دې ﴿ وَهُوَ مَعَكُمْ ﴾ ۱ـ

( الـلـه تـعـالـیٰ لـه تاسو سره دې ) نو امام اعظم رحمه الله ورته اوفـرمـائیـل چـه دا هم داسې ده لکه چه ته چاته دا اولیکې چه زهٔ له تا سره یم حالانکه تهٔ دَ هغهٔ نه غائب ئې . " ۲ـ

﴿ ۱۸ ﴾...... فـرمـائی چه " دغه شان دَ الله تعالیٰ لاس دَ هغوی دَ لاسـونو دپاسه دې ، لیکن دَ الله لاس دَ مخلوق دَ لاس په شان نهٔ دې . " ۳ـ

﴿۱۹﴾...... او امـام اعـظـم ابـو حنیفه رحمه الله فرمائیلی دی " بیشـکه الله تعالیٰ په زمکه باندې نهٔ دې ، بلکه په آسمان باندې دې . پـه دې بـاندې دَ هغوی نه چا تپوس اوکړو چه دَ الله تعالیٰ قول مبارك دې ﴿ وَهُوَ مَعَكُمْ ﴾ ۴ـ ( الـلـه تـعـالـیٰ تـاسو سره دې ) نو هغوی اوفـرمـائیـل : دا هم داسې ده لکه څنګه چه تاسو چاته دا اولیکئ زهٔ له تـاسـو سره یم ، او حال دادې چه تهٔ ترې نه غائب ئې " ۵ـ ( یعنی الله جـل شـانـه پـه آسـمـان کښې په عرش باندې دې لیکن دَ عظیم قدرت خـاونـد دې پـه مـزکـه کښـې پـه هـر څیـز قـادر دې ګویا چه په مزکه او آسمانونو کښې په هر وخت کښې دَ الله قدرت موجود دې از مترجم )

۱ـ سورة الحدید : آیت نمبر ۴ — ۲ـ الاسماء والصفات ص ۴۲۹

۳ـ الفقه الابسط ص ۵٦ . — ۴ـ سورة الحدید : آیت ۴ .

۵ـ الاسماء والصفات ۲ / ۱۷۰ .

﴿۲۰﴾ ...... او امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائي چه الله تعالىٰ دَ حضرت موسىٰ عليه السلام سره کلام نۀ وو کړي او بيا هم هغۀ متکلم وو. "۱۔

﴿۲۱﴾ ...... او فرمائي چه " الله تعالىٰ دَ خپل کلام سره متکلم وو او کلام دَ هغۀ ازلي صفت دي. " ۲۔

﴿۲۲﴾ ...... او امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائي چه " الله کلام کوي، مګر زمونږ دَ کلام په شان." ۳۔

﴿۲۳﴾ ...... او فرمائي: " حضرت موسىٰ عليه السلام دَ الله تعالىٰ نه کلام واوريدو لکه څنګه چه الله جل شانه فرمائيلي دي ﴿ وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوسىٰ تَكْلِيمًا ﴾ ۴۔ (او الله تعالىٰ موسىٰ سره کلام اوفرمايۀ.) او هغۀ دَ موسىٰ عليه السلام سره کلام نۀ وو کړي او بيا هم متکلم وو. " ۵۔

﴿۲۴﴾...... او فرمائي چه " قرآن مجيد دَ الله کلام دي، په مصاحف کښي ليکلي شوي دي، په زړونو کښي محفوظ دي، په ژبو سره لوستلي شي، او په نبي کريم ﷺ باندي نازل

......................................

۱۔ الفقه الاکبر ص ۳۰۲.

۲۔ الفقه الاکبر ص ۳۰۱.

۳۔ الفقه الاکبر ص ۳۰۲.

۴۔ سورة النسآء آيت نمبر ۱۶۴.

۵۔ الفقه الاکبر ص ۳۰۲.

کړې شوې دې ." ۱ـ

﴿۲۵﴾ ...... او امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائی : " قرآن غيرِ مخلوق دې ." ۲ـ

## ب : دَ تقدير په باره کښې دَ امام اعظم ابو حنيفهؒ اقوال :

﴿۱﴾ ...... يو کس حضرت امام ابو حنيفه رحمه الله ته راغې او دَ تقدير په باره کښې ئې دَ هغویؒ سره مجادله شروع کړه ، امام اعظم رحمه الله ورته اوفرمائيل آيا تاته پته نشته دې چه په تقدير کښې غور اوفکر کولو والا داسې دې لکه چه دَ نمر په سترګه کښې چه نظر کوی ، هغۀ چه څومره قدرې زيات نظر کوی هغه هومره به دَ هغۀ حيرت زياتيږی ." ۳ـ

﴿۲﴾ ...... امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله فرمائی : " الله تعالیٰ په ازل کښې څيزونه ددې دَ کيدو نه مخکښې پيژندل ." ۴ـ

﴿۳﴾ ...... او فرمائی چه : " الله تعالیٰ معدوم څيز لره دَ عدم په حالت کښې په حيثيت دَ معدوم سره پيژنی ، او په دې هم عالم دې

..........................................

۱ـ الفقه الاکبر ص ۳۰۱ .

۲ـ الفقه الاکبر ص ۳۰۱ .

۳ـ قلائد عقود العقبان ( ورقه ـ ۷۷ ـ ب )

۴ـ الفقه الاکبر ص ۳۰۲ ، ۳۰۳ .

چه کله دا څيز موجود کړي چه دا به څنګه وي ، او الله تعالیٰ موجود لره په حالت دَ وجود کښي موجود پيژني ، او په دې باندې هم عالم دې چه ددې فنا به څنګه وي ." ١ـ

﴿۴﴾..... او امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله فرمائي چه : " دَ الله تعالیٰ مقرر کړده تقدير په لوحِ محفوظ کښي دې ." ۲ـ

﴿۵﴾ ..... او فرمائي چه : " مونږ اقرار کوو چه الله تعالیٰ قلم ته حکم ورکړو چه ليکل اوکړه ، قلم اووئيل : اې ربه ! زهٔ څهٔ اوليکم ؟ الله تعالیٰ ورته اوفرمائيل : تر قيامته پورې چه څهٔ کيدونکي دي هغه ټول اوليکه . ځکه چه دَ الله تعالیٰ ارشاد مبارك دې ﴿ وكل شيئ فعلوه في الزبر () وكل صغير وكبير مستطر ﴾ ۳ـ

( او هر څيز کوم چه هغوي کړې دي په صحيفو کښي درج دي ، او هر وړوکي او غټ څيز ليکلي شوې دي ." ۴ـ

﴿٦﴾..... او امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائيلي دي : " په دنيا او آخرت کښي هيڅ يو څيز دَ الله تعالیٰ دَ مشيت نه بغير نهٔ کيږي " ( الله تعالیٰ چه څهٔ غواړي هغهٔ کيږي . ) ۵ـ

---

١ـ الفقه الاكبر ص ۳۰۲ ، ۳۰۳ .

۲ـ الفقه الاكبر ص ۳۰۲ .

۳ـ سورة القمر ، آيت ۵۲ ، ۵۳ .

۴ـ الوصية مع شرحها ص ۲۱ .

۵ـ الفقه الاكبر ص ۳۰۲ .

﴿۷﴾ ...... او امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائيلي دي : " الله تعالیٰ څيزونه بغير دَ څۀ څيز ( او نمونې ) نه پيدا کړي دي . " ۱ـ

﴿۸﴾ ...... او فرمائيلي ئې دي چه : " الله تعالیٰ دَ پيدا کولو نه مخکښې هم خالق وو . " ۲ـ

﴿۹﴾ ...... او فرمائي چه : " مونږ اقرار کوو چه بنده دَ خپلو اعمالو او دَ خپل اقرار او معرفت سره مخلوق دې ، چنانچه کله چه فاعل مخلوق دې نو دَ هغۀ افعال په درجۀ اولیٰ سره مخلوق دی . ۳ـ

﴿۱۰﴾ ...... او فرمائي چه : " حرکت او سکون وغيره دَ بندګانو تمام افعال دَ هغوی کسب دې ، او الله تعالیٰ دَ هغې خالق دې ، او دا ټول په ټوله دَ الله تعالیٰ په مشيت ، دَ هغۀ په علم او فيصلې او دَ هغۀ په تقدير سره دی . " ۴ـ

﴿۱۱﴾...... او امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائيلي دي چه : " حرکت او سکون وغيره دَ بندګانو تمام افعال حقيقةً دَ دوی کسب دې ، او الله تعالیٰ ددې خالق دې ، او دا ټول په ټوله دَ الله تعالیٰ په مشيت ، علم ، فيصلې او دَ هغۀ په تقدير سره دی . او ټول طاعتونه دَ الله تعالیٰ په حکم ، دَ هغۀ په خوښه ، دَ هغۀ په رضاء ، دَ هغۀ په علم او دَ هغۀ په

---

۱ـ الفقه الاکبر ص ۳۰۲ .

۲ـ الفقه الاکبر ص ۳۰۴ .

۳ـ الوصيه مع شرحها ص ۱۴ .

۴ـ الفقه الاکبر ص ۳۰۳ .

مشیت او تقدیر سره واجب دی . او معاصی او ګناهونه ټول په تول دَ الله تعالیٰ په علم ، فیصلې ، تقدیر او دَ هغهٔ په مشیت سره دی . لیکن دَ هغهٔ په رضاء او حکم سره نهٔ دی . " ۱ـ

﴿۱۲﴾ ...... او امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائیلی دی " الله تعالیٰ مخلوق لره دَ کفر او ایمان سره سالم پیدا کړې دې . " ۲ـ

بیا ئې دوی مخاطب کړل او حکم ئې ورکړو او منع ئې کړل . بیا چه چا کفر اوکړو نو هغهٔ په خپل فعل او انکار او دَ حق دَ نهٔ منلو په سبب سره دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دَ بې توفیقۍ په نتیجه کښې کفر اوکړو . او چا چه ایمان راؤړو هغهٔ دَ خپل فعل او اقرار او دَ تصدیق په سبب سره دَ الله تعالیٰ په توفیق او دَ هغهٔ په نصرت سره ایمان راؤړو . " ۳ـ

﴿۱۳﴾ ...... او امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائیلی دی : " الله تعالیٰ دَ آدم علیه السلام اولاد لره دَ هغهٔ دَ پُشت نه دَ میږو په شکل کښې پیدا کړل ، او بیا ئې عقل ورکړو ، بیا ئې مخاطب کړل ، او دَایمان حکم ئې ورته ورکړو او دَ کفر نه ئې منع کړل ، په هغوی باندې

..............................

۱ـ الفقه الاکبر ص ۳۰۳

۲ـ صحیح دادی چه الله تعالیٰ مخلوق لره په فطرتِ اسلام باندِ پیدا کړې دې ، لکه څنګه چه دې لره خپله امام ابو حنیفه رحمه الله په راتلونکی قول کښې بیانوی . "

۳ـ الفقه الاکبر ص ۳۰۲ ، ۳۰۳ .

ئې دَ الله دَ ربوبيت اقرار اوکړو . چنانچه دا دَ هغوی دَ طرف نه ايمان وو ، او دوی په هم دې فطرت باندې پيدا کيږی او اوس چه کفر کوی نو دَ هغې نه بعد کفر کوی او تغير وتبديل کوی ، او څوك چه ايمان راوړی او تصديق کوی ، نو هغوی هم په دې فطرت بانډِ ثابت او برقرار اوسيږی . " ١ـ

﴿١٤﴾ ...... او امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائی : " الله تعالىٰ هم هغه ذات دې چه هغهٔ څيزونه مقدر کړې دی او دَ هغې فيصله ئې فرمائيلی ده ، او په دنيا کښې هيڅ يو څيز دَ هغهٔ دَ مشيت ، دَ هغهٔ دَ علم ، دَ هغهٔ دَ فيصلې او دَ هغهٔ دَ تقدير نه بغير نهٔ کيږی ، او دې لره الله تعالىٰ په لوحِ محفوظ کښې ليکلی دی . " ٢ـ

﴿١٥﴾ ...... اوفرمائيلی ئې دی : " الله تعالىٰ په خپل مخلوق کښې څوك په کفر يا په اسلام باندې مجبوره کړې نهٔ دی ، بلکه الله تعالىٰ اشخاص پيدا کړې دی ، او کفر او ايمان دَ بندګانو فعل دې ، او چه څوك کفر کوی ، نو الله تعالىٰ هغهٔ لره په حالت کفر کښې کافر پيژنی ، بيا چه کله ددې نه بعد هغهٔ ايمان راوړی نو کله چه هغهٔ لره مؤمن اوپيژنی ( چه اوس دَ ايمان راوړلو نه بعد مؤمن دې ) نو ددهٔ سره محبت کوی ، مګر ددې نه بغير چه دَ هغهٔ په علم کښې به څهٔ تبديلی وی . " ٣ـ

..................................................

١ـ الفقه الاکبر ص ٣٠٢ . ٢ـ الفقه الاکبر ص ٣٠٢ .

٣ـ الاکبر الاکبر ص ٣٠٣ .

## ج : دَ ايمان په باره کښې دَ امام اعظمؒ اقوال :

﴿۱﴾ ...... امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائی : " ايمان اقرار او تصديق دې . " ۱ ـ

﴿۲﴾ ...... او فرمائی : " ايمان په ژبې سره اقرار او په زړهٔ سره تصديق دې ، يو اځې اقرار ايمان نهٔ دې . " ۲ ـ

دا امام طحاویؒ دَ امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله او دَ صاحبينوؒ نه نقل کړې دی . ۳ ـ

﴿۳﴾ ...... امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائيلی دی : " ايمان نهٔ زياتيږی او نهٔ کميږی . " ۴ ـ

زهٔ وايم چه امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله چه دَ ايمان دَ نهٔ زياتيدلو او نهٔ کميدلو کومه خبره کړې ده او دَ ايمان دَ مسمیٰ په باره کښې ـ ئې کومه خبره کړې ده چه دا دَ زړهٔ تصديق او دَ ژبې اقرار دې ، او عمل دَ حقيقتِ ايمان نه خارج دې .

نو دَ هغویؒ هم دا خبره دَ ايمان په باره کښې دَ امام ابو حنيفه رحمه الله دَ عقيدې او دَ نورو ائمهٔ اسلام مثلًا مالك ، شافعی ، احمد ، اسحاق او بخاری رحمهم الله دَ عقيدې په درميان کښې وجهٔ فرق دې

........................................

۱ ـ الفقه الاکبر ص ۳۰۴ .
۲ ـ کتاب الوصيه مع شرحها ص ۲ .
۳ ـ الطحاويه مع شرحها ص ۳٦۰ .
۴ ـ کتاب الوصيه مع شرحها ص ۳ .

، دَ دواړو په دې عـقـیـده کښې اختلاف دې مګـر دواړه ډلې او جـمـاعـتـونـه مـاجـور دی . او ابـن عبـد البـر او دَ ابن ابی العز داسې څۀ خبرې ذکر کړې دی چـه دَ هغې نه پته لګی چه امام صاحبؒ دَ خپل قول نه رجوع کړې ده .“ والله اعلم . ۱ـ

## د : دَ صحابۀ کرامو ؓ په باره کښې دَ امام اعظمؒ قول :

﴿۱﴾ ...... امام ابو حـنیـفـه رحـمه الله فرمائیلی دی : ” مونږ دَ رسـول الله ﷺ په صحابۀ کرامو رضی الله عنهم کښې دَ هیڅا ذکر نۀ کوو مګر دَ خیر سره .“ ۲ـ

﴿۲﴾ ...... او فـرمـائـی مـونږ دَ رسول الله ﷺ په صحابۀ کرامو ؓ کښې دَ هیڅا نه براء ت نۀ اختیاروو. ، او بعضِ پرېښودل او بعضِ سره موالات نۀ کوو .“ ۳ـ

﴿ ۳﴾ ...... او امـام ابـو حنیفه رحمه الله فرمائی : ” دَ رسول الله ﷺ سـره دَ یـو صـحـابی دَ یو ساعت ناسته ، په مونږ کښې دَ یو کس دَ تـمـام عـمـر دَ عـمـل نـه بهـتـره ده ، خواه چه هغه عمر ډېر زیات اوږد او طویل ولې نۀ وی .“ ۴ـ

..............................................

۱ـ التمهید لابن عبد البر ۹ / ۷۴۲ . شرح العقیدة الطحاویه ص ۳۹۵ .

۲ـ الفقه الاکبر ص ۳۰۴ .

۳ـ الفقه الابسط ص ۴۰ .

۴ـ مناقبِ ابی حنیفة از مکی ص ۲٦ .

﴿۴﴾ ...... او فرمائی چه : " مونږ اقرار کوو چه زمونږ دَ نبی کریم ﷺ نه روستو په دې امت کښې دَ ټولو نه زيات بهتر او افضل حضرت ابو بکر صديق رضی الله عنه دې ، بيا عمرؓ دې ، بيا عثمانؓ دې بيا علیؓ دې ، رضی الله عنهم ورضوعنه . " ۱ ـ

﴿۵﴾ ...... او امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائيلی دی : " دَ رسول الله ﷺ نه بعد دَ ټولو نه افضل ابوبکر رضی الله عنه دې ، او بيا حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ، او بيا حضرت عثمان غنی رضی الله عنه ، او بيا حضرت علی کرم الله وجهه رضی الله عنه دې . ددې نه پس بيا مونږ دَ تمامو صحابهٔ کراموؓ نه بنديږو ( يعنی بعضو ته په بعضِ باندِ فضيلت نهٔ ورکوو . ) او صرف په نيکئ او ښهٔ والی سره ئې تذکره کوو . " ۲ ـ

## خ : په دين کښې دَ کلام او خصوماتو په باره کښې دَ امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله اقوال :

﴿۱﴾ ...... امام اعظم رحمه الله فرمائيلی دی : " په بصره کښې اهواء والا ډير دی ، زهٔ هلته کښې دَ شلو ځلو نه زيات تلې يم ، او ډير وختونه به ما دا اوګنړله او يو کال يو ددې نه څهٔ کم وبيش به هلته

......................................................................

۱ ـ الوصيه مع شرحها ص۱۴ .

۲ ـ لکه څنګه چه په النور اللامع ( ورقه . ۱۱۹ . ب ) کښې دَ هغوی نه مذکور دی ...... ۱۲

کښې ايسار وُم چه علمِ کلام ډير زيات جليل علم دې . " ١ـ

﴿٢﴾ ...... او فرمائی چه : ما په علم کلام کښې نظر لرلو ، تردې پورې چه په دې علمِ کښې دې درجې ته اورسيدم چه په دې فن کښې به ماته په گوتو سره اشاره کولې شوه ، او مونږ به دَ حماد بن ابی سليمان حلقې ته قريب ناست وو ، يو ځل ماته يوه ښځه راغله او راته ئې اووئيل : يو سړې دې او دَ هغۀ يوه ښځه ده ، چه هغۀ وينزه ده ، هغۀ دې ښځې ته دَ سنت مطابق طلاق ورکول غواړی ، څومره طلاقه به ورکوی ؟

زما په پوهه کښې نۀ راتله چه څۀ اووايم . ما ورته حکم ورکړو چه حماد ته اووايه ، بيا واپس راشه او ماته اووايه چه هغوی څۀ جواب درکړی ؟ . هغې دَ حماد نه تپوس اوکړو حماد ورته اوفرمائيل چه هغې ته دې دَ حيض او دَ جماع نه دَ پاکئ په حالت کښې يو طلاق ورکړی ، بيا دې هغې لره پريږدی تردې پورې چه دويم حيض ئې راشی ، بيا چه کله غسل اوکړی نو دَ نکاح کؤونکو دپاره حلاله شوه . هغه واپس راغله او ماته ئې خبر راکړو ، ما ورته اووئيل : ماته دَ علمِ کلام هيڅ ضرورت نشته ، ما خپل پيزار واخستو او دَ حماد سره کيناستم . " ٢ـ

......................................

١ـ مناقب ابی حنيفة للكردی ص ١٣٧ .

٢ـ تاريخ بغداد (١٣ / ٣٣٣) .

﴿۳﴾ ...... او هغوی رحمه الله فرمائی : " الله دې په عمرو بن عبيد لعنت اوکړی ، ځکه چه په علمِ کلام کښې کوم څيز مفيد نۀ دې ، دَ هغې په باره کښې دَ خبرو اترو دروازه هم دې کس پرانستلې ده . " ۱ ـ

﴿۴﴾ ...... او دَ امام ابو حنيفه رحمه الله نه يو کس تپوس اوکړو او ورته ئې اووئيل چه دَ اعراض و اجساد متعلق دَ خبرو اترو په باره کښې چه خلقو څۀ ايجاد کړې دی دَ هغې په باره کښې تاسو څۀ وايئ ؟ امام اعظم رحمه الله ورته اوفرمائيل : " هغه خو دَ فلاسفهٔ مقالات دی ، تاسو اثر ( سنت ) او طريقِ سلف لازم اونيسئ ، او خپل ځانونه دَ هر ايجاد کرده څيز نه بچ اوساتئ ، ځکه چه دا بدعت دې . " ۲ ـ

﴿۵﴾ ...... حماد بن ابی حنيفه رحمه الله فرمائی چه يو ځل ماته زما والد محترم راغې ، او زما سره دَ اهلِ کلام يو جماعت وو ، او مونږ په يو باب کښې بحث کولو ، او زمونږ آوازونه اوچت شوې وو ، کله چه ما په کور کښې دَ هغوی آهټ واوريدو نو زۀ هغوی طرف ته روان شوم ، هغوی اوفرمائيل : اې حماد ! تاسره څوك دی ؟ ما ورته اووئيل : فلانکې ، فلانکې او فلانکې . زما سره چه کوم خلق وو ما ورته دَ هغوی نومونه واخستل . هغوی اوفرمائيل : تاسو خلق په څۀ

.........................

۱ ـ ذم الکلام للهروی ( ۱۹۴ / ب ) .

۲ ـ مناقب ابی حنيفة للمکی ۱۸۳ ، ۱۸۴ .

خبره کښې وئ ؟ ما ورته اووئيل: په فلانکی فلانکی باب کښې وو . هغوی اوفرمائيل : اې حماد ! علمِ کلام پريږده . ( حماد وائی ) ما خپل پلار لره کله هم خلط ملط کولو والا نهٔ وو ليدلې ، اونهٔ مې داسې ليدلې وو چه دَ څهٔ خبرې حکم به ئې ورکولو او بيا به ئې دَ هغې نه منع کوله . ددې وجې نه ما هغوی ته اووئيل : اې اباجان ! آيا تاسو به مونږ ته ددې حکم نهٔ راکولو ؟ هغوی اوفرمائيل : ځويه ! ولې نهٔ ؟ ليکن نن زهٔ تاسو دَ هغې نه منع کوم . ما اووئيل : ولې ؟ هغوی راته اوفرمائيل : اې بچيه ! دا خلق کومو چه په علمِ کلام کښې اختلاف کړې دې ، چه هغوی لره تهٔ وينې ، دوی صرف په يو دين او يو قول باندې وو ، تردې پورې چه شيطان په دوی کښې اختلاف پيدا کړو ، او دوی دَ يو بل نه جُدا شول . .......... "١ـ

﴿٥﴾ ..... امام ابو حنيفه رحمه الله امام ابويوسفؒ ته اوفرمائيل : " تاسو په اصولِ دين يعنی دَ کلام په باره کښې دَ عام خلقو سره دَ خبرو اترو کولو نه ځان بچ ساتئ ، ځکه چه دا خلق به ستاسو تقليد کوی ، او هم په دې کښې به اُنخلی . " ٢ـ

دَ اصولِ دين په مسائلو کښې چه دَ امام ابو حنيفه رحمة الله عليه کومه عقيده وه ، او دَ علمِ کلام او دَ متکلمينو په باره کښې چه دَ هغوی کوم موقف وو ، دَ هغوی په باره کښې دَ موصوف دَ اقوالو دا

..........................................

١ـ مناقب ابی حنيفة للمکی ص ١٧٣ .

٢ـ مناقبِ امام ابي حنيفة للمکی ص ١٨٣ .

یوه مجموعه ده .“

## ﴿ دَ امام ابو حنیفه رحمه الله متفرق اقوال﴾

۱﴾...... فرمائی : چه دَ رسول الله ﷺ حدیث راشی نو په سر سترګو قبول ، او کۀ چرې په یو مسئله کښې دَ صحابۀ کرامو نه اقوال وی نو مونږ به په هغوی کښې دَ یو صحابی قول اخلو او دَ هغوی نه به خروج نۀ کوو البته کۀ چرې دَ تابعینو ( یعنی دَ امام صاحبؒ دَ خپل هَم عصرو علماؤ ) اقوال وی نو دَ هغوی په مقابله کښې مونږ خپله رائې پیش کولې شو .

۲﴾...... فرمائی : دَ چاد پاره هم دا جائز نۀ دی چه هغه دَ کتاب الله ، یا سنتِ رسول الله یا دَ اجماع صحابۀ کرامؓ نه خلاف خپله رائې پیش کړی . البته په مسائلو کښې به دَ صحابۀ کرامو دَ اقوالو نه هغه قول اختیاره وو کوم چه کتاب الله یا سنتِ رسول الله ته قریب ترین وی او هم دا دَ اجتهاد محل دې .

۳﴾...... فرمائی : کۀ چرې په دین کښې دَ تنګ کیدو خوف او ویره نۀ وه نو ما به کله هم فتویٰ نۀ ورکوله . دَ کومو څیزونو په سبب سره چه جهنم ته دَ تللو خوف کیدې شی په هغې کښې دَ ټولو نه خوفناك او دَ ویرې څیز فتویٰ ده .

۴﴾...... فرمائی : دَ کله چه ماته پو هه راغلې ده نو ما کله هم په الله تعالیٰ باندې جرأت نۀ دې کړې . ( یعنی په مسئلې ښودلو کښې مې الله تعالیٰ او دَ هغه رسول طرف ته نسبت نۀ دې کړې . )

۵﴾..... کـۀ چـرې امام ابو حنيفه رحمه الله ته به په څۀ مسئله کښـې اشکال وو او هغه به نۀ حل کيده نو هغوی به خپلو اصحابو ته فرمائيل : دا دَ څۀ ګناه په وجه سره دی ، کومه چه به زمانه صادر شوې وی . " بيـا بـه ئـې استغفار شروع کړو او کله کله به ئې وضوء اوکړه او اودريـدو بـه او دوه رکعتـه صلوةِ توبه به ئې ادا کوله ، نو مسئله به حل شـوه . نـو هـغوی به فرمائيل چه دا يو قسم بشارت او زيرې دې ، ماته اميـد دې چـه زمـا ګناه معاف شوه او توبه مې قبوله شوه او مسئله په پـو هـه کښـې راغـلـه . دَ امـام صـاحب رحمـه اللـه ددې عمل اطلاع مشهـور بـزرګ فـضيل بن عياض رحمه الله ته اوشو نو هغوی په ژړا شـول اووې فـرمـائيل : الله تعالىٰ دې په امام ابو حنيفه رحمه الله رحم اوکـړی دَ هـغـوی ګـنـاه خو کمه ده ( په دې وجه سره هغوی ته دَ خپلې کـوتـا هـئ احسـاس اوشـو ) ليکن چا بل چاته دې دا خيال نۀ وی څکه چه ګناهونو خو دۀ لره غرق کړې دې .

٦﴾..... امـام صـاحـب رحـمـه اللـه پـه لاره بـاندې تللو نو دَ يو ماشوم په خپه باندې ئې خپه راغله او هغه ورته په نظر باندې رانغې . بـچـی ورتــه اووئيــل اې شيـخ !آيا تــۀ دَ ورځې دَ قيامت دَ جزاء نـه نـۀ ويريږې ؟ نو په امام صاحب رحمه الله باندې بې هوشی راغله کله چه پـه هـوش کښی راغې چه په تاسو باندې ددې جملې دومره اثر اوشو ؟ امـام صـاحب رحمه الله اوفرمائيل : ماته خوف او ويره ده چه هسې نه دَ الـله تعالىٰ دَ جانب نه ددې ماشوم په زړۀ کښی دا جمله القاء شوې نۀ

وی ."

۷﴾ ...... دَ امام صاحب رحمه الله يو مخالف دَ امام صاحب سره بحث کولو ، نو هغه امام صاحب ته اووئيل اې بدعتی ! اې زنديق ! امام صاحب رحمه الله ورته اوفرمائيل : الله تعالیٰ دې ستا مغفرت اوکړی ، الله تعالیٰ ته علم دې چه تا غلط اووئيل ، دَ الله تعالیٰ دَ پيژندلو نه بعد اوس ماته هيڅ پرواه نشته دې ، البته دَ هغه نه دَ معافئ خواستګاريم او دَ هغه دَ عذاب نه ويريږم ...... هغه کس ورته اووئيل تاسو ماتيه معافی اوکړئ . امام صاحب رحمه الله ورته اوفرمائيل چه کوم جاهل ماته څۀ اووئيل ما هغه لره معاف کړو ليکن کوم عالم چه زما باره کښې داسې خبرې کوی چه په ما کښې نۀ وی نو دَ هغه معامه تنګه ده ځکه چه دَ علماؤ دَ غيبت اثرات باقی پاتې کيږی .

۸﴾ ...... کۀ چرې دَ امام ابو حنيفه رحمه الله په وړاندې به يو کس دَ نورو خبرې نقل کولې نو هغوی به منع کولو او ورته به ئې فرمائيل چه دَ خلقو دا ناخوښه خبرې نقل کول پريږدئ ، چاچه زما په باره کښې غلطه خبره اوکړه نو الله تعالیٰ دې هغه لره معاف کړی ، او چاچه زما په باره کښې څۀ ښۀ خبره اوکړه نو الله تعالیٰ دې پرې رحم اوکړی . ( دَ خلقو دَ خبرو دَ نقل کولو په ځائې باندې ) په دين کښې پوهه حاصل کړئ او دَ خلقو خبرې پريږدئ ، خلق دې پوهه شی او دَ هغوی کار . کيدې شی چه الله تعالیٰ هغوی لره ستاسو محتاج

اوګرځوی .

۹﴾...... امام ابو حنيفه رحمه الله نه تپوس اوکړې شو چه علقمه افضل وو يا اسودؒ ؟ امام صاحب رحمه الله ورته اوفرمائيل په الله قسم ! زۀ خو خپل ځان ددې قابل نۀ ګنړم چه دَ هغوی دپاره دَ دعا او استغفار نه علاوه دَ هغوی نوم هم په خُلهٔ راوَلم ، زۀ دَ هغوی په درميان کښې ترجيح څنګه ورکولې شم ؟

۱۰﴾...... امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله ته اووئيلی شو چه خلق ستاسو باره کښې ډيرې خبرې کوی مګر تاسو دَ هيچا ذکر نۀ کوئ ، هغوی ورته په جواب کښې اوفرمائيل : " هو فضل الله يؤتيه من يشآء " دا دَ الله فضل دې چه چاته ئې اوغواړی ورکوی . "

۱۱﴾...... دَ امام صاحب رحمه الله تجارت ډير زيات وسيع وو کومه نفع چه به حاصله شوه نو دَ هغې نه به ئې يوه غټه حصه دَ خپلو مشائخو او محدثينو په خدمت کښې پيش کوله او فرمائيل به ئې : تاسو دې لره په خپلو ضرورياتو کښې خرچ کړئ او صرف دَ الله تعالیٰ تعريف کوئ ، ځکه چه ما دَ خپل مال نه تاسو ته هيڅ نۀ دی درکړی ، بلکه دا دَ الله تعالیٰ مال دې او دَ هغه فضل دې چه دا ئې زما په لاس باندې جارې کړې دې . "

۱۲﴾...... فرمائی : کۀ چرې دَ الله تعالیٰ خوف نۀ وې چه علم به ضائع شی نو ما به هيچا ته فتویٰ نۀ ورکوله ، چه راحت دې بل څوك اوچت کړی او سزا دې په ما باندې وی .

۱۳﴾...... فرمائیل به ئې : چه ما هیڅ چا ته دَ بدئ بدله په بدئ سره نۀ ده ورکړې ، او ما کله هم په چا لعنت نۀ دې کړې . او ما چرته هم په مسلمان یا ذمی کافر باندې ظلم نۀ دې کړې ، او ما چرته هم چاته دهوکه نۀ ده ورکړې او نۀ مې دَ چا سره خیانت کړې دې .

۱۴﴾...... فرمائی : چه څوك دَ وخت نه مخکښې دَ خپل ځان دَ لوئیدلو خواهشمند وی ، هغه ذلیل کیږی .

۱۵﴾...... فرمائی : چه علماء اولیآء الله نۀ وی نو په مخ دَ زمکه به هیڅوك ولی الله نۀ وی .

۱٦﴾...... فرمائی : چه چالره خپل علم دَ حرام څیزونو نه منع نۀ کړې نو هغه په کساره کښې دې .

۱۷﴾...... یو کس دَ امام ابوحنیفه رحمه الله نه تپوس اوکړو چه په تفقه حاصلولو کښې کوم یو څیز زیات مددګار دې ، هغوی ورته اوفرمائیل : ځانله والې او یکسوئی اختیارول . هغه ترینه تپوس اوکړو چه دا ځانله والې به څنګه حاصلیږی ؟ هغوی ورته اوفرمائیل دَ تعلق او دَ غیر متعلق څیزونو کمولو سره . هغه بیا تپوس اوکړو چه دا به څنګه کمیږی ؟ امام صاحب رحمه الله ورته اوفرمائیل : چه دَ کوم څیز څومره ضرورت وی دَ هغې نه زیات مۀ اخله . "

۱۸﴾...... دَ سحر دَ مانځۀ نه بعد څۀ خلقو دَ مسائلو باره کښې تپوس اوکړو ، امام صاحبؒ ورته دَ هغې جوابات ورکړل ، چا ترینه تپوس اوکړو ، آیا بزرګ په دې وخت کښې دَ خیر دَ خبرې نه سوا دَ

فضول خبرو کولو نه منع نهٔ کوی ؟ امام صاحب رحمه الله ورته اوفرمائیل : ددې نه زیاته دَ خیر خبره څهٔ کیدې شی چه دَ حلال وحرام تعلیم ورکړې شی . مونږ دَ الله تعالیٰ دَ نافرمانئ نه په الله تعالیٰ سره پناه غواړو او خلقو لره ددې نه بچ کوو .

۱۹﴿...... یو کس دَ چا سفارش راوړو او راغې چه تاسو ماته علم اوښایئ . امام صاحب رحمه الله ورته اوفرمائیل چه په دې شان سره علم نهٔ شی حاصلولې . الله تعالیٰ دَ علماؤ نه دا عهد اخستې دې چه دَ خلقو په وړاندې علم لره بیان کړی او علم به نهٔ پټوی . بیا ئې اوفرمائیل : چه عالم خو صرف دَ الله تعالیٰ دَ رضاء دپاره علم حاصلوی ، دَ هغوی خصوصی رازدار نهٔ وی .

۲۰﴿...... یو صاحب ته ئې اوفرمائیل : چه کله زهٔ ځم روان یم او یا خلقو سره خبرې کووم یا اودهٔ یم یا آرام کووم نو په دې دوران کښې زما نه دَ دین په باره کښې سوال مهٔ کوئ ځکه چه په دغه دوران کښې دَ انسان سوچ او خیال مجتمع نهٔ وی .

۲۱﴿...... یو کس دَ امام صاحب رحمه الله نه دَ حضرت علی او حضرت معاویه رضی الله عنهما دَ اختلافاتو او دَ جنګ صفین دَ مقتولینو باره سوال اوکړو نو امام صاحب ورته اوفرمائیل :

" کله چه به الله تعالیٰ مالره دَ خپل ځان په وړاندې اودروی نو دَ هغوی په باره کښې به زمانه هیڅ قسمه سوال نهٔ کیږی ، البته په کومو څیزونو سره چه زهٔ مکلف جوړ کړې شوې یم زمانه به دَ هغې

په باره کښې سوال کولې شي ، لهذا زهٔ په هغه ځيزونو کښې مشغول کيدل خوښوم (دَ کومو په باره کښې چه به زما نه دَ قيامت په ورځ تپوس کوی .)

۲۲﴾...... فرمائی : ماته په هغه خلقو باندې ډير زيات تعضب دې کوم خلق چه په دين کښې صرف په اندازې سره خبره کوی .

۲۳﴾...... فرمائی : چه څوك صرف دَ دُنيا دپاره علم زده کوی نو هغه دَ علم دَ برکت نه محروم کيږی ، هغه ته دَ علم رسوخ نهٔ حاصليږی ، او نهٔ دَ الله تعالیٰ مخلوق ته دَ هغه نه فائده وی . او کوم يو کس چه علمِ دين دَ دين دپاره زده کوی نو هغه ته دَ علم برکات حاصليږی ، هغه ته په علم کښې دَ رسوخ درجه حاصليږی او علم حاصلولو والا دَ هغه نه فائده اوچتوی . "

۲۴﴾...... يو ځل هغوی حضرت ابراهيم ابن ادهم رحمه الله ته اوفرمائيل : اې ابراهيم ! تاته دَ دين لويه حصه نصيب شوې ده ، تاسو علم طرف ته هم توجه اولرئ ځکه چه علمِ دين دَ عبادت بنياد دې او هم په دې سره دينی او دنياوی امور درست کيږی .

۲۵﴾...... فرمائی : چه کوم حديث تهٔ لولې مگر ستا په پوهه کښې نهٔ وی ، دا دَ هغه کس په شان دی چه هغه دوائی دَ خپل ځان سره جمع کوی مگر دَ هغې دَ آثار وخواص نه په پوره شان سره واقف نهٔ وی .

۲۶﴾...... فرمائی : چه کله دَ دنيا څهٔ کار کول وی ، نو اول کار

پوره کړه او بيا خوراك اوکړه . "

۲۷ ﴾...... خليفهٔ منصور ورته اووئيل چه تاسو مونږ ته ولې نهٔ راځئ ؟ امام صاحب ورته اوفرمائيل : ماته په خپل څهٔ څيز باندې ستاسو نه ويره او خوف نشته دې ، کهٔ چرې تاسو مالره خپل ځان ته قريب کړئ نو زما به رسوائي مقدر وی .

۲۸ ﴾...... هم دارنګه خبره دَ کوفې ګورنر امام صاحب رحمه الله ته اوکړه نو امام صاحبؒ ورته په جواب کښې اوفرمائيل : دَ روټئ ټکړا ، دَ اوبو ګلاس ، او دَ پوستين لباس دَ هغې عيش نه بهتر دې چه دَ هغې نه بعد ( په دنيا وآخرت کښې ) شرمندګی وی . "

۲۹ ﴾...... کله چه به دَ هغوی په وړاندې دَ چا ذکر کولې شو نو فرمائيل به ئې : دَ چا څهٔ داسې خبرې زما په وړاندې مهٔ نقل کوئ کومې چه هغه ته ناخوښه وی . چاچه زما په باره کښې څهٔ غلطه خبره اوکړه نو االله تعالیٰ دې هغه ته معافی اوکړی او چاچه زما په باره کښې څهٔ ښهٔ جمله اووئيله نو الله تعالیٰ دې پرې رحم اوکړی .

۳۰ ﴾...... فرمائی : په دين کښې پوهه حاصله کړئ او خلقو لره په خپل حال پريږدئ ، الله تعالیٰ به هغوی لره تاسو ته محتاج کړی . "

۳۱ ﴾...... فرمائی : چه څوك دَ آخرت دَ عذاب نه بچ کيدل غواړی نو دَ هغه دپاره دَ دنيا تکليف هيڅ نهٔ دې ، او څوك چه دَ خپل نفس عزت کوی ( يعنی دَ دنيا وآخرت دَ رسوائئ نه بچ کيدل غواړی )

نو دنیا دَ هغه په وړاندې ذلیل دهٔ .

۳۲﴾...... فرمائی : چه دَ ځان دپاره دَ ګناهونو انبار او دَ خپلو وارثانو دپاره مال ودولت مهٔ جمع کوئ . "

۳۳﴾...... فرمائی : حضرت علی رضی الله عنه چه دَ چا سره هم قتال کړې دې په هغې کښې حضرت علیؓ په حق کښې پیش پیش وو . او کهٔ دَ حضرت علی رضی الله عنه دا حالات نهٔ پیښیدل ، نو باغیانو ته به شرعی احکام په پوهه کښې نهٔ راتلل .

۳۴﴾...... دَ امام ابوحنیفه رحمه الله نه سوال اوکړې شو کله چه ورته جواب ملاؤ شو نو سوال کوونکی اووئیل؛ چه ترڅو تاسو ژوندی یئ نو په دې ښهر کښې خیر او خیر دې . ، امام صاحب رحمه الله ورته اوفرمائیل : علاقې خالی شوې ، نو زهٔ بغیر دَ څهٔ خواهش نه لوی عالم او پوهه ګڼړې شم ، مګر دا لوئی په ما باندې ډیره وزنی ده .

۳۵﴾...... امام اعمش رحمه الله دَ امام ابوحنیفهؒ استاذِ حدیث دې ، یو ځل امام صاحبؒ دَ هغوی په خدمت کښې حاضر شو ، هغوی څو علمی سوالات اوکړل ، او امام ابوحنیفه رحمه الله دَ هغې جوابونه ورکړل ، دَ هر سوال په جواب باندې به امام اعمش رحمه الله فرمایل چه تهٔ دا جواب په کوم دلیل سره ورکوې ؟ او امام ابوحنیفه رحمه الله به فرمائیل چه په هغه حدیث سره جواب درکووم کوم چه ما هم ستاسو نه روایت کړې دی ، په آخر کښې امام اعمش رحمه الله اوفرمائیل :

" یا معشر الفقهاء انتم الاطباء ونحن الصیادلة "

" اې فقهاؤ ! تاسو طبیبان یئ او مونږ صرف دَ دوائی خرڅولو والا یو . "

۳٦﴾...... وکیع یو ځل دَ امام ابو حنیفه رحمه الله په خدمت کښې حاضر شو ، په دغه وخت کښې امام ابو حنیفه رحمه الله سر خکته کړې وو او په څۀ سوچ کښې ډوب وو ، هغوی ماته اوکتل وې فرمائیل تۀ دَ کوم ځائ نه راغلې ؟ ما ورته اووئیل دَ شریك دَ خوا نه راغلم . زما خیال دې چه هغوی ته دَ شریك څۀ داسې نازیبا خبره کومه چه به ئې دَ دوی په باره کښې کړې وی رسیدلې وی . هغوی سر اوچت اوکړو او دا اشعار ئې اوفرمائیل :

ان یحسدونی فانی غیر لائمهم
قبلی من الناس اهل الفضل قد حسدوا
فدام له ولهم ما بی وما بهم
ومات اکثرنا غیضا بما یجد

" کۀ چرې دوی زما سره حسد کوی نو بیا هم زۀ دوی لره نۀ ملامت کوم زما نه مخکښې ډیر داسې اهلِ فضل تیر شوې دی چه دَ هغوی سره حسد کړې شوې دې پس څۀ چه زما دپاره دی هغه به همیشه دپاره وی او څۀ چه دَ هغوی دپاره دی نو هغه به هم دَ هغوی دپاره وی ، ډیر خلق دَ حسد په اور کښې اوسوزیدل او خپله مړۀ شول .

۳۷﴾...... حضرت امام شعبی رحمه الله ( مشهور تابعی امام

عـمـر بن شراحيل الشعبىؒ ) امام ابو حنيفه رحمه الله لره علم طرف ته متـوجه کړې وو ، دَ هغوی ذکر امام صاحب فرمائيلو چه يو ورځ زهٔ په امـام شـعبـی رحـمـه الله باندې تير شوم نو هغوی زهٔ راوبللم او راته ئې اوفـرمائيل چه تهٔ کوم خوا ځې راځې ؟ ما ورته اووئيل فلان فلان تاجر تـه ځم . هغوی راته اوفرمائيل چه زهٔ خو درنه دَ بازار دَ خبرې تپوس نهٔ کـووم ، دَ عـلـمـاؤ خبره کـوم . ما ورتـه پـه جواب کښې اووئيـل چـه زهٔ عـلـمـاؤ تـه کـم ځـم راځـم . امـام شعبی رحمه الله راته اوفرمائيل : چه داسې مهٔ کوه تهٔ علماؤ ته ځه راځه . او په علم کښې غور او فکر کوه ، ځـکه چه ته يو متحرك او صاحبِ بصيرت نوجوان ماته په نظر راځې دَ امـام شـعبـی رحـمـه الله دا خبره زما په ذهن کښې کيناسته او بازار ته مـې تـلـل راتلل کم کړل او دَ علم حاصلولو مې شروع کړل او دَ هغوی په خبرې سره الله تعالىٰ ماته فائده راکړه .

﴿۳۸﴾...... امـام ابو حنيفه رحمه الله فرمائی چه ما علمِ کلام په ډيـر زيـات مـحـنـت سره حاصل کړو ، تردې پورې چه زهٔ دَ خلقو په نظر کښـې په دې علم کښې ممتاز شوم ، . يوه ورځ دَ حماد بن ابی سليمان دَ مـجـلـس سره نزدې ناست وو ، چه په دې کښی يوه ښځه راغله هغې زمـا نـه سـوال اوکـړو چـه يـو کس خپلې ښځې ته طلاقِ سنت ورکول غـواړی نـو څنګه طلاق دې ورکړی ؟ ماته ددې جواب معلوم نهٔ وو ما هـغـه ښـځـې ته اووئيـل چه دَ حماد نه تپوس اوکړه ، چه هغه درته څهٔ جواب درکړی نو ماته اووايه .

هغه لاړه او دَ حماد نه ئې تپوس اوکړو ، نو هغوی ورته په جواب کښې اووئیل چه په داسې طهر کښې ورته طلاق ورکړی چه په هغې کښې ئې ورسره وطی نهٔ وی کړې . او بیا هغې لره پرېږدی چه دَ دوو حیضو زمانه پرې نوره زیاته تیره شی ، بیا چه کله هغه پاکه شی او غسل اوکړی نو دَ بل کس سره به ددې ښځې نکاح درسته وی ، هغه ښځه واپس راغله او ماته ئې دا خبره اوکړه . ما په هغه وخت کښې دَ ځان سره اووئیل چه په علمِ کلام کښې دَ مشغول کیدو هیڅ فائده نشته دې او زهٔ په هم هغه وخت کښې دَ حماد په مجلس کښې کیناستم . ما به دَ هغوی ذکر کړه مسائل اوریدل او هغه به مې یادول ، تردې پورې چه کله به هغوی په صبا باندې مسائل دوباره تکرار کول نو دَ هغوی اکثر شاګردانو به په هغې کښې غلطی کوله او ماته به هغه مسائل ښهٔ یاد وو . پس حضرت امام حماد رحمه الله اوفرمائیل چه زما په مجلس کښې به ماته مخامخ سوا دَ ابو حنیفه رحمه الله نه بل هیڅوك نهٔ کینی . زهٔ دَ هغوی په صحبت کښې لس کالو پورې وُم . بیا یوه ورځ زما په زړهٔ کښې دا خیال راغې چه زهٔ ځانله جُدا مجلس منعقد کړم . زهٔ په دې خیال سره دَ ماسخوتن په وخت کښې اووتلم لیکن کله چه په جمات کښې داخل شوم نو زما زړهٔ دَ امام حماد رحمه الله دَ مجلس ترك کول خوښ نهٔ کړل ، ما خپل خیالِ فاسد ترك کړو او دَ امام حماد په مجلس کښې شریك شوم .

په هم دغه شپه کښې امام حماد رحمه الله ته دَ یو قریبی

عـزيـز پـه بـصره كښې دَ وفات كيدو خبر راورسيدو ، چه هغه دَ ځان نه روستـو څۀ مال پريښودې وو او دَ امام حماد نه سوا دَ هغه بل هيڅوك وارث نـۀ وو . هغه ماته حكم اوكړو چه زۀ دَ هغوى په عدمِ موجودګئ كښې دَ هـغـوى پـه مسـند باندې كينم . تردې پورې چه هغوى واپس راشي . دَ هغوى په عدم موجودګئ كښې خلقو زمانه دَداسې مسائلو تپـوس اوكړو كـوم چـه مـا دَ هـغـوى نـه نـۀ وو اوريـدلى . ما به دَ هغه مسـائـلـو جـواب وركـولـو او هـغــه جواب بـه مې ځان سره ليكلو او كيښـودلـو . امـام حماد رحمه الله دوو مياشتو پورې واپس رانغې ، بيا چـه كـلـه هـغـوى واپس راغلل نو ما هغه مسائل دَ هغوى په خدمت كښــې پيــش كـړل چــه هـغــه تـقـريبًا شپيتـۀ مسـائل وو . هغوى دَ څلويښت مسائلو په باره كښې ماسره اتفاق اوكړو او په شلو كښې زما سره اخـٔ لاف اوكړو چه دا غلط دى . په دغه وخت كښې ما دَ ځان سره دا كـلـكه اراده اوكړه چه زۀ به ترمرګه پورې دَ هغوى نه علم حاصلوم . پس زۀ دَ هغوى نه جُدا نۀ شوم تردې پورې چه هغوى وفات شول .

۳۹﴾...... خطـيـب دَ امـام ابـويـوسف او ابـو مـحـمـد الحارثى دَ هيـثـم بـن عـدى نــه روايـت كـړې دې او دا دواړه حـضرات دَ امام اعظم ابـوحـنـيـفـه رحـمـه الـلـه نـه روايـت كـوى چـه امـام صاحب رحمه الله اوفـرمـائـيـل : چه كله ما علم حاصل كړو نو ما تمام علوم خپلې مخې تـه كيښـودل ، پـه يـو يـو فـن كښـې مې غور او فكر اوكړو او دَ هغې دَ مـنـافعو او انجام مې جائزه واخسته ( ليكن په هر علم كښې ما څۀ نه

څۀ خرابي اوليدّه ) بيا ما دَ فقه جائزه واخسته څومره چه به ما دا اړوله راړوله نو دَ هغې دَ عظمت به زما په زړۀ کښې اضافه کيدله . او ما اوليدل چه په دې علم کښې دَ علماؤ ، فقهاؤ او مشائخو او صاحبِ بصيرت خلقو صحبت نصيب کيږي او دَ هغوی دَ اخلاقو دَ اختيارولو موقع ملاويږی . ما اندازه اوکړه چه دَ دينی فرائضو صحيح کوشش او دَ الله صحيح عبادت بغير دَ فقه نه ممکن نۀ دې . او هم په دې فقه سره دنيا او آخرت دواړه درست کيدی شی چنانچه زۀ بيا په فقه کښې مشغول شوم .

﴿۴۰﴾...... هشام بن مهران فرمائی چه په شروع کښې به امام صاحب رحمه الله دَ مسائلو جواب نۀ شو ورکولې ، او خپله امام صاحب رحمه الله فرمائی چه ما به په دې علم کښې داسې حصه نۀ اخسته لکه څنګه چه اوس اخلم .ما يو ځل خوب اوليدو چه په هغې سره زۀ اويريدم . ما اوليدل چه زۀ دَ رسول الله ﷺ قبر کنوم . کله چه زۀ بصرې ته راغلم نو ما يو کس ته اووئيل چه دَ امام ابن سيرين رحمه الله نه ددې دَ تعبير په باره کښې پوښتنه اوکړه . په تپوس کولو سره هغوی اوفرمائيل چه دا کس به دَ رسول الله ﷺ احاديثو لره په تحقيق سره بيانوی . کله چه ما ددې خوب تعبير واوريدو نو ما په دې علم کښې نور زيات محنت هم شروع کړو ، بيا امام صاحب اوفرمائيل : اې الله ! انجام ئې ښۀ اوګرځوې . "

﴿۴۱﴾...... فرمائي : چه دَ رسول الله ﷺ حديث راشی نو په سر

سترګو قبول ، او کهٔ چرې په یو مسئله کښې دَ صحابهٔ کرامو نه اقوال وی نو مونږ به په هغوی کښې دَ یو صحابی قول اخلو او دَ هغوی نه به خروج نهٔ کوو البته کهٔ چرې دَ تابعینو ( یعنی دَ امام صاحبؒ دَ خپل هَم عصرو علماؤ ) اقوال وی نو دَ هغوی په مقابله کښې مونږ خپله رائې پیش کولې شو .

۴۲ ﴾...... امام صاحب رحمه الله فرمائی چه عجیب خبره ده چه خلق وائی چه زهٔ په خپلې رائې سره فتوىٰ ورکوم حال دادې چه زما فتوىٰ اکثر په نقل باندې مبنی وی . "

۴۳ ﴾...... یو صاحب عرض اوکړو چه دَ اعراض واجسامو په باره کښې کوم اقوال بیانولې شی دَ هغې باره کښې ستاسو څهٔ رائې ده ؟ امام صاحبؒ ورته اوفرمائیل : چه دا ټول دَ فلاسفهٔ خبرې دی ( دا خبرې پریږدئ ) او دَ سلف صالحینو په طریقه باندې نصوص وآثار اختیار کړئ ، او اوګورئ دداسې قسم نوی خبرو نه ځان ساتئ دا بدعت دې . "

۴۴ ﴾...... حسن بن زیاد دَ امام صاحب رحمه الله نه نقل کړې دی چه دَ هیچا دپاره جائز نهٔ دی چه هغه دَ کتاب الله او سنت رسول په مقابله کښې خپله رائې پیش کړی ، دغه شان دَ اجماع صحابه په مقابله هم خپله رائې پیش کول جائز نهٔ دی ، البته په کومو مسائلو کښې چه دَ صحابهٔ کرامو په خپل مابین کښې اختلاف وی نو مونږ به دَ هغوی دَ اقوالو نه یو قول اختیاره وو . ددې تیر شوو مسائلو نه

علاوه چه کوم مسائل دی په هغې کښې دَ فقهاؤ دَ اجتهاد او قياس گنجائش شته دې . "

٤٥﴾...... امام ابويوسف رحمه الله به فرمائيل چه زهٔ دَ خپل مور او پلار نه هم مخکښې دَ امام ابو حنيفه رحمه الله دپاره دُعا کووم . ما دَ امام صاحب نه اوريدل هغوی فرمائيل : چه زهٔ کله هم دَ خپل مور او پلار دپاره دُعا کووم نو خپل استاذ حماد بن ابی سليمان ضرور په دُعا کښې شاملوم .

٤٦﴾...... امام ابو حنيفه رحمه الله چه به کله دَ تهدو دپاره پاسيدو نو اول به ئې گيره کښې گومنز اوکړه او زينت به ئې اختيارولو ( بيا به ئې تهجد کول ) او فرمائيل به ئې چه ما په تهجدو کښې دَقرآن هر سورت لوستلې دې .

٤٧﴾...... فرمائی کهٔ چرې په دين کښې دَ تنگئ خوف نهٔ وو نو ما به خلقو ته فتوىٰ نهٔ ورکوله ، جهنم ته بوتلونکو اعمالو کښې دَ ټولو نه خوفناك څيز فتوىٰ ده . "

٤٨﴾...... حضرت فضل بن دکين رحمه الله فرمائی چه ما دَ امام ابو حنيفه رحمه الله نه اوريدلی دی هغوی فرمائيل : څوك چه زما سره بغض ساتی نو الله تعالىٰ دې هغه لره مفتی جوړ کړی .

٤٩﴾...... يو کس امام ابو حنيفه رحمه الله ته اووئيل چه دَ الله نه اويريږئ ! امام صاحب سر خکته کړو ، مخ ئې زيړ شو او وې فرمائيل اې روره ! الله تعالىٰ دې تاته جزاءِ خير درکړی . کله چه دَ

خلقو علم دَ هغوی په ژبو باندې جاري وی نو ضرورت دې چه هغه ته دَ الله تعالیٰ یاد ورکړې شی ، ددې دپاره چه هغه خپل تمام اعمال دَ الله تعالیٰ دَ رضاء دپاره کوی . "

﴿۵۰﴾...... دَ امام صاحب رحمه الله په وړاندې چه به کله دَ نورو خلقو خبرې نقل کولې شوې نو هغوی به فرمائیل پریږدئ ، دَ خلقو خبرې مهٔ نقل کوئ ، چاچه زما په باره کښې غلطه خبره اوکړه الله تعالیٰ دې هغه ته معافی کوی او چاچه زما په باره کښې ښهٔ خبره اوکړه نو الله تعالیٰ دې پرې رحم اوکړی .

﴿۵۱﴾...... یو ځل امام ابوحنیفه رحمه الله په لاره باندې تیریدلو ، په دې کښې یو کس هغوی لره اولیدو ، بیا چُپ شو او بله لاره ئې اختیار کړه . امام صاحبؒ هغوی ته آواز ورکړو هغه کس راغې نو امام صاحب رحمه الله ورته اوفرمائیل :

" تهٔ څنګه دَ خپلې لارې نه بې لارې شوې ؟

هغه ورته اووئیل : ستاسو په ما باندې څلور زره درهمه قرض دې چه دَ هغې ډیر زیات وخت اوشو او زهٔ تنګدست او فقیر یم په دې وجه ستاسو نه حیاء راغله "

دَ جود او دَ سخا دداسې ډانچې نه قربان شم چه دَ هغه سړی دا عذر أوریدل وو چه امام صاحب رحمه الله ورته اوفرمائیل : سبحان الله کهٔ چرې هم دا وجه وی نو ما دا ټول تاته اوبخښلو او ما خپل ځان په خپل نفس باندې ګواه کړو چه تهٔ مهٔ پټیږه او ماته معافی کوه دَ

هغه خوف نه كوم چه زما دَ جانب نه ستا په زړهٔ كښې واقع شوې دې ".

﴿۵۲﴾...... امام ابويوسف رحمه الله فرمائى چه امام صاحب رحمه الله به فرمائيل كۀ چرې دَ دين دَ ضائع كيدلو ويره نۀ وې نو ما به هيڅ كله هم فتوىٰ نۀ وركوله . چه راحت دې نورو خلقو ته وى او گناه په ما باندې . "

﴿۵۳﴾...... امام ابو حنيفه رحمه الله به فرمائيل چه ما هيچا ته دَ بدئ بدله په بدئ سره نۀ ده وركړې ، نۀ مې په چا لعنت كړې دې ، نۀ مې په چا مسلمان يا ذمى كافر ظلم كړې دې ، نۀ مې دَ چا سره خيانت كړې دې ، نۀ مې چرته كښې چاته دهوكه وركړې ده .

﴿۵۴﴾...... يو ځل امام ابو حنيفه رحمه الله دَ كوفې په جامع مسجد كښې درس وركولو ، يو كس دَ جمات په يو گوټ كښې اودريدو او امام صاحب رحمه الله ته ئې رد بد وئيل شورع كړل ، هغوىؒ دا ټول هرڅۀ اوريدل ، او درس ئې كولو ، خپل شاگردان ئې هم دَ څۀ وئيلو نه منع كړل ، كله چه فارغ شو او بهر ته راووتلو نو هغه كس هم دوى پسې شاته شاته روان وو ، كله چه امام ابو حنيفهؒ دَ خپل كور دروازې ته اورسيدلو نو هغه ته ئې اووئيل چه دا زما كور دې ، كۀ چرې ستا خبره پوره شوې نۀ وى نو راشه پوره ئې كړه ، دَ يريدلو ضرورت نشته دې ، دا چه هغه كس واوريدل نو شرمنده شو او واپس لاړو .

﴿۵۵﴾...... په يو بل روايت كښې دغه شان قصه مذكوره ده چه هغه كس په ټوله لاره باندې امام صاحب رحمه الله ته ردې بدې وئيل او امام صاحب رحمه الله په خاموشئ سره اوريدل ، هيڅ جواب ئې ورنۀ كړو كله چه كور ته اورسيدو نو كور ته داخل شو هغه كس په آواز وركړو اووې وئيل : آيا تۀ ما لره سپې ګڼړې ؟ دَ دننه نه جواب راغې : آو . "

﴿۵٦﴾...... دَ ابو الخطاب جرياني رحمه الله بيان دې چه زۀ يو ځل دَ امام ابو حنيفه رحمه الله سره ناست وُم چه په دې كښې يو نوجوان راغې او دَ امام صاحب نه ئې دَ مسئلې باره كښې تپوس اوكړو ، امام صاحبؒ ورته جواب وركړو نو هغه اووئيل اې ابو حنيفه ! تا غلطي اوكړه ، اهلِ مجلس چُپ چاپ ناست وو ، ما ورته اووئيل تاسو ته ددې شيخ ( امام ابو حنيفةؒ ) دَ عظمت احساس نشته دې چه يو نوجوان راغې او امام صاحب ته داسې خبرې كوى او تاسو ټول خاموش يئ . امام ابو حنيفه رحمه الله زما طرف ته متوجه شو اووې فرمائيل : دوى ته هيڅ مۀ وايئ ما دوى لره ددې عادى جوړ كړې دى .

﴿۵۷﴾...... فرمائى : دَ خپل استاذ حماد بن ابى سليمان دَ عظمت په وجه سره ، دَ هغوى كور ته طرف ته ما چرته كښې خپې نۀ دى خورې كړې . حالانكه زما او دَ هغوى دَ كور په درميان كښې دَ اووۀ كوڅو فاصله ده .

﴿۵۸﴾...... دَ امام صاحب رحمه الله ګزران په خپل تجارت

بانديږ وو او دَ خلقو نه به ئې هدئې کمې اخستلې او دا اشعار به ئې اکثر فرمائيل :

عطاء ذي العرش خير من عطائكم
وسيبه واسع يرجى وينتظر
انتم يكدر ما تعطون منكم
والله يعطي بلا منّ ولا كدر

" دَ عرش والا عطاء ستاسو دَ عطاء نه بهتره ده او دَ هغه دين وسيع دي چه دَ هغې اميد کولې شی ، تاسو چه څۀ ورکوئ نو هغې لره اثباتنه خرابوی او الله تعالیٰ بغير دَ اثباتنې او خرابئ نه ورکړه کوی ".

﴿٥٩﴾...... فرمائی : چا چه علم دَخپلې غاړې هار ( اميل ) جوړ کړو او دَ علم خبره ئې اوکړه مګر هغه ته ددې خبرې احساس نۀ وی چه دَ الله تعالیٰ په دين کښې زۀ دا کومه فتویٰ ورکوم ددې په باره کښې به زما نه سوال کولې شی ، نو دداسې کس جان او دين دواړه په خطره کښې دی .

﴿٦٠﴾...... فرمائی : چه دَ چا صحبت دروند او وزنی وی ، يعنی دَ چا سره په ناسته کښې چه زړۀ ويريږی ، نو هغه نۀ فقه پيژنی او نۀ فقهاء .

﴿٦١﴾...... فرمائی : ما په ګناهونو کښې ذلت محسوس کړو نو هغه مې دَ خپل شرافت په وجه سره ترک کړه . بيا هم دا شرافت په ديندارئ ( يعنی تقویٰ ) کښې بدل شو .

۶۲ ﴿...... فرمائی چه دَ چا علم هغه لره دَ الله تعالیٰ دَ نافرمانئ او دَ حرام کارونو نه منع نهٔ کړی نو هغه په خساره کښې دې .

۶۳ ﴿...... يو کس دَ کپړې بازار ته راغې او تپوس ئې اوکړو چه دَ امام ابو حنيفه رحمه الله فقيه دُکان کوم يو دې ؟ امام صاحب دَ هغه خبره واوريده نو وې فرمائيل : هغه خو فقيه نهٔ دې بلکه په خپل ځان باندې مشقت برداشت کوی او فتویٰ ورکوی .

۶۴ ﴿...... توبة ( العنبری ) فرمائی چه ماته امام ابو حنيفه رحمه الله اوفرمائيل : چه کله زهٔ ځم روان يم او يا خلقو سره خبرې کووم يا اودهٔ يم يا آرام کووم نو په دې دوران کښې زما نه دَ دين په باره کښې سوال مهٔ کوئ ځکه چه په دغه دوران کښې دَ انسان سوچ او خيال مجتمع نهٔ وی .

۶۵ ﴿...... يو کس دَ حضرت علی او دَ امير معاويه رضی الله عنهما دَ اختلافاتو او دَ جنګ صفين دَ مقتولينو په باره کښې تپوس اوکړو نو امام صاحب رحمه الله ورته اوفرمائيل :

کله چه الله تعالیٰ ما لره خپلې مخې ته اودروی نو دَ هغوی په باره کښې به زما نه هيڅ سوال نهٔ کوی ، البته دَ کومو ځيزونو چه زهٔ مکلف جوړ کړې شوې يم زما نه دَ هغه ځيزونو په باره کښې سوال کيږی ، لهذا زهٔ په هغه ځيزونو کښې مشغول کيدل غواړم . " ( دَ کومو په باره کښې چه به زمانه الله تعالیٰ سوال کوی . )

۶۶ ﴿...... سهل بن مزاحم فرمائی چه ما واوريدل امام صاحب

رحمه الله خپلو اصحابو ته فرمائيل : کۀ چرې په دې علم سره ستاسو مقصود خير يعنی دين نۀ دې نو تاسو ته به توفيق نۀ نصيب کيږی .

٦٧﴿...... فرمائی : چه ماته ډير زيات تعجب دې چه خلق په دين کښی صرف په خپلې اندازې سره خبرې کوی ، او صرف په خپل گمان باندې عمل کوی ، حال دادې چه الله تعالىٰ خپل نبی ﷺ ته فرمائيلی دی :

ولا تقف ما ليس لك به علم ان السمع والبصر والفؤاد کل اولئك کان عنه مسئولًا . " [ بنی اسرائيل : ٣٦ ]

" او دَ کومې خبرې چه تاسره تحقيق نۀ وی نو هغې پسې شاه لگيږه مۀ ( اتباع ئې مۀ کوه ) بې شکه دَ غوږونو ، سترگو او دَ زړۀ نه به تپوس کيږی . "

٦٨﴿...... فرمائی : کوم شخص چه دَ دنيا دپاره علمِ دين زده کوی نو هغه دَ علم دَ برکت نه محروم وی ، علم دَ هغه په زړۀ کښی راسخ نۀ وی . او کوم يو کس چه دَ دين علم دَ دين دپاره زده کوی نو هغه ته برکت ورکولې شی ، علم دَ هغه په زړۀ کښی راسخ گرځی ، او علم حاصلولو والا ددې نه فائده اخلی .

٦٩﴿...... فرمائی : په تمامو طاعاتو کښی دَ ټولو نه عظيم طاعت ايمان دې او په تمامو گناهونو کښی بدترينه گناه کفر دې ، چاچه دَ ايمان سره دَ الله تعالىٰ اطاعت اوکړو او دَ بدترين گناه نه بچ شو ، نو دَ باقی گناهونو دَ مغفرت اميد دې .

۷۰﴾...... فرمائی : دَ الله تعالیٰ په دین کښې تفقه حاصل کړئ ، او خلقو طرف ته کتل بند کړئ .

۷۱﴾...... فرمائی : څوك چه دَ آخرت دَ عذاب نه بچکیدل غواړی نو هغه لره پکار دی چه دَ دنیا دَ تکلیفاتو پرواه نۀ کوی . او فرمائی : چه چاته خپل نفس عزیز وی نو په هغه باندې دنیا او دَ دنیا مشقتونه آسان وی .

۷۲﴾...... فرمائی : فقه ( یعنی دَ دین دَ پو هې خبره ) دَ هغه کس په وړاندې مۀ بیانوئ کوم کس چه ددې اوریدل نۀ غواړی . او څوك چه ستا خبره په مینځ کښې کټ کړی نو هغه په زړۀ او خیال کښې مۀ راوَله ځکه چه دَ هغه په علم وادب کښې تاسره محبت نۀ ساتی .

۷۳﴾...... دَ خپل محبوب نفس دپاره ګناه او دَ خپل مبغوض وارث دپاره مال او دولت مۀ جمع کوه .

۷۴﴾...... یو ځل دَ امام ابوحنیفه رحمه الله ځوی حضرت حماد رحمه الله دَ مونځ ورکولو دپاره ورمخکښې شو ، امام صاحب رحمه الله دَ هغه کپړا اونیوله اورائې ښکلو او یو بل کس ئې ورمخکښې کړو ، کور ته چه لاړل نو دَ هغوی ځوی حمادؒ عرض اوکړو چه حضرت تاسو ماله رسوا کول غواړئ امام ابو حنیفه رحمه الله اوفرمائیل نۀ ، بلکه تا خپله دَ خپل ځان رسوا کول غوښتلی وو نو ما منع کړې ځکه کۀ چرې تۀ مونځ ورکوې او یو کس وئیلې چه

ددۀ نه روستو چا مونځ کړې وی هغه واپس راګرځوئ نو دا واقعه به په کتابونو کښې ليکلې شوه چه دا به ستا دپاره ترقيامته پورې دَ عار او دَ شرم باعث وو. بيا ئې اوفرمائيل: دَ عامو خلقو په معاملاتو کښې دخل مۀ کوه." (عقود الجمان)

﴿۷۵﴾...... " امام ابو حنيفة فرمائى چه زۀ په اتيايمه هجرئ کښې پيدا شوم، او په ۹٦ هجرى کښې مې دَ خپل پلار سره حج اوکړو، په دغه وخت کښې زۀ دَ شپاړسو کالو وُم، کله چه مسجدِ حرام ته داخل شوم، نو ما يو حلقه دَ درس اوليده، ما دَ خپل پلار نه تپوس اوکړو چه دا حلقه دَ چا ده؟ هغوى راته اووئيل چه دا دَ صحابى رسول الله ﷺ عبد الله بن حارث بن جزءؓ حلقه ده، دا چه ما واوريدل نو ورمخکښې شوم، نو ما واوريدل چه هغوى فرمائيل: ما دَ رسول الله ﷺ نه اوريدلې دى هغوى ﷺ فرمائيل چه کوم کس دَ الله تعالىٰ په دين کښې پوهه حاصله کړى، نو الله تعالىٰ به دَ هغه دَضروورياتو دپاره کافى شى او هغه ته به بې شانه او بې ګمانه رزق ورکوى.

﴿۳٦﴾...... امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائى چه ما دَ (مشهور صحابىؓ) حضرت انس بن مالك رضى الله عنه نه اوريدلى دى هغوى فرمائيل: چه ما دَ رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى هغوى ﷺ فرمائيل: چه نيکئ طرف ته رابلونکى والا ته به دَ نيك عمل کوونکى په شان ثواب ملاويږى، او الله تعالىٰ دَ مصيبت زده مدد کول ډير خوښوى."

﴿۷۷﴾...... معاویه بن عبد الله بن میسره فرمائی چه ما دَ امام ابو حنیفه رحمه الله نه اوریدلی دی هغوی فرمائیل : چه کوم شخص دَ اهلِ قبله ( یعنی عام مسلمان بالخصوص مخالف مسلمان ) په باره کښی دَ حضرت علی رضی الله عنه دَ سیرت نه اعراض کوی نو هغه ناکام و نامراد دي . "

﴿۷۸﴾...... امام شعبی رحمه الله یو ځل دَ امام ابو حنیفه رحمه الله په وړاندې اووئیل : چه کوم یو بنده دَ معصیت نذر اومنی په هغه باندې کفاره واجب نهٔ ده . امام ابو حنیفه رحمه الله فرمائی چه ما عرض اوکړو چه قرآن مجید خو په ظهار کښی کفاره واجب قرار ګرځولې ده ، او حال دادې چه هم قرآن مجید دَ ظهار په باره کښی دا ارشاد فرمائیلې دې :

﴿ انهم لیقولون منکرًا من القول وزورًا ﴾

( بې شکه دا خلق نامعقول او دروغ خبره کوی . " )

﴿۷۹﴾...... حسن بن زیاد رحمه الله فرمائی چه امام صاحب په خپل مجلس کښی یو شاګرد اولیدو چه هغه زړې کپړې اغوستې وې ، کله چه مجلس ختم شو نو امام صاحبؒ هغه ایسار کړو ، کله چه تمام خلق لاړل او هغه صاحب یواځې پاتې شو نو امام صاحبؒ ورته ډیر زیات نقد قم ورکړو او ورته ئې اوفرمائیل : دا رقم واخله او په دې سره خپل حالت درست کړه ، هغه ورته عرض اوکړو چه زهٔ خو مالداریم ، نعمتونه په کور کښی موجود دی او ماته ددې رقم حاجت

نشته دي . امام صاحب رحمه الله ورته اوفرمائيل : آيا تاته دا حديث نهٔ دي رسيدلې چه الله تعالىٰ غواړی چه په خپلو بندګانو باندې دَ خپلو نعمتونو مشاهده اوکړی . "

تالره پکار دی چه تهٔ خپل حالت درست کړې ددې دپاره چه ستا دوست تالره اووينی او غمژن نهٔ شی . "

﴿۸۰﴾......امام ابويوسف رحمه الله فرمائی : چه امام ابو حنيفه رحمه الله ډير زيات سخی وو او په خپلو پيژندونکو والو به ئې ډير زيات احسان کولو ليکن کهٔ چرې چا به دَ هغوی دَ احساناتو شکريه ادا کوله نو امام صاحب رحمه الله به ورته فرمائيل : چه تاسو زما شکريه ادا کوئ حالانکه دا دَ الله تعالىٰ رزق دې چه دا الله تعالىٰ تاسو ته درکړې دې ، او جناب رسول الله ﷺ به فرمائيل : زهٔ نهٔ تاسو ته څهٔ څيز درکوم او نهٔ ستاسو نه څهٔ څيز منع کوم بلکه زهٔ خو خزانچی يم کوم ځائ چه ( دَ الله دَ جانب نه ) حکم راکولې شی نو هلته ئې خرچ کوم . "

# ۞ دريم مبحث ۞

## ﴿ دَ امام مالك بن انسؒ عقيده ﴾

### الف : دَ توحيد په باره کښې دَ دوی اقوال :

﴿١﴾...... هروی دَ شافعیؒ نه روايت کړې دې چه دَ امام مالك رحمه الله نه دَ توحيد په باره کښې تپوس اوکړې شو ، نو مالك ورته اوفرمائيل : " محاله ده چه دَ نبی ﷺ په باره کښې دا گمان اوکړې شی چه هغویٰ خو دې خپل امت ته استنجاء ښودلې وی ، او توحيد به ئې نهٔ وی ښودلی . توحيد هم هغه دې کوم چه رسول الله ﷺ بيان فرمائيلی دې : " امرت ان اقاتل الناس حتیٰ يقولوا لا اِلٰه الا الله " ١ـ ( ماته حکم کړې شوې دې چه زهٔ دَ خلقو سره قتال اوکړم تردې پورې چه هغوی دَ لا اله الا الله اقرار اوکړی . لهٰذا په کوم څيز سره چه دَ مال اودَ جان حفاظت کيږی نو هم هغه دَ توحيد حقيقت دې . " ٢ـ

---

١ـ بخاری کتاب الزکوة ، باب وجوب الزکوٰة ( ٣ / ٢٦٢ ) حديث نمبر ١٣٩٩ ، مسلم کتاب الايمان ، باب الامر بقال الناس حتیٰ يقولوا لا اله الا الله محمد رسول الله ( ١ / ٥١ ) حديث نمبر ٣٢٤ .

٢ـ ذم الکلام ( ورقه ـ ٢١٠ . )

﴿۲﴾...... دارقطني دَ وليد بن مسلم نه روايت کړې دې وائي چه ما دَ مالك ، ثوري ، اوزاعي او دَ ليث بن سعد نه دَ صفاتو متعلق دَ احاديثو په باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی راته اوفرمائيل : چه څنګه راغلې دی نو هم هغه شان ئې قبول کړه . "١ـ

﴿۳﴾...... ابن عبد البر رحمه الله فرمائی : " دَ امام مالك رحمه الله نه تپوس اوکړې شو چه آيا الله جل شانه به په قيامت کښې ليدې شی ؟ هغوی ورته اوفرمائيل آو . الله جل شانه فرمائی : " وجوه يومئذ ناضرة الىٰ ربها ناظرة . " ٢ـ

" ډير مخونه به په دغه ورځ تروتازه وی ، او خپل رب ته کتونکی وی . "

او دَ يو بل قوم په باره کښې ئې فرمائيلی دی : ﴿ كلا انهم عن ربهم يومئذ لمحجوبون ﴾ ٣ـ " هرګز نهٔ . بیشکه دا خلق به په دغه ورځ دَ خپل رب نه په پردو کښې پټ وی . " ۴ـ

١ـ دا اثر په دارقطني کښې په صفات ص ٧۵ کښې ، آجري په الشريعه ص ٣١۴ کښې ، بيهقی په الاعتقاد ص ١١٨ کښې ، ابن عبد البر په التمهيد کښې ٧/ ١۴٩ کښې روايت کړې دې .

٢ـ سورة : آيت ٢٢ .

٣ـ سورة المطففين : آيت ١۵ .

۴ـ الانتقاء ص ٣٦ .

او قاضی عياض په ترتيب المدارك ١ ـ دَ ابن نافع ٢ ـ او دَ اشهب ٣ ـ نه ذکر کړې دی چه هغوی اوونيل . او دوی په يو بل باندې اضافه کوی . چه اې ابو عبد الله ! " وجوه يومئذ ناضرة الیٰ ربها ناظرة . "

" ډير مخونه به په دغه ورځ تروتازه وی ، او خپل رب ته کتونکی وی . "نو آيا دوی به الله جل شانه لره وينی ؟ هغوی ورته اوفرمائيل آو ، دوی به ئې په دواړو سترګو وينی . ما هغوی ته اوونيل : يو قوم وائی چه الله تعالیٰ به نهٔ شی ليدلې کيدې . او دَ ناظرة معنیٰ داده چه هغوی به دَ ثواب منتظر وی . هغوی ورته په جواب کښې اوفرمائيل : دا خلق دروغ وائی بلکه الله جل شانه به ليدلې شی ، آيا تاسو دَ حضرت موسیٰ عليه السلام دا وينا نهٔ ده آوريدلې چه :

.................................................

١ ـ الانتقاء : ٢/ ٤٢ .

٢ ـ دَ امام مالكؒ نه دَ نافع نومی دوه کسانو روايت کړې دې ، اولنې عبد الله بن نافع بن ثابت ، زبيری ابوبکر مدنی ، ددې په باره کښې ابن حجر ليکی چه دې صدوق دې . او په ٢١٦ هجریٔ کښې وفات شوې دې . دويم عبد الله بن نافع بن ابی نافع مخزومی ، ددوی په باره کښې ابن حجر ليکی " دې ثقه دې ، صحيح الکتاب دې . ، دَ دوی په حفظ کښې نرمی ( ضعف ) دې .

٣ ـ دا اشهب بن عبد العزيز بن داود قيسی ابو عمر مصری دې ، دَ دوی په باره کښې ابن حجر وائی چه دوی ثقه او فقيه دې ، په ٢٠٤ هجری کښې وفات شوې دې . "

﴿ ربِ ارنی انظر الیك ﴾ ١ـ اې زما ربه ! ماته ځان اووښایه چه زهٔ تا اووینم . " آیا تاسو ګنړئ چه ګِنی حضرت موسیٰ علیه السلام دَ الله جل شانه نه دَ محال څیز سوال کړې وو ؟ . بیا الله تعالیٰ اوفرمائیل : ﴿ لَنْ تَرَانِیْ ﴾ ٢ـ تهٔ ما هِرګز نهٔ شې لیدې . " یعنی په دنیا کښې ، ځکه چه دارِ فنا دې او باقی پاتې کیدونکی څیز په فنا کیدونکی څیز سره نهٔ شی لیدلې کیدې . البته چه کله خلق دار البقاء ته منتقل شی نو باقی پاتې کیدونکی څیز به باقی پاتې کیدونکی څیز لره وینی ، او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ کلا انهم عن ربهم یومئذ لمحجوبون ﴾ ٣ـ " هرګِز نهٔ . بیشکه دا خَلق به په دغه ورځ دَ خپل رب نه په پردو کښې پټ وی . "

﴿٤﴾...... او ابو نعیم دَ جعفر بن عبد الله نه روایت کړې دې چه مونږ دَ انس بن مالك سره وو چه یو کس راغې اووې وئیل : اې ابو عبد الله ! ﴿ الرحمٰن علی العرشِ استویٰ ﴾ ( رحمٰن په عرش باندې مستوی شو ) څنګه مستوی شو ؟ نو امام مالك ته په هیڅ یوه خبره باندِ دومره غصه نهٔ وه ورغلې څومره چه ددې سړی په سوال باندې غصه ورغله . هغوی زمکې طرف ته اوکتل ، او دَ هغوی په لاس کښې یو لرګی وو ، چه په هغې سره به ئې زمکه ګروله ، تردې پورې

---

١ـــ ٢ـ سورة الاعراف : آیت نمبر ١٤٣ .

٣ـ سورة المطففین : آیت ١٥ .

چه په هغوی باندې خوَله راغله ، بیا ئې سر اوچت کړو ، لرګې ئې اوغورزولو اووې فرمائیل : ددې کیفیت دَ پوهې نه پورته دې ، او دَ الله تعالیٰ استویٰ مجهوله نهٔ ده ، او په هغې باندې ایمان واجب دې ، او دَ هغې متعلق سوال کول بدعت دې ، او زهٔ تا لره صاحبِ بدعت ګنړم ، او دَ هغه کس په باره کښې ئې حکم ورکړو او دَ هغه ځائ نه بهر کړې شو . ۱ـ

﴿۵﴾ ...... او ابونعیم دَ یحییٰ بن ربیع نه روایت کړې دې چه زهٔ دَ حضرت انس بن مالك رحمة الله علیه سره ووم ، او په هغوی باندې یو کس داخل شو اووې وئیل : اې ابو عبد الله ! تاسو دَ هغه کس په باره کښې څهٔ وایئ چه هغهٔ وائی قرآن مخلوق دې ؟ امام مالك رحمه الله ورته اوفرمائیل : داسې کس زندیق دې . ۲ـ قتل ئې کړئ . هغهٔ ورته اووئیل : اې ابو عبد الله ! زهٔ خو صرف یو کلام نقل کوم لکه څنګه چه ما آوریدلې دی ، امام مالكؒ ورته اوفرمائیل چه ما خو

.........................................

۱ـ حلیه (٦/ ۳۲۵ ، ۳۲٦) دې لره صابونی په عقیدة السلف اصحاب الحدیث ص ۱۷ ، ۱۸ کښې دَ جعفر بن عبد الله عن مالك په طریق سره روایت کړې دې .

۲ـ زندیق : لفظ دَ زندیق دَ فارسۍ نه معرب دې ، دا لفظ اول اول مسلمانانو په هغه خلقو باندِ دَ دلالت دپاره استعمال کړو چه هغوی دَ مانویه مذهب مطابق دَ نور او ظلمت دوو اصلو قائل وو ، بیا دَ هغوی په نزد باندې ددې معنیٰ وسیع شوه ، چنانچه دا ملحدانو ، دهریانو او تمام باطل او ګمراه فرقو ته شامل شو .

داسې دَ هیچا نه نهٔ دی آوریدلی ، دا خو ما صرف ستا نه واؤریدل ، او دا قول ئې سنګین قرار اوګرځوو . " ۱ـ

﴿٦﴾...... او ابن عبد البر دَ عبد الله بن نافع نه روایت کړې دې چه حضرت امام مالك بن انس رحمه الله فرمائی ، چه کوم کس دا وائی چه قرآن مجید مخلوق دې ، هغهٔ ته دې دردناك وهل ورکړې شی ، او په قید کښې دې واچولې شی ، تردې پورې چه توبه اوباسی . " ۲ـ

﴿۷﴾...... او ابو داؤد دَ عبد الله بن نافع نه روایت کړې دې ، چه امام مالك رحمه الله فرمائیلی دی ، الله جل شانه په آسمان کښې دې ، او دَ هغهٔ علم هر ځائ کښې دې . " ۳ـ

## ب : دَ تقدیر په باره کښې دَ هغویٓ قول :

﴿۱﴾...... ابو نعیم دَ ابن وهب ۴ـ نه روایت کړې دې چه ما دَ مالك نه اوریدلې دی چه یو کس ته ئې فرمائیل : پرون تا زما نه دَ تقدیر په باره کښې سوال کړې وو ؟ هغهٔ ورته اووئیل : آؤ ، امام مالك رحمه الله ورته اوفرمائیل : الله تعالیٰ فرمائی : " ولو شئنا لأتینا کل

۱ـ حلیه ( ٦/٣٢٥ ) دې لره لالکالی په شرح دَ اصولِ اعتقاد اهلِ سنة والجماعت ( ۱/ ۲۴۹ ) کښې دَ ابو محمد یحییٰ بن خلف عن مالك په طریق سرهٔ روایت کړې دې ، او قاضی عیاض رحمه الله په ترتیب المدارك ( ۲/ ۴۴ ) کښې ذکر کړې دی . "

۲ـ الانتقاء ص ۳۵ .

نفس هُداها ولكن حق القول مني لأملئنّ جهنم من الجنة والناس اجمعين ...... " ۱ـ (كهٔ چرې مونږ غوښتې وې نو هريو نفس ته به ئې هدايت كړې وې ، ليكن زما قول برحق دې چه جهنم لره به دَ جن او انس نه ډكوم . " او الله جل شانه چه څهٔ فرمائيلى دى ضرورى ده چه هغهٔ به پوره كوى . " ۲ـ

﴿۲﴾...... قاضى عياض رحمه الله فرمائى چه دَ حضرت امام مالك رحمه الله نه دَ منكرينِ تقدير په باره كښى تپوس اوكړې شو چه دا كوم خلق دى؟ هغوى اوفرمائيل : دا هغهٔ خلق دى چه دوى وائى الله تعالىٰ بدئ نهٔ دى پيدا كړې . او هم دارنګه دَ هغوى نه دَ منكرينِ تقدير په باره كښى تپوس اوكړې شو نو دوى ورته په جواب كښى اوفرمائيل : چه دا هغه خلق دى چه وائى چه استطاعت دَ دوى په لاس كښى دې كهٔ چرې دوى غوارى نو اطاعت به كوى او كهٔ غوارى نو معصيت كوى . " ۳ـ

﴿۳﴾...... او ابن ابى عاصم دَ سعيد بن عبد الجبار نه روايت كړې دې چه ما دَ امام مالك بن انس رحمه الله نه اوريدلې دى هغوى فرمائيل : زما رائې دَ دوى په باره كښى داده چه په دوى دې توبه

---

۱ـ سورة السجده : آيت ۱۳

۲ـ حليه ۶/ ۳۲۶ .

۳ـ ترتيب المدارك ( ۲/ ۴۸ ) او اوګورئ شرح اصول اعتقاد اهل سنة والجماعة ۲/ ۷۰۱ .

اوونيستـلې شى ، كۀ توبه اوباسى نو تيك ده ، ورنه دوى دې قتل كړې شى ، يعنى منكرينِ تقدير . " ١ـ

﴿۴﴾ ...... ابـن عبـد البر رحـمه الله فرمائى " امام مالك رحمه الله اوفـرمـائيـل : ما هيڅ يو منكرِ تقدير نۀ دې ليدې مگر سخافت ، طيش او كمزورتيا والا . " ٢ـ

﴿۵﴾ ...... او ابـن ابـى عـاصـم دَ مـروان بـن مـحـمد طاطرى نـه روايت كړې دې چـه مـا دَ امـام مـالك رحـمـه الله نـه آوريدلې دى ، دَ هغوى نه دَ منكرينِ تقدير سره دَ وادۀ كولو په باره كښى تپوس اوكړې شـو چـه دَ هغوى سره وآدۀ ( نكاح ) كول څنگه دى ؟ نو هغوى دا آيت تـلاوت اوفـرمـايۀ ﴿ ولعبد مؤمن خير من مشرك ﴾ ٣ـ (يقيناً مؤمن غلام دَ مشرك نه بهتر دې " " ) ۴ـ

﴿٦﴾ ...... قـاضـى عيـاض رحـمه الله فرمائى چه حضرت امام مـالك رحـمـه الـلـه فـرمـائـى دَ مـنـكـرِ تقدير چه څوك داعى وى ، او دَ خارجى او رافضى گواهى جائز نۀ ده . " ٥ـ

---

١ـ السنة لابـن ابى عـاصـم ١/ ٨٧ ، ٨٨ . دې لـره ابـو نـعيم هم په حليه كښى روايت كړې دې . ٦/ ٣٢٦ .

٢ـ الانتفآء ص ٣۴ .

٣ـ سورة البقرة آيت ٢٢١ .

۴ـ السنة لابن ابى عاصم ١/ ٨٨ حليه ٦/ ٣٢٦ .

٥ـ ترتيب المدارك ٢ / ۴٧ .

﴿٧﴾ ...... او قاضي عياض رحمه الله فرمائي چه دَ امام مالك رحمه الله نه دَ منكرينِ تقدير په باره كښې تپوس اوكړې شو چه آيا مونږ دَ هغوى سره دَ خبرو اترو كولو نه منع شو ؟ آؤ ، حال دادې چه هغوى په كومه خبره باندِ وى چه دَ هغې معرفت لرى . او په يو بل روايت كښې دى چه هغوى اوفرمائيل : دَ هغوى په اقتداء كښې مونځ مۀ كوئ ، او دَ هغوى نه حديث مۀ قبلوئ ، او كۀ چرې تاسو هغوى لره په سرحد باندې بيا مومئ نو هغوى لره دَ هغه ځائ نه اوباسئ . " ١ـ

## ج : دَ ايمان په باره كښې دَ هغوىؒ اقوال :

﴿١﴾ ...... ابن عبد البر دَ عبد الرزاق بن همام نه روايت كړې دې وائى چه ما دَ ابن جريج ٢ـ ، سفيان ثورى ، معمر بن راشد ، سفيان ن عيينه او دَ مالك بن انس نه اوريدلې دى چه هغوى فرمائيل : " ايمان قول او عمل دې ، كميږى او زياتيږى. " ٣ـ

﴿٢﴾ ...... او ابو نعيم دَ عبد الله بن نافع نه روايت كړې دې فرمائى چه مالك ابن انس رحمه الله فرمائى : " ايمان قول او عمل دې . " ۴ـ

١ـ ترتيب المدارك ( ٢/ ۴٧ ) .

٢ـ عبد الملك بن عبد العزيز بن جريج رومى اوموى ، مولائے بنى اميه مكى . ددوى په باره كښې امام ذهبى رحمه الله فرمائى ، امام ، حافظ ، فقيهِ حرم دې ، په ١٥٠ هجرئ كښې وفات شوې دې . تذكرة الحفاظ ١/ ١٦٩ .

٣ـ الانتقاء ص ٣۴ ۴ـ حليه ٦/ ٣٢٧ .

﴿٣﴾...... او ابن عبد البر دَ اشهب بن عبد العزيز نه روايت کړې دې ، فرمائى چه امام مالك رحمه الله فرمائيلى دى چه خلقو بيت المقدس طرف ته شپاړس مياشتې مونځونه کول ، بيا هغوى ته بيت الحرام ( کعبه شريفه ) طرف ته دَ مونځ کولو حکم ورکړې شو ، نو الله جل شانه اوفرمائيل : ﴿ وما کان الله ليضيع ايمانکم ﴾ ١ـ ( الله تعالىٰ ستاسو ايمان لره . يعنى بيت المقدس طرف ته ستاسو مونځ لره ، بربادؤلو والا نۀ دې ) امام مالك رحمه الله فرمائى چه په دې باندې دَ مرجئه دا قول ذکر کوم چه مونځ دَ ايمان نه نۀ دې . " ٢ـ

## د : دَ صحابۀ کرامو په باره کښې دَ امام مالك رحمه الله اقوال :

﴿١﴾...... ابو نعيم دَ عبد الله عنبرى ٣ـ نه روايت کړې دې، فرمائى چه مالك بن انس وئيلى دى چه کوم يو کس دَ رسول الله ﷺ په صحابۀ کرامو رضي الله عنهم کښې دَ چا تنقيص کوى يا دَ هغۀ په زړۀ کښې دَ يو صحابى سره کينه وى نو دَ هغۀ دپاره به دَ مسلمانانو په مالِ فئ (

.........................................

١ـ سورة البقره : آيت ١٤٣ .

٢ـ الانتفاء ص ٣٤ .

٣ـ عبد الله بن سوار بن عبد الله عنبرى بصرى قاضى . دَ دوى په باره کښې حافظ ابن حجرؒ فرمائى ، چه دې ثقه دې ، دَ دوى وفات په ٢٢٨ هجرئ کښې شوې دې او بعضو ددې نه علاوه هم وئيلى دى ، تقريب التهذيب ١/ ٤٢١ ، تهذيب التهذيب ٥/ ٢٤٨ .

( غنيمت ) كښې هيڅ حصه نۀ وى ، بيا ئې دَ الله تعالىٰ دا قول تلاوت اوفرمايۀ ﴿ والـذيـن جآء وا من بعدهم يقولون ربنا اغفرلنا ولاخواننا الذين سبقونا بالايمان ولا تجعل في قلوبنا غلا ﴾ ١ـ

( او مـالِ فـئ ( دَ هـغـۀ خـلـقو دپاره هم دي ) كوم چـه لـه دې ( مهاجرينـو او انـصارو صـحـابۀ كرامو ) نه بعد راشى ، چه هغوى به وائـى اې زمـونږه ربه ! زمونږ مغفرت اوكړې او زمونږ دَ هغه رونړو هم مـغـفـرت اوكـړې كـوم چـه زمـونـږ نه مخكښې ايمان راوړې دې ، او دَ ايـمـان دارو طـرف تـه زمـونـږ پـه زړونـو كښې كينه مۀ اچوه . " ) لهذا څوك چـه دَ دوى تـنـقـيص كـوى ، يا ئې له دوى سره په زړۀ كښې كينه وى نو دَ هغوى دپاره په مالِ فئ كښې هيڅ حصه نشته . " ٢ـ

﴿٢﴾ ...... ابـو نـعيم پـه اولادِ زبيركښې دَ يو كس ٣ـ نه روايت كـړې دې چه مونږ خلق دَ مالك سره وو ، خلقو دَ يو كس ذكر اوكړو چه هغۀ دَ صحابۀ كرامو تنقيص كوو ، امام مالك رحمه الله دا آيت

..............................................

١ـ سورة الحشر : آيت ١٠

٢ـ حليه ٦/ ٣٢٧ .

٣ـ دَ زبيـر بن عوام دَ نسل نه چه چا دَ امام مالك رحمه الله شاگردى كړې ده او دَ هـغـوى نـه سـماع كړې ده هغۀ عبد الله بن نافع بن ثابت بن عبد الله بن زبير بن عـوام دې ، دَ دوى تـذكـره مـخـكـښـې تيـره شـوې ده . او مـصعب بن عبد اللـه بن مصعب ، دَ دوى تعارف راروان دې . "

تلاوت اوفرمایهٔ ﴿ محمد رسول الله و الذين معه اشدآء على الكفار "
ترَدَ " يعجب الزراع ليغيظ بهم الكفار " پورې ﴾ ١ـ یعنی محمد ﷺ دَ الله تعالیٰ رسول دې ، او کوم خلق ( صحابهٔ کرام ) چه له هغوی سره دی ، په کفارو باندِ سخت او خپل مابین کښې نرم دی . تاسو به دوی لره رکوع او سجد کؤنکی وینئ چه په دې سره به دوی دَ الله تعالیٰ فضل او رضاء طلب کوی ، ددې علامت یعنی دَ سجدو اثر دَ هغوی په مخونو باندِ دې ، دا په تورات کښې دَ هغوی مثل ( صفت ) دې . تر دَ آیت آخره پورې . )

بیا امام مالك رحمه الله اوفرمائیل : دَ چا په زړهٔ کښې چه دَ اصحابِ رسول ﷺ نه دَ یو کس په باره کښې هم غیظ وی ، نو هغهٔ لره پکار دی چه دا آیت لولی ( او په دې باندې غور او فکر اوکړی نو بیا به دَ هغهٔ دَ زړهٔ نه دَ صحابهٔ کرامو سره بغض او کینه ختمه شی .٢ـ

﴿٣﴾ ...... او قاضی عیاض رحمه الله دَ اشهب بن عبد العزیز نه روایت کړې دې چه مونږ دَ امام مالك رحمه الله سره وو ، چه دَ هغوی سره خوا کښې دَ علوی خلقو نه یو کس اودریدو . او خلق به دَ هغهٔ مجلس ته راتلل ، هغهٔ آواز اوکړو : اې ابو عبد الله ! امام مالك دَ هغهٔ دپاره سر پورته کړو ، او هغوی ته چه به کله هم چا آواز کولو نو هغوی به ددې نه زیات بل څهٔ جواب نهٔ ورکولو چه دَ هغهٔ دپاره به ئې

.........................................

١ـ سورة الفتح : آیت ٢٩ .

٢ـ حلية ٦ / ٣٢٧ .

سر پورته کولو ، هغویٌ ته طالبی اووئیل : زهٔ دا غوارم چه تاسو لره دَ خپل ځان او دَ الله تعالیٰ په مابین کښې حجت اوګرځوم ، چه کله زهٔ الله تعالیٰ ته پیش کړې شم او هغهٔ زما نه تپوس اوکړی نو زهٔ به ورته وایم چه ماته داخبره مالك کړې ده .

هغوی ورته اوفرمائیل : اووایه .

هغهٔ کس اووئیل : دَ رسول الله ﷺ نه بعد دَ ټولو نه بهتر شخص څوك دې ؟ هغوی ورته اوفرمائیل : حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه . علوی اووئیل بیا څوك ؟ امام مالك رحمه الله ورته اوفرمائیل : بیا حضرت عمرؓ . علوی اووئیل : بیا څوك ؟ هغوی ورته اوفرمائیل : ظلمًا قتل کړې شوې خلیفه حضرت عثمان غنی رضی الله عنه . علوی اووئیل : په الله قسم ! زهٔ به تا سره هِرګز نهٔ کینم . امام مالك رحمة الله علیه ورته اوفرمائیل : تاته اختیار دې . "١ـ

## خ : په دین کښې دَ کلام او خصوماتو نه دَ هغویٌ ممانعت :

﴿١﴾ ...... ابن عبد البر رحمه الله دَ مصعب بن زبیری ٢ـ نه

..............................................................

١ـ ترتیب المدارك ٢ / ٤٤ ، ٤٥ .

٢ـ مصعب بن عبد الله بن مصعب بن ثابت بن عبد الله بن زبیر بن عوام اسدی مدنی ، نزیل نغداد . دَدوی متعلق حافظ ابن حجر رحمه الله لیکلی دی چه صدوق دې . دَ نسب عالم دې ، په ٢٣٦ هجریٔ کښې وفات شوې دې . " تقریب التهذیب ٢ / ٢٥٢ ، دَ دوی ترجمه په تهذیب التهذیب کښې اوګورئ . ١٢

روايت کړي دي چه امام مالك بن انس به فرمائيل : چه زۀ په دين کښې کلام نۀ خوښوم ، او زمونږ دَ ښار او علاقې خلق برابر دا ناخوښه ګنړي او ددې نه ممانعت کوي ، لکه دَ جهميه ؤ رائې ، انکارِ تقدير او ددې په شان نورو څيزونو کښې خبرے کول . او هغوی به صرف په هغه څيز کښې خبرې کول خوښول چه دَ هغې لاندې به څۀ عمل وو ، باقی پاتې شو دَ الله تعالیٰ دَ دين په باره کښې او دَ الله تعالیٰ په باره کښې خبرې کول ، نو سکوت زما په نزد باندِ زيات خوښ دې ، ځکه چه ما خپل ښار والا ليدې دی چه هغوی دَ دين په باره کښ دَ کلام نه منع کوی ، سوا دَ هغې نه چه دَ هغې لاندې څۀ عمل وی . " ١ـ

﴿٢﴾ ...... ابو نعيم دَ عبد الله بن نافع نه روايت کړې دې چه ما دَ مالك نه واؤريدل هغوی فرمائيل : کۀ چرې يو کس ددې نه سوا چه دَ الله تعالیٰ سره شرك اوکړی، دَ ټولو کبائرو ارتکاب اوکړی ، او ددې بدعاتو او اهواء نه خالي وی . او هغوی دَ علمِ کلام ذکر اوکړو نو هغۀ به جنت ته ځی . " ٢ـ

﴿٣﴾ ...... او هروی دَ اسحاق نم عيسٰی ٣ـ نه روايت کړې دې چه امام مالك رحمه الله اوفرمائيل : چه کوم يو کس دَ علمِ کلام په

.............................................

١ـ جامع بيان العلم وفضله ص ٤١٥ ، مطبوعه دار الكتب الاسلاميه .

٢ـ حليه (٦/ ٣٢٥)

٣ـ اسحاق بن عيسیٰ بن نجيح بغدادی دَ دوی په باره کښې ابن حجر وائی چه دې صدوق دې په ٢١٤ هجریٔ کښې وفات شوې دې . تقريب التهذيب ١ / ٦٠ .

ذريعې سره دين طلب کوي نو هغهٔ به زنديق کيږي ، او څوك چه دَ کيمياء په ذريعې سره مال طلب کوی هغهٔ مفلس کيږی او څوك چه غريب الحديث طلب کوی هغهٔ به دروغ وائی . " ١ ـ

﴿٤﴾ ...... خطيب دَ اسحاق بن عيسىٰ نه روايت کړې دې چه ما دَ مالك ابن انس رحمه الله نه آوريدلې دی چه هغوی په دين کښی جدال معيوب قرار ګرځولې وو ، او فرمائيل ئې : ، چه کله هم مونږ ته يو کس راغلې دې چه هغهٔ به دَ بل نه زيات جدال والا وو نو هغهٔ زمونږ نه هم دا غوښتلی دی چه حضرت جبرئيلِ امين عليه السلام نبی کريم ﷺ ته څهٔ راوړې دی چه هغه مونږ رَد کړو . " ٢ ـ

﴿٥﴾...... او هروی دَ عبد الرحمٰن بن مهدی نه روايت کړې دې وائی چه زهٔ په امام مالك رحمه الله باندِ داخل شوم ، او دَ هغوی سره يو کس وو چه دَ هغوی نه ئې سوال کولو ، هغوی ورته اوفرمائيل : غالبًا چه تهٔ دَ عمرو بن عبيد دَ ملګرو نه ئې ، او الله تعالىٰ دې په عمرو بن عبيد باندِ لعنت اوکړی ، ځکه چه هغهٔ دَ کلام دا بدعت جاری کړې دې ، او کهٔ چرې کلام هم څهٔ علم وې نو صحابهٔ کرامو رض او تابعينو به په دې کښی خبرې اترې کړې وې ، لکه څنګه چه هغوی په احکام او شرائعو کښی خبرې اترې کړې دی . " ٣ ـ

............................................

١ ـ ذم الکلام ( ورقه ١٧٣ ـ الف )

٢ ـ شرف اصحاب الحديث ص ٥ .

٣ ـ ذم الکلام ( ورقه ١٧٣ ـ ب ) .

﴿٦﴾ ...... او هروی دَ اشهب بن عبد العزیز نه روایت کړې دې چه مونږ دَ امام مالك رحمه الله نه واوریدل هغوی فرمائیل : چه " تاسو دَ بدعاتو نه ځان اوساتئ . تپوس اوکړې شو اې ابو عبد الله ! بدعات څهٔ دی ؟ وې فرمائیل اهلِ بدعت هغهٔ خلق دی کوم چه دَ الله تعالیٰ په اسماؤ ، صفاتو ، او دَ هغهٔ په کلام او علم وقدرت کښې خبرې کوی ، او دَ هغه خبرې نه نهٔ خاموش کیږی دَ کومې نه چه صحابهٔ کرام او تابعین خاموش شوې دی . " ١ـ

﴿٧﴾ ...... او ابو نعیم دَ امام شافعی رحمه الله نه روایت کړې دې چه : " امام مالك رحمه الله ته به کله بعضِ اهلِ اهواء راتلل ، نو هغوی ته به ئې فرمائیل چه زهٔ دَ خپل رب او دَ خپل دین دَ طرف نه په واضح دلیل باندې یم ، او تاسو محض په شك کښې مبتلا یئ ، لهذا دَ ځان غوندی شکی کس ته لاړ شئ او هم دَ هغهٔ سره جنګ وجدال کوئ . " ٢ـ

﴿٨﴾ ...... ابن عبد البر رحمه الله دَ محمد بن احمد بن خویزمنداد مصری مالکی نه روایت کړې دې هغوی دَ خپل کتاب الخلاف په کتاب الاجاراة کښې لیکلی دی چه " امام مالك رحمه الله فرمائیلی دی چه دَ اهواء ، بدعات او دَ تنجیم والو په هیڅ یو کتاب کښې اجارې جائز نهٔ دی . هغوی څو کتابونه ذکر کړل ، بیا ئې

......................................

١ـ ذم الکلام ( ورقه ١٧٣ . الف ) .

٢ـ حلیه ٦/ ٣٢٣ .

اوفرمائيل چه زمونږ دَ اصحابو په نزد باندې دَ اهلِ اهواء او بدعاتو كتابونه دَ اصحابِ كلام معتزله وغيره كتابونه دى ، او په دې كښى به اجاره فسخ كيږى ." ١ـ

دا دَ توحيد او صحابهٔ كرامو رضى الله عنهم او دَ ايمان او علم كلام وغيره په سلسله كښى دَ امام مالك رحمة الله عليه دَ موقف او دَ اقوالو څو نمونې دى ."

---

١ـ جامع بيان العلم وفضله ص ٢١٦ ، ٢١٧ ، مطبوعه دار الكتب الاسلاميه .

# ❁ څلورم مبحث ❁

## ﴿ دَ امام شافعی رحمه الله عقیده ﴾

### الف : دَ توحید په باره کښې دَ امام شافعیؒ قول :

﴿۱﴾ ...... بیهقی دَ ربیع بن سلیمان نه روایت کړې دې فرمائی چه امام شافعی رحمه الله فرمائی : چه څوك په الله تعالیٰ یا دَ هغهٔ په نومونو کښې په یو نوم باندِ قسم اوخوری ، بیا قسم مات کړی نو په هغهٔ باندِ کفاره ده . او څوك چه په چا غیر الله قسم اوکړی ، مثلًا یو سړې داسې اووائی زما دې په کعبه قسم وی ، زما دې په پلار قسم وی ، او ددې څیز قسم او دَ هغه څیز قسم وغیره وغیره او بیا په خپل قسم کښې حانث شو نو په هغهٔ باندې کفاره نشته ، او ددې وئیلو په شان دا هم دی چه څوك داسې اووائی " زما دې په خپل عمر قسم وی . " ...... په دې باندې هم کفاره نشته ، او دا په غیر الله قسم دې ، لهذا دا دَ رسول الله ﷺ ددې قول په رُو سره مکروه او ممنوع دې چه : " انّ الله عز وجل نهاکم ان تحلفوا بآبائکم ، فمن کان حالفًا فلیحلف با الله او لیسکت " ۱ مـ (الله تعالیٰ تاسو منع کړې یئ په خپلو آباؤ

باندې دَ قسم خوړلو نه، لهٰذا په تاسو کښې چه څوك قسم کوی نو هغهٔ دې په الله تعالیٰ سره قسم کوی، يا دې چُپ اوسی. ") ٢ـ

او امام شافعی رحمه الله ددې وجه دا بيان کړې ده چه دَ الله تعالیٰ نوم غير مخلوق دې، لهٰذا چه چا دَ الله تعالیٰ په يو نوم سره قسم اوکړو او بيا ئې مات کړو نو په هغهٔ باندې کفاره ده ٣ـ

﴿٢﴾ ...... او ابن القيم په اجتماع الجيوش کښې دَ امام شافعی رحمه الله نه دا خبره ذکر کړې ده چه هغوی فرمائيلی دی چه هغه سنت په کوم باندې چه زهٔ يم، او په کوم باندې چه ما خپل اصحاب او اهلِ حديث ليدلې دی، دَ کومو نه چه ما علم حاصل کړې دې او کوم چه ما ليدلې دی لکه سفيانِ ثوری او امام مالك رحمه الله وغيره، ددې سنت په باره کښې قول دادې چه دَ " لا إلٰه الا الله، محمد رسول الله ." اقرار دې وی او ددې خبرې اقرار دې وی چه الله تعالیٰ په خپل عرش باندې په خپل آسمان کښې دې، په خپل مخلوق کښې چه ئې چاته خوښه شی نزدې کيږی، او دا چه الله تعالیٰ دَ زمکې آسمان ته نزول کول اوغواړی نو نزول فرمائی. " ٤ـ

---

١ـ بخاری، کتاب الايمان والنذر، باب لاتحلفوا بآبائکم ١١/ ٥٣٠. مسلم کتاب الايمان، باب النهی عن الحلف بغير الله ٣/ ١٢٦٦ حديث نمبر ١٦٤٦.

٢ـ مناقب الشافعی ١/ ٣٠٥.

٣ـ دې لره ابن ابی حاتم په آداب الشافعی ص ١٩٣ کښې نقل کړې دی.

٤ـ اجتماع الجيوش الاسلاميه ص ١٦٥، اثبات صفة العلو ص ١٢٤.

﴿۳﴾ ...... او امام ذهبی رحمه الله دَ مزنی" نه دا خبره نقل کړې ده چه هغوی اووئيل : دَ توحيد په تعلق سره کۀ چرې يو کس زما دَ زړۀ او ضمير خبره او زما زړۀ سره لګيدلې شوې څيز راؤباسی نو هغۀ امام شافعی رحمه الله دې ، لهٰذا زۀ هغوی ته لاړم ، هغوی دَ مصر په جمات کښې وو ، کله چه زۀ هغوی ته مخامخ کيناستم ، نو ما ورته اووئيل چه زما په زړۀ کښې دَ توحيد يوه مسئله پيدا شوې ده او ماته پته ده چه ستاسو په شان علم بل چاته نشته ، نو تاسو سره څۀ دی ؟ په دې باندې هغوی غصه شول او وې فرمائيل : تاته معلومه ده تۀ کوم ځائ ئې ؟ ما ورته اووئيل : آؤ . هغوی راته اوفرمائيل دا هغۀ ځائ دې چه دلته کښې الله تعالیٰ فرعون غرق کړې دې . آيا تاته دا خبره راسيدلې ده چه رسول الله ﷺ ددې متعلق دَ سوال کولو حکم کړې دې ؟ ماورته اووئيل : نۀ . هغوی اوفرمائيل آيا ددې په باره کښې صحابۀ کرامو کلام کړې دې ؟ ما ورته اووئيل : نۀ . هغوی راته اوفرمائيل : په آسمان کښې څومره ستوری دی ؟ ما ورته اووئيل : نۀ . هغوی راته اوفرمائيل : تۀ په هغې کښې دَ يو ستوری جنس ، دَ هغې طلوع ، دَ هغې غروب، او چه هغۀ دَ څۀ نه پيدا کړې شوې دی ، دا تاته معلوم دی ؟ ما ورته اووئيل : نۀ . هغوی راته اوفرمائيل چه تۀ دَ مخلوق نه يو څيز نۀ پيژنې حال دادې چه تۀ هغې لره په خپلو سترګو سره وينی ، او دَ هغې دَ خالق په باره کښې سوال کوې ؟ ، بيا ئې زما نه دَ وضوء دَ يو مسئلې تپوس اوکړو ، ما په هغې کښې غلطی اوکړه ، بيا

هغوی په څلورو وجو سره دَ هغې تفريع اوکړه او ما دَ يو هم څۀ صحيح جواب ورنۀ کړې شو هغوی راته اوفرمائيل چه دَ يو څيز چه تۀ هغې ته په ورځ کښې پنځۀ ځله محتاج ئې دَ هغې په باره کښې دې علم پريخودو او دَ خالق دَ علم تکلف کوې ؟ کله چه ستا په زړۀ کښې څۀ داسې خبره راشی نو دې قول طرف ته رجوع کوه : " والٰهکم الٰه واحد لا الٰه الا هو الرحمٰن الرحيم () انّ فی خلق السمٰوٰت والارض ﴾ ۱ـ (او ستاسو معبود صرف يو معبود دې ، دَ هغۀ نه سوا بل هيڅوك دَ عبادت لائق نشته دې . هغۀ رحمٰن او رحيم دې ، بيشکه دَ زمکې او دَ آسمان په پيدا ئش کښې ......... دَ عقلمندو دپاره نشانئ دیّ . " ) پس په مخلوق سره په خالق باندِ استدلال کوه ، او کوم څيز ته چه ستا عقل نۀ رسيږی دَ هغې تکلف مۀ کوه . " ۲ـ

﴿۴﴾ ...... او ابن عبد البر رحمه الله دَ يونس بن عبد الاعلیٰ ۳ـ نه روايت کړې دې چه ما دَ امام شافعی رحمه الله نه اوريدلې دی هغوی فرمائيل : چه کله تاسو دَ يو کس نه دا واورئ چه هغۀ وائی چه اسم غير مسمیٰ دې ، يا شئ يا غير شئ دې نو دَ هغۀ دَ زنديق کيدو

.........................................................

۱ـ سورة البقرة آيت نمبر ۱٦۳ ، ۱٦۴ .

۲ـ سير اعلام النبلاء ۱۰ / ۳۱ .

۳ـ دا يونس بن عبد الاعلی بن ميسره صدفی مصری دې ، دَ دوی په باره کښې ابن حجر وائی چه دا دې ثقه دې . دَ لسمې طبقې دَ صغارو نه دې . په ۲٦۴ هجری کښې وفات شوې دې . تقريب التهذيب : ۲/ ۳۸۵ .

گواهي ورکړئ . ۱ـ

﴿۵﴾ ...... او امام شافعی رحمه الله په کتاب الرساله کښي فرمائيلي دی چه " حمد دې الله تعالیٰ لره ...... چه هغهٔ هم هغه شان دې لکه ځنګه چه ئې خپل ځان خپله متصف کړې دې ، او دَ هغې نه اوچت او بالا دې لکه ځنګه چه مخلوق هغهٔ لره متصف کړې دې ۲ـ

﴿٦﴾...... او امام ذهبی رحمه الله په سير کښي دَ امام شافعي رحمه الله نه ذکر کړې دی چه : " هغه صفات کوم چه قرآن مجيد ذکر کړې دی ، يا په کومو باندِ چه سنت وارد شوې دې مونږ هغې لره ثابت منو ، او په هغې سره دَ تشبيه نه منع کوو . لکه ځنګه چه هغه دَ ځان نه خپله نفی کړې دی او فرمائيلی ئې دی : " ليس کمثله شيئ " ۳ـ ( دَ هغهٔ په مثل هيڅ څيز نشته . ) ۴ـ

﴿۷﴾ ...... او ابن عبد البر رحمه الله دَ ربيع بن سليمان نه روايت کړې دې چه هغوی فرمائيل : ما دَ امام شافعی رحمه الله نه آوريدلې دی چه هغوی ددې قول دَ الله تعالیٰ په باره کښي فرمائيل : ﴿ کلا انهم عن ربهم يومئذ لمحجوبون ﴾ ۵ـ ( هرګز نهٔ . هغه خلق

........................................

۱ـ الانتفاء ص ۷۹ ، مجموع الفتاویٰ ٦ / ۱۸۷ .

۲ـ الرسالة ص ۷ ، ۸ .

۳ـ سورة الشوریٰ : آيت نمبر ۱۱ .

۴ـ سير ۲۰ / ۳۴۱ .

۵ـ سورة المطففين : آيت ۱۵ .

به په دې ورځ باندې دَ رب نه په پرده کښې ساتلې شي . ") چه الله تعالیٰ ددې په ذریعې سره دا اوښودل چه هلته کښې به یو قوم وی چه هغوی به په پرده کښې نۀ وی ، بلکه هغوی به الله تعالیٰ ته ګوری ، او په دې لیدو کښې به هغوی دَ یو بل دپاره پرده نۀ جوړیږی . " ۱ـ

﴿۸﴾ ...... او لالکائی دَ ربیع بن سلیمان نه روایت کړې دې چه زۀ محمد بن ادریس شافعی سره حاضر ووم ، هغوی ته دَ صعید ( بالائی مصر ) نه یوه رقعه راغله ، په هغې کښې دا وو چه تاسو دَ الله تعالیٰ ددې قول په باره کښې څۀ وایئ : ﴿ کلا انهم عن ربهم یومئذ لمحجوبون ﴾ ( هرګز نه ، هغوی به په دې ورځ دَ خپل رب نه په پرده کښې ساتلی شی ) امام شافعی رحمه الله فرمائی چه کله دا خلق دَ ناراضګئ په عبب سره په پرده کښې کړې شی نو دا دلیل دې چه دَ رضا په صورت کښې به خلق خپل رب وینی . ربیع وائی : ما اووئیل : اې ابو عبد الله ! تاسو ددې قائل یئ ؟ هغوی اوفرمائیل : آؤ ، دَ الله تعالیٰ سره زما هم دا دین دې . " ۲ـ

﴿۹﴾ ...... او ابن عبد البر دَ جارود نه روایت کړې دې چه دَ امام شافعی رحمه الله په وړاندې دَ ابراهیم بن اسماعیل بن علیه ۳ـ ذکر

---

۱ـ الانتفآء ص ۷۹ .

۲ـ شرح اصول اعتقاد اهل سنة والجماعت ۲ / ۵۰۶ .

۳ـ دا ابراهیم بن اسماعیل بن علیه دې. ددوی متعلق امام ذهبی وائی جهمی دې ، تباه دې ، مناظره بهٔ ئې کوله دَ خلقِ قرآن قائل وو ، ۲۱۸ هـ کښې وفات دې .

امام شافعي رحمه الله اوفرمائيل: زۀ په هريو څيز کښې دَ هغۀ مخالف يم، په لا اله الا الله وئيلو کښې هم دَ هغۀ مخالف يم، هغه شان ئې نۀ وايم څنګه چه ئې هغه وائى. زۀ وايم دَ الله نه سوا بل اله او معبود نشته، الله هغه ذات دې چه موسىٰ عليه السلام سره ئې دَ پردې دَ اخوا نه کلام اوفرمائيلو، او هغۀ وائى چه دَ هغه الله نه سوا بل هيڅ معبود نشته چه هغۀ کلام پيدا کړو او دَ پردې دَ شاته نه ئې موسىٰ عليه السلام ته واؤروو. ١ـ

﴿١٠﴾ ...... او لالکائى دَ ربيع بن سليمان نه روايت کړې دې چه امام شافعي رحمه الله فرمائيلى دى چه: " څوك وائى چه قرآن مخلوق دې، هغۀ کافر دې. " ٢ـ

﴿١١﴾ ...... او بيهقى دَ ابو محمد زبيرى نه روايت کړې دې چه يو کس امام شافعي رحمه الله ته اووئيل چه ماته دَ قرآن مجيد په باره کښې اوايئ آيا قرآن خالق دې؟ هغوى ورته اوفرمائيل: يا الله. نۀ قرآن خالق نۀ دې، بيا هغه کس اووئيل: قرآن مخلوق دې؟ امام شافعىؒ اوفرمائيل: يا الله. نۀ قرآن مخلوق نۀ دې. هغۀ اووئيل: غير مخلوق دې؟ امام شافعىؒ اوفرمائيل: يا الله! آؤ. هغۀ اووئيل ددې دليل څۀ دې چه قرآن مجيد غيرِ مخلوق دې؟ امام شافعي

............................................

١ـ الانتفاء ص ٧٩، او دا قصه حافظ دَ بيهقى په مناقبِ شافعي کښې ذکر کړې ده، اللسان: ١/ ٣٥.

٢ـ شرح اصول اعتقاد اهلِ سنة والجماعت ١/ ٢٥٢.

رحمه الله سر اوچت کړو او ورته ئې اوفرمائيل : تهٔ اقرار کوې چه قرآن مجيد دَ الله کلام دې ؟ هغهٔ ورته اووئيل : آؤ جی . امام شافعی رحمه الله ورته اوفرمائيل : تهٔ په دې خبره کښې مسبوق ئې ، الله تعالىٰ فرمائی : ﴿ وان احد من المشركين استجارك فاجره حتىٰ يسمع كلام الله ﴾ ١ـ ( کهٔ چرې دَ مشرکينو نه يو کس له تاسو نه پناه غواړی نو ورته پناه ورکړئ تردې پورې چه هغهٔ دَ الله کلام واوری . )

﴿ و كلم الله موسىٰ تكليمًا ﴾ ٢ـ ( او موسىٰ ؑ سره الله تعالىٰ کلام اوکړو . ) امام شافعی رحمه الله ورته اوفرمائيل : تهٔ اقرار کوې چه الله وو او دَ هغهٔ کلام وو ؟ يا الله تعالىٰ وو او دَ هغهٔ کلام نهٔ وو ؟ هغهٔ کس ورته ددې په جواب کښې اووئيل : الله وو او دَ هغهٔ کلام هم وو ، په دې باندې امام شافعی رحمه الله اوخندل او وې فرمائيل : اې خلقو ! کله چه تاسو اِقرار کوئ چه الله تعالىٰ دَ مخکښې نه هم مخکښې وو او دَ هغهٔ کلام هم وو ، نو تاسو خلق يوه غټه خبره راؤړئ ، اوس تاسو دا خبره دَ کوم ځائ نه کوئ چه کلام يا خو الله دې ، يا ماسوی الله دې ، يا غير الله دې ، يا سوا دَ الله نهٔ دې ؟ وائی چه په دې باندې هغهٔ کس چپ چاپ اووتلو . ١ـ

........................................

١ـ سورة التوبه : آيت ٦ .

٢ـ سورة النسآء : آيت ١٢۴ .

٣ـ مناقب الشافعی رحمه الله ١ / ٢٠٧ ، ٢٠٨ .

﴿۱۲﴾ ...... او دَ ابو طالب عشاری ۱ـ په روایت سره امام شافعی رحمه الله طرف ته منسوب جزء الاعتقاد کښې دا عبارت دې، فرمائی چه دَ هغوی نه دَ الله جل شانه دَ صفاتو په باره کښې تپوس اوکړې شو، نو هغوی ورته اوفرمائیل: دَ الله تعالیٰ وتبارك ډیر نومونه او صفات دی، کوم چه دَ هغهٔ په کتاب کښې راغلې دی، او دَ کوم خبر چه رسول الله ﷺ خپل امت ته ورکړې دې. په مخلوق کښې دَ چا دپاره هم، چه دَ هغوی په نزد باندې دا حجت قائم شوې دې چه قرآن مجید په محمد ﷺ باندِ نازل شوې دې، او دَ چا په نزد چه دَ عادل په روایت سره دَ نبی کریم ﷺ قول صحیح شوې وی، ددې خلاف گنجائش نشته دې، کهٔ چرې څوك دَ حجت دَ ثابت کیدو نه بعد هم مخالفت کوی نو هغهٔ په الله جل شانه کفر کوی، البته دَ خبر دَ جهت نه په هغهٔ باندې دَ حجت دَ تمام کیدو نه مخکښې هغهٔ دَ جهل په بناء باندې معذور دې، ځکه چه دَ هغهٔ دَ علم ادراك نهٔ په عقل سره کیدې شی او نهٔ په درایت او فکر سره، او ددې مثال دادې چه الله تعالیٰ دا خبر ورکړې دې چه هغهٔ سمیع دې، دَ هغهٔ دوه لاسونه دی، دا دَ الله تعالیٰ قول مبارك دې ﴿ بل یداه مبسوطتان ﴾ ۱ـ
( بلکه دَ هغهٔ دواړه لاسونه خوارهٔ او کهولاؤ دی ) او دا چه دَ الله تعالیٰ دپاره ښی لاس دې، دَ الله تعالیٰ قول دې ﴿ والسمٰوٰت

---

۱ـ سورة المآئده : آیت ٦۴ .

مطويات بيمينه ﴾ ١ـ .

او دا چه دَ الله تعالىٰ دپاره وجهه ده ، لکه دَ الله تعالىٰ قول دې ﴿ كـل شئ هالك الا وجهه ﴾ ٢ـ ( هـر څيـز هلاكيدونكې دې مګر مخ دَ اللـه تعالىٰ .) او دا چه دَ الله تعالىٰ دپاره خپه ده ، دَ نبى كريم ﷺ ارشاد دې ﴿ حتىٰ يضع الرب عزوجل فيها قدمه " ﴾ ٣ـ ( تردې پورې چه الله تعالىٰ به په دې كښې ( يعنى په جهنم كښى ) خپل قدم كيږدى .

او اللـه تـعـالـىٰ خاندى ، ځكه چه كوم يو كس دَ الله تعالىٰ په لاره كښـى شهيـد شى نـو دَ هغهٔ په باره كښى نبى كريم ﷺ فرمائى : ﴿ لـقى الله عزوجل وهو يضحك اليه ﴾ ۴ـ ( هغهٔ به دَ الله عزوجل سره پـه داسې حال كښى ملاويږى چه الله تعالىٰ به هغهٔ ته خاندى .) او دا چـه الـلـه تـعـالـىٰ هره شپـه آسمانِ دنيا ته نزول كوى ، ځكه چه رسول الله ﷺ ددې خبر وركړې دې ، او بل دا چه الله تعالىٰ كانا نهٔ دې ، ځكه چه نبى كريم ﷺ دَ دجال ذكر اوكړو نو وې فرمائيل : " انه اعور ، وان ربكـم ليس باعور " ۵ـ ( دجال كانا دې ( پـه ستركـه كښى

---

١ـ سورة الزمر : آيت ٦٧ . ٢ـ سورة القصص : آيت ٨٨ .
٣ـ بخارى كتاب التفسير ، باب : وتقول هل من مزيد " ٨/ ۵٩۴ . حديث نمبر ۴٨۴٨. ۴ـ بخارى ، كتاب الجهاد باب الكافر يقتل المسلم ٦ / ٣٩ .
۵ـ بخارى ، كتاب الفتن ، باب ذكر الدجال ١٣ / ١٩ ، حديث : ٧١٣١ .

ئې عيب دې ) او الله تعالىٰ كانا نهٔ دې .

او دا چه مؤمنين به دَ قيامت په ورځ باندې خپل رب وينى لكه څنګه چه دَ څورلسمې شپې سپوږمۍ ته ګورى ، او دا چه دَ الله تعالىٰ دپاره ګوتې دى . څکه چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى : " ما من قلب الا وهو بين اصبعين من اصابع الرحمٰن عزوجل . " ١ـ

( هيڅ يو زړهٔ نشته دې مګر دا دَ رحمٰن عزوجل په دوو ګوتو كښى دې . " )

او دا معانى په كومو سره چه الله تعالىٰ خپل ځان متصف كړې دې ، او په كومو سره چه رسول الله ﷺ متصف كړې دې دَ هغې حقيقت په فكر او درايت سره نهٔ شى پيژندلې كيدې ، او دَ هغې دَ نهٔ پيژندلو دَ وجې نه به چاته تر هغه وخته پورې كافر نهٔ شى وئيلى كيدې ترڅو چه هغه كس ته ددې خبر اونهٔ رسيږى . او كله چه دا خبر داسې وى چه دَ هغې اوريدل په فهم او پو هه كښى دَ مشاهدې قائم مقام وى نو په آوريدونكى باندې ددې دَ حقيقت تسليمول ضرورى دى ، او ددې ګواهى وركول هم دارنګه ضرورى دى لكه چه دهٔ خپله رسول الله ﷺ ليدلې وى او دَ هغوى ﷺ نه ئې آوريدلې وى . البته مونږ دا صفات ثابت منو ، او دَ تشبيه نفى كوو ، لكه څنګه چه خپله

---

١ـ احمد فى مسنده ۴/ ١٨٢ . ابن ماجه فى مقدمه ، باب فى ما انكرت الجهميه ١ / ٧٢ حديث نمبر ١٩٩

الله تعالىٰ دَ ځان نه ددې نفى کړې ده ، چنانچه فرمائيلى ئې دى ﴿ ليس کمثله شئ وهو السميع العليم ﴾ ۱ـ

( دَ الله جل شانه په شان هيڅ يو څيز نشته ، او هغهٔ آوريدونکى او ليدونکى دې ) جزء الاعتقاد ۲ـ ختم شو .

## ب : دَ تقدير په باره کښې دَ هغوى قول :

﴿۱﴾ بيهقى دَ ربيع بن سليمان نه روايت کړې دې چه دَ امامِ شافعى رحمه الله نه دَ تقدير په باره کښې تپوس اوکړې شو نو هغوى اووئيل :

| | |
|---|---|
| ما شئت کان وان لم أشأ | وما شئت ان لم تشأ لم يکن |
| خلقت العباد على ما علمت | ففى العلم يجرى الفتى والمسن |
| على ذا مننت وهذا خذلت | وهذا أعنت وذا لم تعن |
| فمنهم شقى ومنهم سعيد | ومنهم قبيح ومنهم حسن |

تا چه څهٔ اوغوښتل هغهٔ اوشول اگر چه ما اونهٔ غوښتل ، او ما چه څهٔ اوغوښتل او تا اونهٔ دى غوښتلى نو هغهٔ اونهٔ شول . تا دَ خپل علم مطابق بندگان پيدا کړې دى ، چنانچه ځوانان او بوډاگان ټول ستا په علم کښې دننه چليږى . په هغوى باندې تا احسان اوکړو ،

................................

۱ـ سورة الشورىٰ : آيت ۱۱ .

۲ـ ددې الاعتقاد اصل مخطوط دَ ليډن يونيورسټى مرکزى لائيبريرئ کښې محفوظ دې ، دَ هغې دَ مصور نسخې نه دا نقل کړې شوې دې .

او دوی دې بې يار ومددګار پرېښودل ، دَ هغهٔ دې اعانت اوکړو ، او ددهٔ دې اعانت اونهٔ کړو ، نو په دوی کښې بعضِ نيک بخت او بعضِ بدبخت دی ، بعضِ بد دی او بعضِ ښهٔ دی . "

﴿۲﴾ ...... بيهقی په مناقب الشافعی کښې ذکر کړې دی چه امام شافعی رحمه الله فرمائيلی دی : " دَ بندګانو مشيت دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دې ، بندګان تر هغه وخته پورې يو کار او يو عمل کول نهٔ غواړی ترڅو چه الله تعالیٰ اونهٔ غواړی ، ځکه چه بندګانو خپل اعمال نهٔ دی پيدا کړی ، بلکه دَ بندګانو افعال دَ الله تعالیٰ په پيدا کولو سره پيدا شوې دی ، او ښهٔ او بد تقدير دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دې ، او عذاب قبر حق دې ، او دَ اهلِ قبور نه سوال جواب کول حق دی ، او دَ مرګ نه بعد دوباره پورته کيدل حق دی ، او حساب حق دې ، او جنت او جهنم حق دې ، او ددې نه علاوه هغه تمامې خبرې هم دَ کومو ذکر چه په احاديثو کښې راغلې دې . ۱ـ

﴿۳﴾ ...... او لالکائی دَ مزنی نه روايت کړې دې ، وائی چه امام شافعی رحمه الله اوفرمائيل : تاسو ته پته ده منکرينِ تقدير څوک دی ؟ هغوی وائی چه الله تعالیٰ څهٔ څيز پيدا کړې نهٔ دې تردې پورې چه هغه دَ عمل لاندې راغلې " ۲ـ

.............................................

۱ـ مناقب الشافعی (۱/ ۴۱۵)

۲ـ شرح اصول اعتقاد اهلِ سنة والجماعت (۲/ ۷۰۱)

﴿۴﴾ ...... بيهقي دَ امام شافعي رحمه الله نه ذکر کړې دی چه " قدريه ( منکرينِ تقدير ) هغۀ خلق دی چه دَ هغوی په باره کښې رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه ﴿ هم مجوس هٰذه الامة ﴾ ۱ـ دا خلق ددې امت مجوس دی ." دا هغه خلق دی چه دوی وائی الله تعالیٰ معاصی نۀ پيژنی تردې پورې چه هغه اوکړې شی ." ۲ـ

﴿۵﴾ ...... او بيهقي دَ ربيع بن سليمان نه روايت کړې دې ، او هغۀ دَ امام شافعي رحمه الله نه روايت کوی چه هغوی دَ قدری ( منکرينِ تقدير ) په اقتداء کښې مونځ کول مکروه گڼړلو ." ۳ـ

## ج : دَ ايمان په باره کښې دَ هغویؒ قول :

﴿۱﴾ ...... ابن عبد البر رحمه الله دَ ربيع نه روايت کړې دې چه ما دَ امام شافعي رحمه الله نه اوريدلی دی چه هغوی فرمائيل : ايمان دَ قول ، عمل او دَ زړۀ اعتقاد ته وائی ، دَ الله تعالیٰ دې قول ته نۀ گورئ : ﴿ وما کان الله ليضيع ايمانکم ﴾ ۴ـ يعنی الله تعالیٰ ستاسو ايمان يعنی بيت المقدس ته مونځ کول نۀ ضائع کوی ." نو مونځ ئې ايمان اووئيلو او دا دَ قول او دَ عمل او دَ زړۀ دَ ارادې نوم دې ."

..................................................

۱ـ ابوداود کتاب السنة ، باب فی القدر ۵/ ۶۶ ، حديث نمبر ۴۶۹۱ ، او امام حاکم په مستدرك کښې ۱/ ۸۵ ، دواړو دَ ابو حازم نه دَ عن ابن عمر په طريق باندِ روايت کړې دې . ........ ۱۲

۲ـ مناقب الشافعی ۱/۴۱۳ .

۳ـ مناقب الشافعی ۱/ ۴۱۳

۴ـ سورة البقره : آيت ۱۴۳ .

﴿۲﴾ ...... او بیهقی دَ ربیع بن سلیمان نه روایت کړې دې چه ما دَ امام شافعی رحمه الله نه اوریدلې دی چه ایمان ، قول او عمل دې ، زیاتیږی او کمیږی . " ۱ ـ

﴿۳﴾ ...... او بیهقی دَ ابو محمد زبیری نه روایت کړې دې چه یو کس امام شافعی رحمه الله ته اووئیل : کوم یو عمل الله تعالیٰ ته ډیر افضل دې ؟ امام شافعی رحمه الله اوفرمائیل : دَ کوم نه بغیر چه څۀ عمل نۀ شی قبلولې . هغۀ ورته اووئیل دا څۀ څیز دې ؟ امام شافعی رحمه الله اوفرمائیل : په الله جل شانه باندې ایمان راؤړل ، چه دَ الله نه سوا بل معبود نشته ، دا درجه دَ تمامو اعمالو نه افضل او اعلیٰ ده ، په مرتبه کښې دَ ټولو اعمالو نه اشرف او په نصیب کښې دَ ټولو نه روښانه ده .

هغۀ کس امام شافعی رحمه الله ته اوفرمائیل چه تاسو ماته دَ ایمان په باره کښې ولې نۀ وایئ چه دا قول او عمل دې او کۀ قول بلا عمل دې ؟ امام شافعی رحمه الله اوفرمائیل : ایمان دَ الله تعالیٰ دپاره عمل دې او قول ددې عمل حصه ده . دې کس اووئیل ماته دا بیان کړئ تردې پورې چه دا زما په پوهه کښې راشی . امام شافعی رحمه الله اوفرمائیل : دَ ایمان حالات ، درجات او طبقات دی ، ددې نه یو قسم تام دې چه هغۀ منتهاء ته رسیدلې دې . او یو ناقص دې چه دَ هغې نه ناقص کیدل واضح دی . او یو راجح دې چه دَ هغې رجحان زائد دې .

---

۱ ـ مناقب الشافعی رحمه الله ( ۱ / ۳۸۷ ) .

دې کس اوونیل : بنۀ ده خو ایمان پوره کیږی هم او کمیږی یاتیږی هم ؟ امام شافعی رحمه الله اوفرمائیل : آؤ . هغۀ کس ورته اوونیل : ددې دلیل څۀ دې ؟ امام شافعی رحمه الله ورته اوفرمائیل : الله جل شانه ایمان لره دَ بنی آدم په اعضاؤ باندِ فرض کړې دې او دَ دوی په درمیان کښې ئې تقسیم کړې دې ، چنانچه ددۀ په اعضاؤ کښې هیڅ یو اندام نشته مګر هغې ته دَ ایمان هغه حصه حواله شوې ده کومه چه دَ بلې حصې نه علاوه دې ، او دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه مقرر ده.

ددې اعضاؤ او اندامونو نه یو اندام زړۀ دې چه ددې په ذریعې سره انسان پوهه حاصله وی ، او دا ددۀ دَ جسم امیر دې چه ددې زړۀ دَ رائې نه بغیر باقی اعضاء نۀ پیش قدمی کوی او نۀ اخوا دیخوا کیږی

او ددې اعضاؤ نه دوه سترګې دی چه په هغې سره بنی آدم لیدل کوی ، او دواړه غوږونه دی چه په دې سره آوریدل کوی . او دواړه لاسونه دی چه په دې سره نیول کوی ،او دواړه خپې دی چه په دې سره تلل کوی . او ددۀ شرمګاه ده چه دَ هغې دَ طرف نه قوةِ باه ده ، او ددۀ ژبه ده چه په دې سره وئیل کوی او ددۀ سر دې چه په هغې کښې ددۀ مخ دې .

په زړۀ باندې ئې هغه څیز فرض کړې دې چه هغۀ په ژبه باندې دَ فرض کرده څیز نه مختلف دې ، او په غوږونو باندې ئې هغه څیز فرض کړې دې چه هغه په سترګو باندې دَ فرخ کرده څیز نه مختلف دې ، او په لاسونو باندې ئې هغه څیز فرض کړې دې چه

هغه په خپو باندې دَ فرض کړده څيز نه مختلف دې او په شرمګاه باندې ئې هغه څيز فرض کړې دې چه هغه په مخ باندې دَ فرض کړده څيز نه علاوه او مختلف دې .

الله تعالیٰ چه په زړۀ باندې دَ ايمان څۀ حصه فرض کړې ده هغه اقرار ومعرفت دې ، عزم او رضاء وتسليم دې ، چه دَ الله تعالیٰ نه سوال بل معبود نشته ، هغۀ تنهاء دې هيڅوك ورسره شريك نشته ، دَ هغۀ نۀ بی بی شته او نۀ اولاد ، او دا چه محمد ﷺ دَ الله بنده او رسول دې ، او دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه چه کوم يو نبی يا کتاب هم راغلې دې دَ هغې اقرار خو دا څيز دې کوم چه الله تعالیٰ په زړۀ باندې فرض کړې دې او هم دا دَ هغې عمل دې . ﴿الا من اکره وقلبه مطمئن بالايمان ولکن من شرح بالکفر صدرًا﴾ ١ـ ( مګر په چا چه سختی او زبردستی اوکړې شوه او دَ هغۀ زړۀ دَ ايمان سره مطمئن وو ، لين چا چه په کفر سره سينه کهولاؤ کړه ( نو په هغۀ باندې دَ الله تعالیٰ غضب دې . الخ ") او فرمائی ﴿الا بذکر الله تطمئن القلوب﴾ ٢ـ ( ياد ساتئ چه په ذکر دَ الله سره زړونه مطمئن کيږی . ) اوفرمائی : من الذين قالوا امنا بافواههم ولم تؤمن قلوبهم﴾ ٣ـ ( دَ خلقو نه څۀ خلق داسې هم دی چه هغوی په خپلو خُلو سره وائی چه مونږ ايمان راؤړې دې حالانکه دَ هغوی زړونو ايمان نۀ دې

---

١ـ سورة النحل : ايت ١٠٦ . ٢ـ سورة الرعد : آيت ٢٨ .

٣ـ سورة المائده : آيت ٤١ .

راؤړي )

او الله تعالیٰ په ژبه باندې دا فرض کړې دی چه په زړهٔ کښې کومه خبره موجوده وی چه ژبه په هغې اقرار اوکړی ، چه هغه بیان کړی او دَ هغې تعبیر اوکړی ، چنانچه ددې په باره کښې ئې فرمائیلی دی : ﴿ قولوا امنا بالله ﴾ ۱ـ ( تاسو اووایئ چه مونږ په الله ایمان راؤړې دې ) او فرمائی : ﴿ وقولوا للناس حسنًا ﴾ ۲ـ ( دَ خلقو سره ښهٔ خبرې کوئ ) نو دا هغه څیز دې کوم چه الله تعالیٰ په ژبه فرض کړې دې ، یعنی دَ زړهٔ خبره وئیل او دَ هغې تعبیر کول ، او هم دا دَ ژبې عمل دې او هم دا هغه ایمان دې کوم چه په دې فرض دې .

او الله تعالیٰ په غوږ باندې فرض کړې دی چه دَ الله تعالیٰ دَ حرام کړده څیزونو دَ آوریدو نه منزه او پاك وی ، او دَ هغهٔ دَ منع کړده څیزونو نه دې لرې وی ، چنانچه فرمائی ﴿ وقد نزل علیکم فی الکتاب ان اذا سمعتم آیت الله یکفر بها ویستهزء بها فلا تقعدوا معهم حتیٰ یخوضوا فی حدیث غیره انکم اذا مثلهم ﴾ ۳ـ

( او په تاسو باندې الله تعالیٰ په کتاب کښې دا خبره نازله کړې ده چه کله تاسو دَ الله تعالیٰ آیتونه واورئ چه خلق په هغې

.................................

۱ـ سورة البقره : آیت ۱۳٦

۲ـ سورة البقره : آیت ۸۳ .

۳ـ سورة النساء : آیت ۱۴۰ .

پسې تېوقې او استهزاء كوى نو دداسې خلقو سره ناسته مهٔ كوئ تردې پورې چه هغوى په څهٔ بله خبرته كښې اولګى ( اوكهٔ داسې نهٔ وى ) نو تاسو به هم دَ دوى په شان شئ . " ) او بيا ئې دَ هيرې دَ ځاىٔ استثناء اوكړه چنانچه فرمائى : ﴿ واما ينسنك الشيطان فلا تقعد بعد الذكرىٰ مع القوم الظالمين ﴾ ۱ـ ( او كهٔ چرې ستاسو نه شيطان هير كړى ، او تاسو له دوى سره كيناستئ ، نو دَ ياد راتلو نه بعد ددې ظالم قوم سره مهٔ كينئ . " ) او فرمائى : ﴿ فبشر عباد 0 الذين يستمعون القول فيتبعون احسنه ، اولئك الذين هدىٰ هم الله ، واولئك هم الباب 0 " ﴾ ۲ـ ( زما هغه بندګانو ته بشارت وركړه چه خبره آورى نو دَ هغې دَ ښهٔ جانب اتباع كوى ، دا هم هغه خلق دى كومو ته چه الله تعالىٰ هدايت كړې دې ، او هم دا هغه خلق دى كوم چه دَ عقل خاوندان دى . " ) او فرمائى : ﴿ قد افلح المؤمنون 0 الذين هم فى صلوتهم خٰشعون 0 " ﴾ اِلىٰ قوله ﴿ هم للزكوة فٰعلون ﴾ ۳ـ ( مؤمنين كامياب شول ، دا هغه خلق دى كوم چه په مونځونو كښې خشوع كوى ، او دَ لغو خبرو نه اعراض كوى ، او چه زكوة ادا كوى ) . "

............................................................

۱ـ سورة الانعام : آيت ۶۸ .

۲ـ سورة الزمر : آيت ۱۷ ، ۱۸ .

۳ـ سورة المؤمنون : آيات ۱ ــ ۴

او الله تعالىٰ په سترګو باندې فرض کړې دی چه په هغې باندې به حرام ځيز ته نهٔ ګورى ، او دَ کوم ځيز نه چه الله تعالىٰ سترګې منع کړې دى دَ هغې نه به تيتېږى ، چنانچه الله تعالىٰ ددې په باره کښې فرمائيلى دى : ﴿ قُل للمؤمنين يغضوا من ابصٰرهم ويحفظوا فروجهم ﴾ ۱ـ ( مؤمنانو ته اووايه چه هغوى خپلې سترګې خکته ساتى او دَ خپلو شرمګاهونو دې حفاظت کوى ...... او مؤمناتو ته اووايئ چه هغوى خپلې سترګې خکته ساتى ، او دَ خپلو شرمګاهونو حفاظت کوى . الخ ) يعنى ددې خبرې نه دې خپلې سترګې محفوظ ساتى چه دَ بل شرمګاه ته ګورى يا خپله خپلې شرمګاه ته نظر اوکړى . او وائى چه په کتاب الله کښې چه کومه هم دَ شرمګاه حفاظت دې نو هغه دَ زنا نه دې ، مګر دا آيت دَ نظر نه دې .

پس دا هغه خبره ده کومه چه الله تعالىٰ په دواړو سترګو باندې فرض کړې ده ، يعنى دې لره پست او خکته ساتل ، او دا دَ سترګې عمل دې او دَ ايمان نه دى . "

بيا چه په زړهٔ ، غوږ او نظر باندې څهٔ فرض دى دَ هغې خبر ئې صرف په يو آيت کښې ورکړې دې ، چنانچه الله تعالىٰ ددې په باره کښې فرمائيلى دى : ﴿ ولا تقف ما ليس لك به علم ان السمع والبصر والفؤاد کل اولٰئك کان عنه مسئولًا ﴾ ۲ـ

.........................................

۱ـ سورة النور : آيات : ۳۰ ، ۳۱ . ۲ـ سورة الاسراء : آيت ۳٦ .

( او دَ کومې خبرې چه تاته علم نهٔ وی په هغې پسې کیږه مهٔ ، بیشک غوږ او سترګې او زړهٔ ، ددې ټولو په باره کښې تپوس کولې شی . )

امام شافعی رحمه الله اوفرمائیل : او په شرمګاه باندې ئې فرض کړې دی چه دَ الله تعالیٰ دَ حرام کړده څیزونو سره به نهٔ لګی ، مسه به ورسره نهٔ کوی ﴿ والـذین هم لفروجهم حفظون ﴾ ۱ـ ( اودَ خپلو شرمګاهونو حفاظت کوی ) او فرمائی : ﴿ وما کنتم تستترون ان یشهد علیکم سمعکم ولا ابصٰرکم ولا جلودکم ﴾ ۲ـ

( او تاسو ددې خبرې نه نهٔ شئ پټیدلې چه په تاسو باندې به خپل غوږونه ، خپل سترګې او ستاسو څمړې ګواهی ورکړی . " ) دَ څمړې او دَ څرمن نه مراد شرمګاه او پټون ( ورون ) دې .نو دا هغه څیز دې چه الله تعالیٰ په شرمګاه باندې فرض کړې دی ، یعنی چه کوم څیزونه الله تعالیٰ په دې باندې منع کړې دی دَ هغې نه حفاظت او دا دَ هغې عمل دې .

امام شافعی رحمه الله اوفرمائیل : او په لاسونو باندې الله تعالیٰ دا فرض کړې دی چه الله تعالیٰ کوم څیزونه حرام کړې دی چه هغه لاسونه اونهٔ نیسی ، بلکه هغه څیز اونیسی دَ کوم څیز چه ورته

..................................................

۱ـ سورة المؤمنون : آیت ۵

۲ـ سورة فصلت : آیت ۲۲

الله جل شانه حکم کړې دې ، يعنی صدقه ، صله رحمی ، جهاد فی سبيل الله ، او دَ مونځ دپاره پاکی . چنانچه ددې په باره کښې فرمائی : ﴿ يٰايها الذين ا‌منوا اذا قمتم الی الصلوة فاغسلوا وجوهکم وايديکم الی المرافق ﴾ ۱۔ ( اې ايمان والو کله چه تاسو دَ مونځ جانب ته پاسيږئ نو خپل مخونه او څنګلو پورې خپل لاسونه اووينځئ . الخ ) او فرمائی ﴿ فاذا لقيتم الذين کفروا فضرب الرقاب حتیٰ اذا اثخنتموهم فشدوا الوثاق فاما منا بعد واما فداءً ﴾ ۲۔ ( کله چه تاسو دَ کفارو سره ملاقی شئ ( نو اول کار ) څټونه وهل دی ، تردې پورې چه کله تاسو هغوی لره ښۀ په قابو کښې راولئ نو په مضبوطيا سره ئې اوتړئ ، ددې نه بعد يا احسان کول دی يا فديه اخستل دی . ) څکه چه وهل ، تړکول ، صله رحمی ، صدقه دَ لاس کارونه دی .

او په دوارو خپو باندې ئې فرض کړې دی چه کوم ځيزونه الله تعالیٰ حرام کړې دې هغه ځيزونه ته دې تلل نۀ کوی . چنانچه ددې په باره کښې ئې فرمائيلی دی ﴿ ولا تمش فی الارض مرحًا انك لن تخرق الارض ولن تبلغ الجبال طُولًا ﴾ ۳۔ ( تۀ په دې زمکه کښې په غرور سره مۀ ګرځه ، نۀ تۀ زمکه څيرې کولې شې او نۀ دَ غرونو بلندئ ته رسيدلې شې . )

............................................

۱۔ سورة المائده : آيت ٦ ۲۔ سورة محمد : آيت ۴ .

۳۔ سورة الاسراء : آيت ۳۷ .

او په مخ باندې ئې دا فرض کړې دی چه الله تعالیٰ دې دَ شپې او دَ ورځې او دَ مونځ په وختونو کښې سجده کوی . چنانچه ددې په باره کښې فرمائی : ﴿ يٰأ يها الذين اٰمنوا اركعوا واسجدوا واعبدوا ربكم وافعلوا الخير لعلكم تفلحون ﴾ ١ـ ( او اې ايمان والو ركوع كوئ او سجده كوئ ، او دَ خپل رب عبادت اوكړئ ، او نيكى كوئ ددې دپاره چه تاسو كامياب شئ ) او فرمائى ﴿ وان المساجد لله فلا تدعوا مع الله احدًا ﴾ ٢ـ ( او جماتونه دَ الله تعالىٰ دپاره دى ، پس دَ الله تعالىٰ سره څوك شريك مهٔ بلئ . " ) دَ مساجد نه مراد تندې وغيره هغه اعضاء او اندامونه دى ، په كومو باندې چه ابن آدم سجده كوى .

امام شافعى رحمه الله فرمائى : چه دا خو هغه څيزونه دى كوم چه الله تعالىٰ په دې اعضاؤ باندې فرض كړې دى .

او الله تعالىٰ پاكئ او مونځ ته په قرآن مجيد كښې ايمان وئيلى دى او دا په هغه وخت كښې كله چه الله تعالىٰ دَ خپل نبى ﷺ مخ دَ بيت المقدس جانب دَ جانب نه په مانځهٔ كښې واړولو ، او ورته كعبې طرفته دَ مونځ كولو حكم وركړو ، او مسلمانانو شپاړس مياشتې بيت المقدس طرف ته مونځونه كړې وو ، نو هغوى رسول

........................................

١ـ سورة الحج : آيت ٧٧ .

٢ـ سورة الجن : آيت ١٨ .

الله ﷺ ته اووئيل : تاسو مونږ ته دا اووايئ چه کوم مونځونه مونږ بيت المقدس طرف ته کړي دي دَ هغې به څهٔ حال وی ؟ په دې باندې الله جل شانه دا آيت نازل کړو . ﴿ وما كان الله ليضيع ايمانكم الىٰ آخره ﴾ ۱ـ يعنى الله تعالىٰ ستاسو ايمان يعنى بيت المقدس ته مونځ کول نهٔ ضائع کوی . بيشکه الله تعالىٰ په خلقو باندې رؤف او رحيم دې " تردې پورې چه الله تعالىٰ دَ مونځ نوم ايمان کيخودلې دې ، لهٰذا څوك چه دَ خپلو مونځونو حفاظت کوی ، دَ خپلو اندامونو حفاظت کوی ، دَ هر اندام نه دَ الله تعالىٰ حکم او دَ هغهٔ مقرر کړه فرض ادا کوی ، او کامل الايمان دَ الله تعالىٰ سره ملاؤ شی نو داسې کس دَ اهلِ جنت والو نه دې . او څوك چه دَ الله تعالىٰ حکم قصدًا پريږدی نو هغهٔ به دَ الله جل شانه سره ناقص الايمان ملاويږی . امام شافعی رحمه الله هغه کس ته اوفرمائيل چه آيا تهٔ اوس دَ ايمان په نقصان او اتمام باندې پوهه شوې ؟

امام شافعی رحمه الله فرمائيلی دی :

﴿ واذا ما انزلت سورة فمنهم من يقول ايكم زادته هٰذه ايمانًا فاما الذين اٰمنوا ايمانًا وهم يستبشرون O واما الذين فى قلوبهم مرض فزادتهم رجسًا الىٰ رجسهم وماتوا وهم كافرون ﴾ ۲ـ

---

۱ـ سورة البقرة : آيت ۱۴۳ .

۲ـ سورة التوبه : آيات ۱۲۴ ، ۱۲۵ .

( کله چه يو سورت نازليږی نو په هغوی کښی بعضِ وائی چه په تاسو کښی چالره دې سورت په ايمان کښی زيات کړې دې ؟ نو کومو خلقو چه ايمان راوړې دې نو دا سورت هغوی لره په ايمان کښی زياتی کوی او هغوی خوشاليږی ، ليکن دَ کومو خلقو چه په زړونو کښی مرض دې نو دَ هغوی په ګندګئ کښی نوره هم اضافه کيږی او هغوی په داسې حال باندې مری چه هغوی کافران وی )

او فرمائی : ﴿ انهم فتية اٰمنوا بربهم وزدنٰهم هُدًى ﴾ ١ـ ( دا ځو نوجوانان وو کومو چه په خپل رب باندې ايمان راوړې وو ، او مونږ دَ هغوی په هدايت کښی نوره هم اضافه اوکړه . " )

امام شافعی رحمه الله فرمائی کۀ چرې ايمان ټول په ټوله يو وې ، او په دې کښی کمی زياتی نۀ شوه کيدې نو په دې کښی به چاته هم فضيلت نۀ وو حاصل ، ټول خلق به برابر وو او تفضيل به باطل وو ، ليکن دَ ايمان په پوره او کامل کيدو سره مؤمنين په جنت کښی داخل شول ، او په ايمان کښی دَ زيادت په وجه سره دَ الله تعالیٰ په نزد باندې دَ جنت په درجاتو کښی مؤمنان متفاضل شول ، او په ايمان کښی دَ کوتاهئ او کمی کولو والا په جهنم کښں داخل شول .

امام شافعی رحمه الله فرمائی چه الله تعالیٰ په خپلو بندګانو کښی مسابقه کړې ده ، لکه ځنګه چه دَ آسونو مقابله وی او دَ اسونو په درميان کښی مسابقه کيږی ، بيا دا خلق دَ خپل سبقت په حساب

---

١ـ سورة الكهف : آيت ١٣ .

سره په خپلو درجاتو کښې دی ، چنانچه هر بنده ئې دَ خپلې درجې مطابق ایخې دې او په دې کښې ئې دَ هغۀ هيڅ حق کم کړې نۀ دې ، او نۀ ئې څوك مسبوق په سابق باندې مقدم کړې دې او نۀ ئې څوك مفضول په فاضل باندې ، او هم ددې په وجه سره ئې ددې امت اول ته په آخر باندې فضيلت ورکړې دې ، او کۀ چرې ايمان طرف ته سبقت کولو والا تـه دَ هغې نه موخر كيدلو والا باندې فضيلت نۀ وو نو ددې امت آخر به دَ اول سره لاحق كيدونكې وو . ۱ ـ

## دَ :صحابۀ کرامو په باره کښې دَ امام شافعیؒ اقوال :

﴿۱﴾ ...... امام بیهقی دَ امام شافعی رحمه الله نه روایت کړې دې چه هغوی فرمائیلی دی : " الله تعالیٰ وتبارك په قرآن مجيد ، تورات او انجيل کښې دَ نبی پاك ﷺ دَ صحابۀ کرامو ثناء کړې ده ، او خپله دَ رسول الله ﷺ دَ ژبې مبارکې نه هم دَ دوی دپاره داسې فضيلت سبقت کړې دې ، چه هغه دَ دوی نه بعد دَ بل چا دپاره نۀ دې ، پس الله جل شانه دې په هغوی باندې رحم اوکړی ، او دوی لره دې دَ صديقين ، شهداء او صالحينو مراتبو او اعلیٰ منازلو ته اورسوی او ددې په باره کښې چه کوم فضل راغلې دې په هغې سره دې الله تعالیٰ شاد کړی ، دوی مونږ تـه دَ رسول الله ﷺ سنت رارسولې دی او دَ رسول الله ﷺ ئې په داسې حال کښې مشاهده کړې ده کله چه به په هغوی باندې

.................................

۱ ـ مناقب الشافعیؒ (۱/ ۳۸۷ ، ۳۹۳ )

وحی نازلیدله، پس صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم دَ رسول الله ﷺ مراد او پیژندلو. چه دَ هغوی ﷺ ارشاد عام دې یا خاص. عزیمت دې او کهٔ ارشاد. او هغوی ته دَ رسول الله ﷺ هغه سنت معلوم شول کوم چه مونږ ته معلوم شول او هغوی ته هم معلوم شوې دی، هغوی په هر علم او اجتهاد کښې، په ورع او عقل کښې او په هر هغه معامله کښې چه په هغې سره دَ څهٔ علم استدراك او استنباط اوکړې شی، زمونږ نه زیات دی. او دَ صحابهٔ کرامو رائې زمونږ دپاره زیات لائق دَ حمد او زمونږ په نزد زمونږ دَ خپلو رأیو نه زیات بهتر دی. والله اعلم .“١ـ

﴿٢﴾ ...... او بیقهی دَ ربیع بن سلیمان نه روایت کړې دې فرمائی چه ما دَ امام شافعی رحمه الله نه روایت کړې دې چه ما دَ امام شافعیؒ نه آوریدلې دی چه هغوی په تفضیلِ صحابه کښې داسې فرمائیل: ”ابوبکر او عمر او عثمان او علی رضی الله عنهم. “ ٢ـ

﴿٣﴾ ...... او امام بیهقی دَ محمد بن عبد الله بن عبد الحکم ٣ـ نه روایت کړې دې چه ما دَ امام شافعی رحمه الله نه اوریدلې دی

---

١ـ مناقب الشافعی (١/ ٤٤٢)

٢ـ مناقب الشافعی (١/ ٤٣٢)

٣ـ دا محمد بن عبد الله بن عبد الحکم مصری ابو عبد الله دې، دَ دوی په باره کښې شیرازی فرمائی چه دهٔ دَ امام شافعی رحمه الله سره وخت تیر کړې دې، دَ هغویؒ نه ئې فقاهت حاصل کړې دې، په ٢٦٢ هجری کښې وفات شوې دې.

چه هغوی فرمائیل : " چه دَ رسول الله ﷺ نه بعد افضل حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دي بیا حضرت عمرؓ، بیا حضرت عثمان غنیؓ او بیا حضرت علی کرم الله وجهه دي ." ۱ـ

﴿۴﴾...... او هروی دَ یوسف بن یحییٰ بویطی نه روایت کړې دي فرمائی چه ما دَ امام شافعی رحمه الله نه تپوس اوکړو چه آیا زهٔ دَ رافضی په اقتداء کښې مونځ اوکړم ؟ هغوی راته اوفرمائیل : دَ رافضی او قدری ( منکرِ تقدیر ) او مرجئی پسې مونځ مهٔ کوه . ما ورته اووئیل چه تاسو ماته دَ هغوی اوصاف بیان کړئ ، هغوی اوفرمائیل : څوك چه وائی ایمان قول دي نو هغه مرجئی دي ، او چه څوك وائی چه ابوبکر او عمر رضی الله عنهما امامان نهٔ دی نو هغهٔ رافضی دي ، او څوك چه مشیئت ځان طرف ته قرار ګرځوی نو هغه قدری دي ." ۲ـ

## خ : په دین کښې دَ خبرو او جنګ جګړو نه دَ امام شافعیؒ ممانعت :

﴿۱﴾ ...... هروی دَ ربیع بن سلیمان نه روایت کړې دي چه ما دَ امام شافعی رحمه الله نه آوریدلې دی چه هغویؒ فرمائیل : کهٔ چرې

..............................................................

۱ـ مناقب الشافعی رحمه الله ( ۱/ ۴۳۳ )

۲ـ ذم الکلام ( ورقه ــــ ۲۱۵ ) دې لره ذهبی په سیر ( ۱۰/ ۳۱ ) کښې ذکر کړې دي .

یو کس دَ خپل علم دَ کتابونو وصیت بل ته اوکړی ، او په دې کښی دَ علمِ کلام کتابونه هم موجود وو نو هغه به په وصیت کښی داخل نهٔ وی ، ځکه چه هغه (علمِ کلام) علم نهٔ دې . "۱ـ

﴿۲﴾ ...... او هروی دَ حسن زعفرانی نه روایت کړې دې وائی چه ما دَ امام شافعی رحمه الله نه واوریدل هغوی فرمائیل : ما په علمِ کلام کښی دَ چا سره چرته مناظره نهٔ ده کړې مګر صرف یو ځل ، او زهٔ دَ هغې په باره کښی هم دَ الله تعالیٰ نه معافی غواړم . " ۲ـ

﴿۳﴾ ...... او هروی دَ ربیع بن سلیمان نه روایت کړې دې چه امام شافعی رحمه الله فرمائیلی دی کهٔ چرې زهٔ غواړم چه په هر مخالف باندې یو لوی کتاب تیار کړم نو کولې شوم ، لیکن کلام زما دَ شان نه نهٔ دې ، او زهٔ دا نهٔ خوښوم چه دَ هغې دې څهٔ څیز زما طرف ته منسوب وی . " ۳ـ

﴿۴﴾ ...... او ابن بطه دَ ابو ثور نه روایت کړې دې چه ما ته امام شافعی رحمه الله اوفرمائیل : ما هیڅوک نهٔ دی لیدلی چه هغه دَ څهٔ کلام خادر دَ ځان نه تاؤ کړې وی او بیا په هغې کښی کامیاب شوې

---

۱ـ ذم الکلام (ورقه ــ ۲۱۳) دې لره ذهبی هم په سیر (۱۰/ ۳۰) کښی ذکر کړې دی .

۲ـ ذم الکلام (ورقه ــ ۲۱۳) دې لره ذهبی هم په سیر (۱۰/ ۳۰) کښی ذکر کړې دی .

۳ـ ذم الکلام (ورقه ـ ۲۱۵)

وی . " ۲ـ

﴿۵﴾...... او هروی دَ یونس مصری نه روایت کړې دې وائی چه امام شافعی رحمه الله اوفرمائیل : چه الله تعالیٰ یو بنده دَ شرك نه علاوه په خپل هر منع کؤنکی څیز کښې مبتلا کړی دا دَ هغهٔ دپاره بهتر دی ددې نه چه په کلام کښې مبتلا شی . " ۱ـ

دَ اصولِ دین په مسائلو کښې دادی دَ امام شافعی رحمه الله په اقوالو کښې ، او دَ علمِ کلام په باره کښې دا دَ هغوی موقف دې . "

★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★

١ـ الابانة الکبریٰ ص ۵۳۵ ، ۵۳٦ .

۲ـ مناقب الشافعی لابن ابی حاتم ص ۱۸۲ .

# ✪ پنځم مبحث ✪

# دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله عقيده

## الف : دَ توحيد په باره کښې دَ هغوی ؒ اقوال :

﴿۱﴾ ...... په طبقات الحنابله ۱ ـ کښې دی چه دَ امام احمد رحمه الله نه دَ توکل په باره کښې تپوس اوکړې شو نو هغوی اوفرمائيل : " دَ مخلوق نه دَ مايوسئ سره استشراق قطع کول . "

﴿۲﴾ ...... او دَ حنبل په کتاب المحنه ۲ ـ کښې دی چه امام احمد رحمه الله فرمائيلی دی چه الله تعالیٰ هميشه دپاره متکلم پاتې شوې دې ، او قرآن مجيد دَ الله عز وجل کلام دې ، مخلوق نهٔ دې ، او په هر جهت باندې دې ، او الله عزوجل چه خپله خپل ځان په کومو څيزونو سره متصف فرمائيلی دې نو هغهٔ به هم په هغه څيزونو سره متصف کولې شی . "

...................................................................

۱ ـ طبقات الحنابله (۱/ ۱٦۶)

۲ ـ کتاب المحنه ص ٦۸ .

﴿۳﴾..... او ابن ابی یعلی دَ ابوبکر مروزی نه نقل کړې دی چه ما دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله نه دَ هغه احادیثو په باره کښی تپوس اوکړو کوم چه جهمیه دَ صفات او رؤیت او دَ اسراء او عرش دَقصې په سلسله کښی مسترد کوی ، نو هغوی هغه احادیثو ته صحیح اوفرمائیل . او وې فرمائیل چه امت دې لره قبول کړې دی ، او دا خبرې چه هم څنګه وارد شوې دی هم هغه شان به تیریږی . " ۱ ـ

﴿۴﴾ ..... او عبد الله بن احمد په کتاب السنه کښی وئیلی دی چه امام احمد رحمه الله فرمائیلی دی : " کوم یو کس چه دا ګنړی چه الله تعالیٰ کلام نهٔ کوی نو هغهٔ کافر دې ، البته مونږ دا احادیث هم داسې روایت کوو لکه څنګه چه راغلې دی . " ۲ ـ

﴿۵﴾..... او لالکائی دَ حنبل ۳ ـ نه روایت کړې دې چه هغوی دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله نه دَ رؤیت ( دَ قیامت دَ ورځې دَ الله تعالیٰ دَ دیدار ) په باره کښی سوال اوکړو نو هغوی راته اوفرمائیل : په صحیح احادیثو باندې مونږ ایمان راؤړو او دَ هغې اقرار کوو او کوم څهٔ چه زمونږ دَ نبی ﷺ نه په عمده سند سره مروی دی مونږ په هغې باندې ایمان راؤړو او دَ هغې اقرار کوو . " ۱ ـ

..............................................................

۱ ـ طبقات الحنابله (۱/ ۵٦)

۲ ـ السنه ص ۷۱ ( مطبوعه دار الکتب العلمیه ) .

۳ ـ دا حنبل بن اسحاق بن حنبل بن هلال بن اسد ، ابو علی شیبانی دې . دَ دوی متعلق خطیب وائی چه دا ثقه دې ، ثبت دې ، په ۲۷۲ هـ کښی وفات دې .

﴿٦﴾ ...... او ابن جوزي په مناقب کښې دَ مسدد ۱ـ په نامه دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله مکتوب ذکر کړې دې ، او په هغې کښې دی چه " الله تعالیٰ هم په هغه څیز سره متصف کوئ په کوم سره چه هغهٔ خپل ذات خپله متصف کړې دې ، او دَ الله جل شانه نه دَ هغه څیز نفي کوئ دَ کوم څیز چه هغهٔ دَ ځان نه خپله نفي کړې ده . " ............ ۲ـ

﴿۷﴾ ...... او دَ امام احمد رحمه الله په کتاب الرد علی الجهمیه کښې دَ هغویٓ قول دې چه : " جهم بن صفوان دا ګنړلې دی چه څوك الله تعالیٰ له په څهٔ داسې څیز سره متصف کړی ، په کوم سره چه هغهٔ خپل ذات خپله په خپل کتاب کښې متف کړې دې ، او کوم چه رسول الله ﷺ بیان فرمائیلی دی نو هغهٔ به کافر کیږی ، او دې به دَ مشبهؤ نه وی . " ۳ـ

﴿۸﴾ ...... او ابن تیمیه په خپل کتاب درء کښې دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله قول نقل کړې دې چه : " مونږ په دې خبره باندې

..............................................

۱ـ دا مسدد بن مسرهد بن مسربل اسدی بصری دې ، امام ذهبی رحمه الله دَ دوی په باره کښې لیکی : " امام ، حافظ ، حجت ." ۲۲۸ هجرئ کښې وفات شوې دې . سیر اعلام النبلاء ( ۱۰ / ۵۹۱ ) دَ دوی ترجمه په تهذیب التهذیب کښې اوګورئ .

۲ـ مناقب الامام احمد ص ۲۲۱ .

۳ـ الرد علی الجهمیه ص ۱۰۴ .

ایمان لرو چه الله تعالیٰ په عرش باندې دې لکه چه هغهٔ غوښتلې ده او څهٔ رنګه چه ئې غوښتلې ده م بغیر دَ څهٔ حد او بغیر دداسې صفت نه چه هغې ته بیانولو والا رسیدې شی ، یا څوك حد مقرر کولو والا دَ هغې حد مقرر کولې شی ، پس دَ الله تعالیٰ صفات هم دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دی او هم دَ هغهٔ دپاره دی ، او دا هم هغه شان ده څنګه چه هغهٔ خپل ځان متصف کړې دې ، هغې لره دَ دنیا سترګې نهٔ شی لیدې . " ۱ـ

﴿۹﴾...... او ابن ابی یعلیٰ دَ امام احمد رحمه الله نه دا خبره ذکر کړې ده چه هغوی فرمائیلی دی : کوم کس چه دا ګنړی چه الله تعالیٰ به په آخرت کښې نهٔ شی لیدلې کیدې نو هغهٔ کافر دې ، دَ قرآن مجید تکذیب کولو والا دې . " ۲ـ

﴿۱۰﴾...... او ابن ابی یعلیٰ دَ عبد الله بن احمد نه ذکر کړې دی چه ما دَ خپل پلار ( احمد بن حنبل رحمه الله ) نه دَ هغه خلقو په باره کښې تپوس اوکړو چه کله الله تعالیٰ دَ موسیٰ علیه السلام سره کلام اوکړو ، نو دَ څهٔ آواز سره ئې کلام نهٔ وو فرمائیلی . نو زما والد صاحب اوفرمائیل : " الله تعالیٰ دَ آواز او صَوت سره کلام فرمائیلی وو ، او دا احادیث مونږ هم هغه شان روایت کوو ، لکه څنګه چه وارد شوې دی .۳ـ

---

۱ـ درء تعارض العقل والنقل ( ۲/ ۳۰ )

۲ـ طبقات الحنابله ( ۱ / ۵۹ ، ۱۴۵ )

۳ـ طبقات الحنابله ( ۱/ ۱۸۵ )

﴿١١﴾...... او لالكائى دَ عبدوس بن مالك العطار نه روايت كړې دې هغوى وائى چه ما دَ ابو عبد الله احمد بن حنبل رحمه الله نه آوريدلې دى هغوىؒ فرمائيل چه : " او قرآن مجيد دَ الله جل شانه كلام دې ، مخلوق نۀ دې ، او تاسو په دې وئيلو سره كمزور كيږئ مۀ چه هغه مخلوق نۀ دې ، ځكه چه دَ الله كلام هم دَ هغۀ نه دې ، او هر هغه څيز كوم چه هم دَ الله تعالىٰ نه دې هغه مخلوق نۀ دې . " ١ـ

## ب : دَ تقدير په باره كښې دَ امام احمدؒ قول :

﴿١﴾...... ابن جوزى په مناقب كښې دَ مسدد په نوم باندې چه كوم مكتوب ذكر كړې دې ، په هغې كښې دى چه : " په ښۀ او په بد ، په خوږ او تريخ تقدير باندې ايمان لرئ ځكه چه دا دَ الله تعالىٰ دَ طرف نه دى . " ٢ـ

﴿٢﴾ ...... او خلال دَ ابوبكر مروزى نه روايت كړې دې وائى چه : " دَ ابو عبد الله احمد بن حنبل رحمه الله نه تپوس اوكړې شو نو هغوى اوفرمائيل : خير او شر په بندګانو باندې مقدر دې ، هغوى ته اووئيلى شو : الله تعالىٰ خير او شر پيدا كړې دې ؟ هغوى ورته اوفرمائيل : الله تعالىٰ دې لره مقدر كړې دى ." ٣ـ

﴿٣﴾...... او دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله په كتاب السنه

---

١ـ شرح اصول اعتقاد اهل السنة والجماعت (١/ ١٥٧)

٢ـ مناقب الامام احمد ص ١٦٩ ، ١٧٢ ، طبع دار الآفاق الجديده .

٣ـ السنة للخلال (ورقه ـ ٨٥)

کښې دَ هغوی دا قول دې : " ښۀ او بد ، لږ او زيات ، ظاهر او باطن ، خوږ او تريخ ، خوښ او ناخوښ ، اول او آخر دا ټول تقدير دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه يوه فيصله ده چه دې لره ئې په خپلو بندګانو باندې نافذ کړې ده ، او يو تقدير دادې کوم چه ئې مقدر کړې دې ، هيڅوك دَ الله تعالیٰ دَ مشيئت نه وړاندې نۀ شی تلې ، او نۀ دَ هغۀ دَ فيصلې نه تجاوز کولې شی . " ۱ـ

﴿۴﴾...... او خلال دَ محمد بن ابی هارون نه او هغوی دَ ابو الحارث نه روايت کړې دې چه ما دَ ابو عبد الله احمد بن حنبل رحمه الله نه آوريدلې دی هغوی فرمائيل : " پس الله جل شانه طاعت او معصيت مقدر کړې دی ، او خير او شر ئې مقدر کړې دی ، او څوك چه ئې نيك بخت ليکلی دی نو هغه نيك بخت دی او څوك چه ئې بدبخت ليکلی دی نو هغه بدبخت دی . " ۲ـ

﴿۵﴾...... عبد الله بن احمد بن حنبل رحمه الله وائی چه ما دَ خپل پلار احمد بن حنبل رحمه الله نه اوريدلې دی ، او دَ هغوی نه علی ابن جهم دَ هغه کس په باره کښې تپوس کړې وو کوم چه دَ انکارِ تقدير قائل وو چه آيا هغۀ کافر دې ؟ امام احمد بن حنبل رحمه الله ورته اوفرمائيل چه : " کله چه هغۀ دَ علم انکار کوی . چه کله دا وائی چه الله تعالیٰ ته علم نۀ وو تردې پورې چه علم ئې پيدا کړو نو بيا ئې

..............................

۱ـ السنة ص ۶۸ .

۲ـ السنه للخلال ( ورقه ـ ۸۵ )

هغه اوپيژندلو نو هغهٔ دَ الله تعالىٰ دَ علم انكار كړې دې ، لهٰذا دا كافر دې . "١ـ

﴿٦﴾..... عبد الله بن احمد وائى چه يو ځل ما دَ خپل والد صاحب رحمه الله نه تپوس اوكړو چه قدرى ( منكر تقدير ) پسې مونځ كول څنګه دى ؟ هغوى اوفرمائيل : " كهٔ چرې هغهٔ ددې په باره كښې مخاصمه كوى او دې طرف ته خلق رابلى نو هغهٔ پسې اقتداء كښې مونځ مهٔ كوه . " ٢ـ

## ج : دَ ايمان په باره كښې دَ امام احمدؒ قول :

﴿١﴾..... ابن ابى يعلى دَ امام احمد نه دا خبره نقل كړې ده چه هغوى اوفرمائيل : " دَ ايمان دَ افضل ترين خصلتونو نه دَ الله تعالىٰ دپاره محبت او دَ الله تعالىٰ دَ پاره بغض دې . " ٣ـ

﴿٢﴾..... او ابن جوزى دَ امام احمد بن حنبلؒ نه ذكر كړې دى چه هغوى اوفرمائيل : " ايمان كميږى او زياتيږى لكه څنګه چه په حديث مبارك كښې راځى . (( اكمل المؤمنين ايمانًا احسنهم خلقًا )) ٤ـ (دَ مؤمنانو نه كامل ايمان والا هغهٔ كس دې چه هغه په اخلاقو كښې دَ ټولو نه افضل دې) . " ٥ـ

.................................

١ـ السنة بعبد الله بن احمد ص ١١٩ .

٢ـ السنة ( ١ / ٣٨٤ )

٣ـ طبقات الحنابله ( ٢/ ٢٧٥ )

٤ـ امام احمد په خپل مسند كښى ( ٢/ ٢٥٠ ) ابو داود كتاب السنة ٥/ ٦٠ .

﴿۳﴾...... او خلال دَ سلیمان بن اشعث ۱ـ نه روایت کړې دې فرمائی چه ابو عبد الله احمد بن حنبل رحمه الله فرمائیلی دی : " مونځ ، زکوة او حج او نیکی دَ ایمان ځِنی دی ، او معصیت او ګناه په ایمان کښې نقص او کموالې راوَلی . " ۲ـ

﴿۴﴾......عبد الله بن احمد وائی چه ما مې دَ خپل والد صاحب رحمه الله نه دَ هغهٔ کس په باره کښې تپوس اوکړو کوم چه وائی ایمان قول او عمل دې او کمیږی او زیاتیږی لیکن هغه اِن شآء الله نهٔ وائی ، آیا داسې کس مرجئی دې ؟ هغوی اوفرمائیل : زهٔ اُمید کوم چه دا کس به مرجئی نهٔ وی ...... ما دَ خپل والد صاحب رحمه الله نه واوریدل هغوی فرمائیل : " چه دَ استثناء نهٔ کولو والا خلاف حجت دَ اهلِ قبور دپاره دَ رسول الله ﷺ دا قول دې : " وانا ان شآء الله بکم لاحقون " ۳ـ ( مونږ انشآء الله تاسو سره ملحق کیدونکی یو . " )

﴿۵﴾...... عبد الله ابن احمد وئیلی دی ما دَ خپل والد صاحب

---

۱ـ دا ابوداود سلیمان بن اشعث بن اسحاق سجستانی صاحب السنن دې ، دَ دوی متعلق امام ذهبیؒ وائی " امام ، ثبت سید الحفاظ " ۲۷۵ هجری کښې وفات شوې دې . تاریخِ بغداد ( ۹/ ۵۵ )

۲ـ السنة للخلال (ورقه ــ ۹٦)

۳ـ دې لره کتاب الجنائز ، باب ما یقال عند دخول القبور والدعاء لاهلها ۲/ ٦٦۹ . حدیث نمبر ۹۷۴ .

رحمه الله نه آوریدلې دی چه دَ هغوی نه دَ ارجاء په باره کښې سوال اوکړې شو نو هغوی اووئیل : " مونږ وایو چه ایمان قول او عمل دې ، کمې او زیاتې په کښې راځي ، کله چه بنده زنا اوکړی ، شراب اوڅښکی نو نقص په کښې راځي . " ۱ـ

## د : دَ صحابهٔ کرامو رض په باره کښې دَ امام احمد رح قول :

﴿۱﴾...... دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله په کتاب السنة کښیمذکوره خبرې راغلې دی : " دا خبره دَ سنتو نه ده چه دَ رسول الله ﷺ دَ تمام صحابهٔ کرامو رض محاسن دې بیان کړې شی ، او دَ هغوی دَ عیبونو او خامو دَ بیانولو نه منع شی ، او ددې اختلاف دَ ذکر کولو نه دې هم منع او بند شی کوم چه دَ صحابهٔ کرامو رض په خپل مابین کښې پیدا شوې وو ، لهذا کۀ چرې یو کس دَ رسول الله ﷺ صحابهٔ کرامو ته یا دَ هغوی رض نه بعضو ته رَد بد وائی نو داسې کس بدعتی دې ، رافضی دې ، خبیث دې ، جفاکار دې ، الله تعالیٰ به دَ هغۀ فرض او نفل نۀ قبلوی ، بلکه دَ صحابهٔ کرامو رض سره محبت کول سنت دی ، دَ هغوی دپاره دُعا کول قُربت دې ، دَ هغوی اقتداء کول وسیله ده ، او دَ هغوی دَ آثارو اختیارول فضیلت دې . "

بیا ئې اوفرمائیل " بیا دَ رسول الله ﷺ دَ اصحابِ چار ( څلور یارانو) نه بعد دَ تولو نه بهتر خلق دی ، دَ چا دپاره هم جائز نۀ دی چه دَ

........................................

۱ـ السنة لعبد الله بن احمد (۱/ ۳۰۷)

هغوی دَ خامیانو نه څۀ هم ذکر کړی ، او نۀ دا درست دی چه دَ هغوی نه په چا باندِ دَ عیب یا دَ نقص طعنه زنی اوکړی ، کۀ چرې څوك داسې اوکړی نو په سلطان باندې ضروری ده چه دَ هغۀ تادیب اوکړی ، او ورته سزا ورکړی ، دا نۀ چه هغۀ لره معاف کړی . ۱ـ

﴿۲﴾...... او ابن جوزی رحمة الله علیه چه دَ مسدد په نوم باندې دَ احمد کومه رساله ذکر کړې ده په هغې کښې دی : " او دا چه تاسو دَ عشره په باره کښې دا شهادت ورکړئ چه هغوی په جنت کښې داخل دی . یعنی ابوبکر ، عمر ، عثمان ، علی ، طلحه ، زبیر ، سعد ، عبد الرحمٰن بن عوف او ابو عبیده بن جراح رضی الله عنهم ، او دَ چا دپاره چه نبی کریم ﷺ دَ جنت شهادت ورکړې دې دَ هغوی دپاره به مونږ هم شهادت ورکوو . " ۲ـ

﴿۳﴾...... عبد الله بن احمد وائی چه ما دَ خپل والد صاحب رحمه الله نه دَ ائمه ؤ په باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی راته اوفرمائیل : ابوبکر ، بیا عمر بیا عثمان او بیا علی " ۳ـ

﴿۴﴾...... او عبد الله بن احمد وائی ما دَ خپل والد صاحب رحمه الله نه دَ هغه خلقو په باره کښې تپوس اوکړو کوم چه وائی چه حضرت علی رضی الله عنه خلیفه نۀ وو ، هغوی راته اوفرمائیل چه :

............................................................

۱ـ کتاب السنة للامام احمد ص ۷۷ ، ۷۸ .

۲ـ مناقب الامام احمد لابن الجوزی ص ۱۷۰ ، طبع دار الآفاق الجدیده .

۳ـ السنة ص ۲۳۵ .

دا ردی او بد قول دې . " ۱ـ

﴿۵﴾...... او ابن جوزی رحمه الله دَ احمد نه دا خبره ذکر کړې ده چه هغوی وئیلی دی چه : " څوك چه دَ حضرت علی رضی الله عنه خلافت ثابت نهٔ منی نو هغهٔ دَ خپل کور دَ خر نه هم زیات گمراه دې . " ۲ـ

﴿٦﴾...... او ابن ابی یعلی دَ احمد نه ذکر کړې دی چه هغوی وئیلی دی : " څوك چه علی بن ابی طالب رضی الله عنه څلورم خلیفه نهٔ منی دَ هغهٔ سره خبرې اترې مهٔ کوئ ، او دَ هغهٔ سره نکاح هم مهٔ کوئ . " ۳ـ

## خ : په دین کښې دَ خصومات او کلام نه دَ هغوی ممانعت :

﴿۱﴾...... ابن بطه دَ ابوبکر مروزی نه روایت کړې دې وائی چه ما دَ ابو عبد الله نه آوریدلې دی هغوی فرمائیل : " څوك چه کلام اخلی ( یعنی په دین کښې خبرې اترې کوی ) هغهٔ به کامیاب نهٔ وی ، او څوك چه کلام اخلی هغهٔ به دَ جهمی کیدو نه نهٔ بچ کیږی . " ۴ـ

..............................

۱ـ السنة ص ۲۳۵ .

۲ـ مناقب الامام احمد ص ۱٦۳ ، طبع دار الآفاق .

۳ـ طبقات الحنابله (۱/ ۴۵)

۴ـ الابانة (۲/ ۵۳۸

﴿۲﴾ ...... او ابن عبد البر رحمه الله په جامع بیان العلم کښې دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله نه دا خبره نقل کړې ده چه هغوی فرمائیلی دی ، صاحبِ کلام کله هم کامیاب کیدې نهٔ شی ، او قریبه ده چه تاسو به داسې کس اووینئ چه په کلام کښې به نظر لری مګر دَ هغهٔ په زړهٔ کښې فساد وی ." ۱۔

﴿۳﴾ ...... او هروی دَ حضرت عبد الله بن احمد بن حنبلؒ نه روایت کړې دې فرمائی چه زما والد صاحب عبید الله بن یحییٰ بن خاقان ۲۔ ته اولیکل چه زهٔ صاحبِ کلام نهٔ یم ، او ددې په هیڅ یو ځیز کښې هم زهٔ کلام کول درست نهٔ ګنړم ، مګر کوم چه دَ الله تعالیٰ په کتابٰ ( قرآن ) کښې وی ، یا دَ رسول الله ﷺ په حدیث کښې وی ، او کوم چه ددې نه علاوه وی نو په هغې کښې کلام کول محمود نهٔ دی . " ۳۔

﴿۴﴾ ...... او ابن جوزی دَ موسیٰ بن عبد الله طرسوسی نه روایت کړې دې فرمائی چه ما دَ احمد بن حنبل رحمه الله نه آوریدلې

............................................................

۱۔ جامع بیان العلم وفضله ۲/ ۹۵ . طبع دار الکتب العلیمه

۲۔ دا ابو الحسن عبید الله بن یحییٰ نم خاقان ترکی او بیا بغدادی دې . دَ دوی متعلق امام ذهبیؒ وائی : وزیرِ کبیر ...... دَ متوکل او معتمد وزیر . او دَ متوکل په نزد باندې ئې قبول او مرتبه موندلې وه ، فراخه زړهٔ او سخی وو . " . سیر اعلام النبلاء : ( ۱۳ / ۹ ) طبقات الحنابله ۱/ ۲۰۴ .

۳۔ ذم الکلام ( ورقه ـ ۲۱٦ ـ ب )

دی ، هغوی فرمائيل : دَ اهلِ کلام والو سره مجلاست مهٔ کوئ ، اگر چه هغوی دَ سنت مدافعت کوی ." ١ـ

﴿٥﴾..... او ابن بطه دَ ابو الحارث صائغ نه روايت کړې دې چه امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائيلی دی : " څوك چه کلام خوښوی دا به دَ هغهٔ دَ زړهٔ نه نهٔ ووځی ، او تاسو به څوك صاحبِ کلام نهٔ وينئ چه هغهٔ به کاميږی ." ٢ـ

﴿٦﴾..... او ابن بطه دَ عبيد الله بن حنبل نه روايت کړې دې فرمائی چه ماته مې زما پلار وئيلی دی چه ما دَ ابو عبد الله ( امام احمد ) نه اوريدلی دی چه : " تاسو سنت او حديث لازم اونيسئ ، الله تعالیٰ به تاسو ته ددې نه نفع درکوی ، او تاسو خلق دَ خوض او جدال او جنگ جگړې نه بچ اوساتئ ، ځکه چه څوك کلام ( په دين کښې خبرې اترې کول ) خوښوی هغهٔ کامياب کيدې نهٔ شی او څوك چه هم کلام ايجاد کوی دَ هغهٔ آخری انجام به بدعت طرف ته وی ، ځکه چه کلام خير طرف ته دعوت نهٔ ورکوی ، او زهٔ کلام او خوض وجدال نهٔ خوښوم ، او تاسو سنت او آثار او فقه لازم اونيسئ ، ددې نه به تاسو ته نفع اورسوی ، او کلام او جنگ جگړې پريږدئ ، مونږ خلقو لره موندلې دی چه هغوی به دې لره نهٔ پيژندل ، او دَ اهلِ کلام نه به کناره کَش اوسيدل ، او دَ کلام انجام خير طرف ته نهٔ راګرځی ، او الله تعالیٰ

........................

١ـ مناقب الامام احمد ص ٢٠٥ .

٢ـ الابانة لابن بطه (٢/ ٥٣٩)

دې مونږ او تاسو لره دَ فتنو نه اوساتی ، او مونږ او تاسو لره دې دَ هلاکت نه سالم اولری . "۱ـ

﴿۷﴾..... او ابن بطه په الابانة کښې دَ احمد رحمه الله نه ذکر کړې دی چه هغوی فرمائیلی دی : "کله چه تاسو یو کس اووینئ چه کلام خوښوی نو دَ هغهٔ نه ځان ساتئ . " ۲ـ

پس دادی دَ اصولِ دین په مسائلو کښې دَ امام احمد رحمه الله اقوال ، او دادې دَ علم کلام په باره کښې دَ هغوی موقف .

مترجم مولوی حضرت علی حنفی ابن حاجی هادی

[ نحققئ دوآبه ]

★★★ ..... ★★★ ..... ★★★

★★★★ ..... ★★★★

★★ ..... ★★

..... ★ .....

---

۱ـ الابانة لابن بطه (۲/ ۵۳۹)

۲ـ الابانة لابن بطه (۲/ ۵۴۰)